د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصيحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ايت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزگر**

د تأسيس نيټه: 1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media Center,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com


# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه


www.dawatmedia24.com
ISBN: 978-82-691395-2-5

April-June . 2024 Vol. 252 پرله پسې ګڼه ۲۵۲


**ملي سندره**

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

## د نجونو پر مخ د ښوونځيو بندېدلو پايلې، اغېزې او زيانونه

د طالبانو د بیاځلي واکمنۍ له دريیو کالونو ډېر وخت وشو، چې په راتګ سره يې په بیلابیلو بهانو او اوتوبوتو د افغان وطن په لوښو د ښوونځيو، پوهنتونونو او کار دروازې تړلې دي. سره له دې چې دا د افغان ولس د اکثريت مينډو پلرونو غوښتنه ده چې لوڼو ته يې بايد د ښوونځيو دروازې بشري او افغاني حق دی، پرانستل شي؛ خو طالب د افغانانو په دې غوښتنه پام نه کوي کله یوه پلمه او کله بله کوي چې یوه يې هم منطقي او د منلو نه ده. موږ دلته په لنډ ډول د ښوونځيو بندېدلو پايلې، اغېزې او زيانونه په ګوته کړي دي. ګوندې واکمن مخکې له دې چې ناوخته شي د اکثريت افغان ولس خبره واورې.

**په افغانستان کې د نجونو پر مخ د ښوونځيو بنديدل به کومې پايلې ولرې؟**

د افغان نجونو پر مخ د ښوونځيو بندېدل ګڼې جدي پايلې لري، چې په لاندې ډول دي:

ــ د تعليمي فرصتونو کمښت : د ښوونې له امکان څخه محرومې ښځې او نجونې به د تعليمي فرصتونو له لاسه ورکولو له امله د پوهې او مهارتونو کموالي سره مخ شي.

ــ اقتصادي اغېزې: کله چې ښځې تعليم ونه شي کولی، د اقتصادي فعاليتونو او دندو فرصتونه له لاسه ورکوي، چې دا به د هېواد خراب اقتصادي وضعيت ته لا ډېر زيان ورسوي.

-ټولنيز نابرابري: د نجونو د ښوونځيو بنديدل به د ټولنې په سطحه د نارينه و او ښځينه و جنسيتي نابرابري رامنځته کړي، چې په پايله کې به ټولنيز پرمختګ او عدالت ټکنی کړي.

ــ رواني ستونزې او ټولنيزې اغېزې يې: د ښوونې نشتوالي په پايلې کې، نجونې د جدي انزوا او افسردګۍ سره مخامخ کېږي، چې دا به د دوی رواني سلامتۍ ته ډېر زيان واړوي او هم به د تعليم نشتوالی د نور ډول ډول رواني ستونزو

پاتې په (۲۲ مخ) کې

**انجنير محمد عتيق ځاځی د دعوت سره په مرکه کې:**



## د طالبانو د نظام شکل د نړۍ په هيڅ ځای کې مثال نلري

(۳ مخ تر ۸ مخ پورې)



**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او يو موټي افغانستان په لور**

## دعوت میډیا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپريږي څوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنت په نړیواله شبکه‌زموږ ویبپاڼه

www.dawatmedia24.com

زموږ د بریښنا لیک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

**څنگه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پیسې) د بانک په پته راولیږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختگ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډگر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

## دعوت میډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنیز مرکز ویاړي چې د خپلو بېلابیلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وگرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تمامیت، ملي گټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنگر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وگړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او منلي مرکزی ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د گرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوگه کړۍ چې د دعوت میډیا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او گران افغانستان گوټ گوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندگي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

## انجنير محمد عتيق ځاځی د دعوت سره په مرکه کې:

# د طالبانو د نظام شکل د نړۍ په هيڅ ځای کې مثال نلري او نه په کوم حقوقي سند کې داسې نظام وجود لري کوم چې دوئ يې امارت اسلامي بولي

**پوښتنه: د افغانستان روان وضعيت ستاسو له نظره څنګه دی؟**

انجنير محمد عتيق ځاځی: ډير د خواشينې ځای دی چې پدې تيرو دريو کلونو کې طالبانو د موجوده طلايي چانس څخه د افغانستان د درديدلي هيواد او ملت په ګټه سمه استفاده ونکړه. طلايي چانس پدې معنی چې دوی وکولای شوای چې هيواد له هغو پخواني مفسدينو څخه پاک کړي، سرتاسري امنيت راولي، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د يوه لاس حاکميت ټينګ کړي او افغانستان ته له ممکنه ملوک الطوايفي او حتی تجزيې څخه نجات ورکړي. په پيل کې د دوی دې لاسته راوړنو ته هم د افغان ځوريدلي ملت لبيک ووايه او په قدر يې ورته کتل او هم نړيوالو په افغانستان کې د جنګ په پای کې د مثبت بدلون انتظار درلود. مګر طالبانو پخپله په هغو لاسته راوړنو پخپل لاس د افراطي ذهنيت داسې تور څادر واچاوو چې د افغان او جهان له نظره يې ځانونه وغورځول. ځکه چې يوازې د تير رژيم د مفسدينو تيښته او ظاهري امنيت دوی ته مشروعيت نشو ورکولای. ځکه نو د افغانستان اوسنی وضعيت ډير نا اميده کونکی دی، داسې چې حاکم نظام نه افغان ته غوږ نيسي او نه جهان ته. د طالبانو د نظام شکل د نړۍ په هيڅ ځای کې مثال نلري او نه په کوم حقوقي سند کې داسې نظام وجود لري کوم چې دوی يې امارت اسلامي بولي. ددوی په نظام کې له اميره تر مديره ټول ملايان دي، داسې چې پاته ملت هيڅ وجود ونلري يا دا چې دوی په بل چا اعتماد نلري. دوی وايي چې د دوی په نظام کې پنځه لکه پخواني مامورين کار کوي، دا ټول يوازې د ملايانو د لاس لاندې کارګران دي چې د پنځو روپيو صلاحيت نلري. تر اوسه پورې په ټوله نړۍ کې هيڅ هيواد يا نړيوال سازمان په رسميت ندی



پيژندلي، چې دا ډير د خواشينې ځای دی، لکه داسې چې په نړيواله ټولنه کې د افغانستان په نوم کوم هيواد هيڅ وجود ونلري. د فزيکي امنيت په بدل کې دوی له افغانانو څخه حتی ددوی ابتدايي انساني حقوق آخيستي دي. افغانان د خپلې ږيرې اختيار هم نلري، هغه هم بايد د ملايانو په خوښه جوړه کړي. ټول افغاني مروج فرهنګي فعاليتونه لکه موزيک، سينما، تياتر او حتی د پښتنو د پيړيو پيژندل شوی دود (اتڼ) يې بند کړی دی. د نجونو ښونځي بند شوي، ښځې له کار څخه منع کړل شوي او حتی د هلکانو په ښونځيو کې چندانې درس نشته، ځکه معلمان او کدرونه له هيواد څخه فراره شوي دي. مګر په عين زمان کې ديني مدرسې هره ورځ ډيريږي او خپريږي. که څه هم د افغان

مهاجرو سره په همسایه هیوادونو کې ډېر بد او غیر انساني چلند کېږي، مګر بیا هم ځوانان د مرګ خطر په ځان مني او هره ورځ په زروګونه لوستي ځوانان له بیکارۍ څخه له هیواده تښتي. څو ورځې مخکې مو واورېدل چې د ایران سرحدي قواوو ۲۶۰ کسه افغان ځوانان په ګولیو ویشتلي او وژلي یې دي. لنډه دا چې افغانستان د یو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او د تجرید د بحران سره مخامخ دی. نو داسې یو روان حالت به افغانستان ورځ په ورځ له بد څخه بدتر ته بوځي.

**پوښتنه: روان وضعیت به تر کومه دوام وکړي چې نوی واکمن نه د ولس او نه هم د نړۍ سره یوه ژبه پیدا کولی شي. اوږد مهال به یې تاثیر څه وي؟**

محمد عتیق ځاځی: ددې پوښتنې ځواب د اوس لپاره د هیچا سره نشته. لومړی خو دا چې د افغانستان روان حالات اوس نړیوالو ته کوم اهمیت او لومړیتوب نلري. د نړۍ په ځینو نورو سیمو کې ډېرکړکیچن حالات روان دي چې نړیوالو ته او خصوصاً لویو قدرتونو ته هغه سیمې ډېر اهمیت لري، ځکه نو افغانستان کرار کرار له جهانیانو څخه په هیریدو دی. له نړیوالو کوم امید نشته چې افغانستان ته به جدي توجه وکړي. دداسې نا امیده وضعیت اوږد مهاله منفي تاثیر به لا نور هم بد او بدتره وي. ها خوا په افغانانو کې هم تر اوسه داسې یو ملي او مدني حرکت ونه لیدل شو چې ددې تور تونل په آخر کې د یوه رڼايي د راتلو زیری د ځانه سره ولري. نه هم طالبانو تراوسه له سلیم عقل څخه کار واخیست چې ددې موجوده طلایي چانس څخه کار واخلي، د خلکو زړونه خپل کړي او د یو ملي مشرعیت په لور ګامونه واخلي. ځکه نو هیڅوک نپوهیږي چې دا وضعیت به ترکومه دوام کوي.

**پوښتنه: پوښتنه: د افغانستان او سیمې راتلونکې څنګه وینئ؟**




محمد عتیق ځاځی: په سیمه کې حالات په ګړندي توګه په تغیر کې دی. د دریو لویو قدرتونو اقتصادي ګټې زمونږ د سمیې په شا او خوا کې راڅرخي او دا امکان لري چې دوی د خپلو ګټو د ساتلو لپاره افغانستان بیا مستقیمه یا غیر مستقیمه د خپل نیابتي جنګ مرکز وګرځوي، چې نتیجه به یې افغان ملت ته نورې بدې پایلې د ځانه سره ولري. زمونو دوه مهم همسایه ګان یعنی ایران او پاکستان هم استقرار نلري. پاکستان د یو ژور سیاسي، اقتصادي او امنیتي بحران سره مخامخ دی او ایران په منځنۍ ختیځ کې د دخالت په وجې تر سخت تهدید لاندې دی. پدې دواړو هیوادونو کې چې هرڅه پیښیږي او هر مثبت یا منفي تغیرات چې راځي هغه مستقیماً په افغانستان مثبت یا منفي تأثیر کوي.

**پوښتنه: درې کاله کیږي چې د نجونو پرمخ د ښوونځیو او لوړو زده کړو دروازې بندې دي ستاسو په نظر د دې لنډ او اوږد مهال تاثیر به په افغانستان او د وطن په ښځینه قشر څه وي؟**

محمد عتیق ځاځی: زه خپله یو پخوانی معلم یم او ۱۵ کاله مې تدریس کړی دی. هم د شاګردۍ له وخته او هم د معلمۍ له وخته دا عملي تجربه لرم چې که یو شاګرد حتی د یو څو لنډو ورځو لپاره هم له درس او صنف څخه غایب وي، هغه شاګرد به د کال تر پایه د غیابت د هغو ورځو جبران ونشي کولای او پوره جبران یې تقریباً نا ممکن دي. نو چې کله اوس له ښوونځیو څخه د نجونو درې کلن غیابت ته ګورو، په تآسف سره باید ووایم چې ددې دریو کلونو جبران ناممکن کار دی. هیڅ امکان نلري چې هغه نجونې چې دا درې کاله وخت یې ضایع شوی دی په آسانی سره خپل له لاسه وتلی وخت جبران کړي. دا یوه لویه ملي فاجعه او یو نه بښل کیدونکی بشري جنایت دی چې نیم نفوس ورسره مخامخ شوی دی. طالبان هیڅ دیني، کلتوري او شرعي دلیل نلري چې نجونې له ښونځي او ښځې له کار څخه منع کړي.

حتی مونږ یې وینو او آورو چې ددوی ځینې لوړ پوړي چارواکي پدې حالت سخت ناراضه دي او کله کله خپل غږ اوباسي. مگر د امارت نظام پداسې یو مرموز سیستم چلیږي چې حتی همدا کسان لا خپل غږ یو مسئول ځای ته نشي رسولی. فرمانونه له کندهار څخه لداسې یوې مرجع راځي چې حتی دا لوړ پوړي چارواکي لا د هغې مرجع سره مخامخ نشي کتلی تر څو په مهمو مسائلو بحث وکړي. له بله پلوه په ملي کچه د جنگ ځپلي هیواد په بیا رغونه او آبادی کې مونږ د هیواد نیم نفوس له لاسه ورکړی دی، کوم چې نه جبران کیدونکی تاوان دی. په یوه ټولنه کې چې د هغې ټولنې ښځې را ونه اووځي او د نارینه وو سره اوږه په اوږه د ژوند په هره برخه کې گډ کار ونکړي، هغه ټولنه هیڅ ځای ته نشي رسیدلای. مونږ لوستي او مسلکي ښځو ته د ژوند په هره برخه کې ضرورت لرو. دا چې دوی تر شپږم صنفه پورې نجوني ښونځي ته پریږدي، دا ښونځي هم ښځینه معلمانې غواړي، دا معلمانې به له کومه کیږي؟ دا چې دوی وایي مونږ په طبابت یا نرسنگ، یا امنیتي ادارو کې یا ځینو نورو برخو کې ښځینه مامورینې لرو، دا خو له پخوا څخه پاته یو څو لوستي ښځینه مامورین دي. د همدې پورتني مسلکونو د ښځینه وو د روزلو لپاره بیا هم ښځینه استادانو ته ضرورت دی. چې ښونځي بند وي، پوهنتونونه بند وي نو دا ښځینه استادان به له کومه کیږي. همدا اوس په ټول کابل کې یوه ښځینه متخصصه نشته، تر څو به افغان مریضان د پاکستان په دروازو کې د گدایگر په شان زاری کوی؟



ها خوا په رواني لحاظ هم افغان نجونو او ښځو ته دا حالت یو رواني ناورین دی. تاسې فکر وکړئ چې له یو چا څخه په فرمان د هغه امیدونه، خیالونه او آرمانونه واخیستل شي او هیڅ چاره هم ونلري، دا په رواني لحاظ تباهي دی. تاسې هغه نجوني په نظر کې ونیسئ چې دوی د پوهنتون په مختلفو پوهنځیو کې په اول، دوهم یا آخري صنفونو کې ووه. دې نجونو په ډېر نږدې وخت خپلو آرمانونو ته د رسیدلو ورځې حسابولې. یا هغه نجونې چې په دوولسم صنفونو کې وې او د خپل د خوښې مسلک ته یې تیاریانې نیولې وې چې د کانکور امتحان ورکړي، یا د هغو نجونو د فامیلونو امیدونه چې ټول په یوه ورځ کې له منځه ولاړل. هغه ښځې چې په مختلفو شعباتو کې یې په کلونو کار کاوو او د خپل فامیل نفقه یې برابروله، ددوی د ټول ژوند لاسته راوړنې د خرافاتو د طوفان قرباني شول. همدا اوس په سلگونه او ممکن په زرگونه هغه لوستي او با شخصیته ښځې هلته شته چې نه یوازې یې ټولنې ته په ډېر ویاړ خدمت کاوو، بلکه د خپل فامیل یوازنی نفقه رسانې هم وې. اوس هغه ښځې په ډېره بې عزتي په کورونو کې احتیاج او نا امیده پاته دي. دا ټولې د ښونځیو او پوهنځیو نجونې او ښځینه مامورینې د طالبانو ددې ظالمانه او غیر قانوني پریکړو په نتیجه کې کم یا زیاد د صحي او رواني ناروغي سره مخامخ شوي دي چې د ورځې په تیریو سره دا رواني حالت لاهم سختیږي. آیا طالبان دا خواشینی حالت نه ویني؟

دا حالت په هیڅ صورت هیچا ته د منلو ندی او امید دی چې د امارت چارواکي دې تبا کونکي حالت ته متوجه شي او د حل لپاره یې ژر تر ژره اقدام وکړي.

**پوښتنه: ستاسو په نظر طالبان ولې د انجونو د تعلیم او کار مخالفت کوي؟**

محمد عتیق ځاځی: لکه څرنگه مې مخکې وویل طالبان هیڅ دیني، شرعي او کلتوري دلیل نلري چې نجونې له تعلیم او ښځې له کار څخه منع کړي. یوازنی علت یې زه دا وینم چې هلته په کندهار کې ددوی مشر او دده شا او خوا نور مولایان هغه کسان دي چې له ماشومتوبه دوی د افغانستان له لیرې پرتو کلیو څخه پاکستان ته مهاجر شوي دي او د پاکستان د ستراتیژیک پلان سره سم د جوړو شوو دیني مدرسو په منگولو کې لویدلي دي. دې کسانو خپل ټول عمر د هغو مدرسو او جوماتونو په تنگ محیط او ماحول کې تیر کړی اوهمالته لوی شوي او روزل شوي دي. دوی خپل ټول ژوند پداسې تنگ محیط او ماحول کې تیر کړی او ټول عمر ورته د پاکستاني ملایانو لخوا همداسې شریعت



تدریس شوی کوم چې دوی یې عملي کوي. دوی هیڅکله دا چانس ندی پیدا کړی چې زمان او مکان په خلاصو سترګو وویني او د یوویشتمې پیړۍ د نړۍ له حالت څخه خبر شي. دوی له جهان څخه او د یوویشتمې پیړۍ څخه ناخبره ساتل شوي او روزل شوي دي. مثلاً د افغانستان په یو لیرې پرتې کلي کې تاسې یو کلیوال سړی په نظر کې ونیسئ چې هغه پخپل ټول عمر کې نه مکتب لیدلی وي، نه یې تعلیم لیدلی وي، نه یې د نجونو د مکتب په نوم څه آوریدلي وي او نه یې حتی نجونې له کورنو څخه بهر لیدلي وي، نو داسې کس ته به د نجونو د تعلیم یا د ښوونځي خبره د نه منلو او نا آشنا نوم وي. د طالبانود رهبري شورا په کندهار کې همداسې ناخبره ملایان دي.

**پوښتنه: د جمهوریت له سقوط وروسته په لکونو تعلیم یافته افغانان له هېواده ووتل د دې تعلیم کړو د وتلو علت او تاثیر به د افغانستان په نن او راتلونکې څه وي؟**

محمد عتیق ځاځی: افغانستان داسې یو بدبخته هیواد دی چې دا د ماغزو فرار څو ځلې پدې هیواد کې پیښ شو. پداسې یو هیواد کې چې مونږ ۵٪ باسواده خلک لا نلرل، پدې بیچاره هیواد کې یو څو د ګوتو په شمار لوستي، مسلکي او د تخصص کسان په ډېر زحمت روزل شوي وو، مګر تیرو مختلفو جنګونو هماغه لوستي کدرونه را څخه واخیستل. یو وار د کمونستانو د اختناق له لاسه، بیا د جهادیانو د خپل منځي وحشي جګړو له لاسه، بیا د طالبانو د دوه واري اقتدار له لاسه. دا یوه لویه او نه جبران کیدونکي ناورین دی. ددې ناورین نتیجه به دا وي چې مونږ به تل پردیو ته احتیاج پاته وو او د یو ډیر عادي مسلکي کار لپاره به پردې را غواړو. همدا اوس آوریدل کیږي چې په ډیرو تخنیکي چارو کې پاکستاني ټکنیشنان کار کوي. په روانو حالاتو کې او د کدرونو د نشتوالي په سختو شرایطو کې ددې لوېې خلا ډکول په لنډ وخت کې ناممکن دی.

**پوښتنه: که وکتل شي په افغانستان کې هیڅ یو لوی ملي، سیاسي او افغانستان شموله حرکت نشته څه باید وشي تر څو ډیر افغانان په یوه حرکت یا یوه ټغر راغونډ شي؟ او که راغونډ نه شي څه به وشي؟**

محمد عتیق ځاځی: په اوسني وخت کې د طالبانو هیڅ بدیل نشته او نه هم په یو لړلید کې یې بدیل لیدل کیږي. یواځنی لاره داده چې افغان روشنفکران، پوهان، ملي شخصیتونه او مدني ټولنې په ملي مسئولیت په یو ملي ائتلاف سره یو موټی شي او یوه ملي او افغاني ټولنه تشکیل کړي، کوم چې دا ټولنه به هم نړیوالو ته یو پیژندل شوی آدرس وي او د طالبانو د تماس او خبرو لپاره به یوه مرجع هم وي چې د افغانانو آواز هم نړیوالو ته او هم طالبانو ته ورسوي. ددې مرجع استازي به د طالبانو د چارواکو سره مستقیم یا غیر مستتقیم خبرې کوي او کوشش به پدې وي چې د طالب چارواکو ځینې نسبتاً پوه کسان خپل ملي مسئولیت ته متوجه کړي. دوی باید پدې خبرې جداً وپوهوي چې روان حالات نه یوازې چې د هیواد او ملت په ګټه ندی، بلکه ددوی په ګټه هم ندی. که دوی خپلو تګلارو ته تغیر ورنکړي، دوی به د خپل نظام پښې پخپله ووهي چې دا یو واقعیت دی. دوی باید پدی پوه کړل شي چې دوی اوس یوه مخالفه جنګي ډله نه بلکه یو دولت دي. د دولت وظیفه د خلکو د عقیدو تفتیش یا خلک په زوره جنت ته لیږل ندي. دین او عبادت د یو انسان شخصي او فردي کار او د خالق او مخلوق ترمنځه مستقیمه رابطه ده، پدې رابطه کې نه دریم عنصر ته ځای شته او نه د بل مداخلې ته. د دولت وظیفه د خلکو د سر او مال، د بشري حقوقو، د بیان د آزادي، د فردي آزادی ساتل دي. هیڅوک باید دا حق ونلري چې د یو فرد په شخصي مسائلو کې مداخله وکړي. د دولت وظیفه دا نده چې مأمورین یې را اووځي او د خلکو د ږیرو اندازه تفتیش کړي، بلکه برعکس د دولت وظیفه داده چې هغه کسان چې داسې د خلکو په شخصي حریم تجاوز کوي هغه منع کړي. دولت باید یو حقوقي او قانوني مرجع او ملي قانون ته مسئولیت

ولري، مګر اوسنی نظام هیڅ قانوني مرجع ته مسئولیت نلري او هیواد د یوه شخص په فرمانونو چلیږي. ځکه نو په هیواد کې د یو ملي قانون لرل لومړنی شرط دي او هغه قانون به د دولت مسئولیت او صلاحیت ټاکي او هم به هماغه ملي قانون د خلکو حقوق او مسئولیتونه ټاکي. ملي قانون د خلکو لخوا او د خلکو په رایه او توافق جوړیږي. مونږ خوشبخته یو چې په افغانستان کې یوه ستره عنعنوي مرجع لرو چې هغه زمونږ پیژندل شوی لویه جرګه ده. د افغانستان په تاریخ کې په ملي مسئلو کې د حل عالي ترینه مرجع همدا لویه جرګه ده. دا جرګه به ملي قانون جوړوي او د ملي قانون په اساس به د نظام نوعیت، د دولت صلاحیت او د اتباعو حقوق ټاکي. دا تغیرات باید ډیر ژر راشي، مخکې لدې چې ټول فرصتونه له لاسه ورکړو. حتی خپله طالبان باید دا مسئولیت احساس کړي چې د هیواد د نجات لپاره د ملي شخصیتونو سره په تماس کې شي، شرط ندی چې د پخواني رژیم مفسدینو سره خبرې وشي.

د موجوده امنیت په شرایطو کې طالبان کولای شي او باید دا وکړي چې لویه جرګه راوغواړي تر څو د جرګې غړي په یو منل شوي ملي قانون یوې جوړې ته سره ورسیږي. دا جرګه باید یوه واقعي لویه جرګه وي، یعنی د ټولو قامونو او اقشارو واقعي استازي باید راټول کړل شي، نه یوازې ملایان. د خوشبختی ځای دی چې مونږ په همدې ورځو کې د لرو پښتنو د واقعي لویې جرګې یو ژوندی مثال ولید او وموليدل چې داسې جرګې څومره یو نه ماتیدونکی قوت دی. د لرو پښتنو سیاسي او قامي شعور زمونږ لپاره یو لوی درس دی. د پښتنو د لوی تاریخي کور په صفت دا باید مونږ وای چې ټولې نړۍ ته موښودلي وای چې افغانان کولای شي په ملي هوډ په یوه ټغر سره راټول شي او د سولې او ورورولي په فضا کې ملي مسائل حل کړي، مګر لرو پښتنو ځان راڅخه مخکې کړ.

**پوښتنه: هغو پیغلو او ځوانانو او په ټوله افغانانو ته پیغام او مشوره څه ده هغوئ چې له هېواده بهر او په لویدیځو او نورو هېوادونو کې ځای په ځای شوي دی څه باید وکړی او خپل وخت په څه تیر کړي مقصد لومړیتوب یې باید څه وي؟**



محمد عتیق ځاځی: دا پوښتنه خصوصاً هغو ځوانانو ته متوجه ده چې په دا تیرو دریو کلونو کې له افغانستان څخه وتلي دي. دا ځکه چې دا ځوانان د افغان په محیط او ماحول کې لوی شوي او روزل شوي دي او د خپل کلتور سره پوره آشنایي لري. اکثره دا ځوانان لوستي کسان هم دي چې د هغو ځوانانو په پرتله کوم چې په بهر کې لوی شوي دي خپل وطن بهتره پیژني. زما مشوره دوی ته داده چې خپل وخت په سالمو مصروفیتونو تیر کړي، وطن هیر نکړي او هر هغه مرسته یې چې له لاسه کیږي د خپلو وطنوالو سره وکړي. د تکنالوجي پدې عصر کې فاصلې ډیرې لنډې شوي دي او مونږ له زرهاوو کیلومترو څخه لیرې خپل هیواد او خلکو ته هغه څه کولای شو چې څو کاله مخکې یې چا خوب هم نشو لیدلای. د خپلو خلکو سره یوازې مادي مرستې د لنډ محال لپاره سمې او ضروري دي، مګر په اوږد محال کې له ګټې یې تاوان ډیر دی، ځکه چې خلک د همداسې بیکاره او مُفت ژوند سره عادت کیږي. د خپلو خلکو سره د مادي مرستو ترڅنګ معنوي، کلتوري، علمي، تعلیمي او مسلکي مرستې هم باید وشي. د امکان ترحده باید کوشش وشي چې د وطن هغو نجونو ته مو د مرستې لاس ورسیږي کوم چې له تعلیم او تحصیل څخه پاته دي. په بهر کې ځوانان کولای شي چې له لیرې فاصلې څخه هغو نجونو ته د تعلیم د دوام زمینه مساعده کړي.

**پوښتنه: بهر میشتې افغانان د خپل هېواد او خلکو له پآره څه کولی شي او څه باید وکړي؟**

محمد عتیق ځاځی: بهر میشتو افغانانو ته مې هم همدا پیغام دی؛ چې له هر امکان څخه چې په لاس کې لري په وطن کې د پاته وګړو سره مادي او علمي مرستې وکړي. لکه چې وینو په بهر کې ځینې پوهانو او استادانو مختلف علمي ټولنې او انجمنونه جوړ کړي دي او د همدې لارې دوی تلاش کوي خپله پوهه د

خپلو خلکو سره له لیرې فاصلې څخه شریکه کړي. دغسې علمي انجمنونه باید نور هم پراخه شي او دا کار په بهر کې د میشتو افغانانو په مرسته کېدای شي.

همدارنګه په بهر کې میشت زمونږ پوهان، استادان، سیاسیون او علمي کدرونه دا مسئولیت لري چې په طالب چارواکو دوامداره خپل فشار وساتي پدې امید چې که دا پوهان پخپل علمي حوصله وکولای شي د طالب چارواکو په ذهنیت اثر وکړي که ګوندې دا حالات یو مثبت لوري ته په حرکت راشي.



**پوښتنه : په پای کې مو افغان ولس ته پیغام څه دی؟**


محمد عتیق ځاځی: افغان اولس ته مې، که فرد دی، که فامیل او که ټولنه ده دا پیغام دی چې د تل په شان لدې پاسیف حالت څخه باید ځانونه اوباسي. که د تیر په شان داسې وي چې هر یو لاس په دُعا ناست وي چې الله د رحم وکړي، یا دا چې خدای مو دِ له بدتره ورځې و ساتي، یا دې ته انتظار وي چې بیا به له بهر څخه پردي راځي او زمونږ ژوند به بدلوي، نو فکر نکوم چې د افغانانو حالت بدل شي یا بهتره شي. افغانان پدې عقیده لري چې الله (ج) په قرآن کې ویلي دي چې هر قام چې د خپل حالت د تغیر لپاره حرکت ونکړي زه به د هغه قام حالت بدل نکړم. دا یو ډیر واضح پیغام دی چې باید د خپل ژوند د بدلولو لپاره که په فردي لحاظ وي یا ټولنیز لحاظ باید په ټینګ عزم حرکت وشي. آباد ملتونه هیڅکله لاس په دُعا نه کیني، هیڅکله د بل مرستې ته انتظار نه باسي، بلکه د هر مشکل حل پخپل لاس را اوباسي، خپل حالت بدلوي او خپل سرنوشت پخپل لاس ټاکي.

**د ښاغلي انجنیر محمد عتیق ځاځی لنډه پېژندنه:**

انجنیر محمد عتیق ځاځی د ملګرو ملتونو د سازمان یو متقاعد مامور او د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجي د انستیتوت پخوانی استاد دی، چې په هغه علمي مؤسسه کې یې ۱۵ کاله د مسلکي او تخنیکي مضامینو تدریس کاوو. په کال ۱۹۹۲م کې چې کله مجاهدین په کابل ننوتل او په کابل کې کوڅه په کوڅه جګړه او یو عام قتل پیل شو، نو د نورو ملي مؤسساتو په شان د مخابراتو انستیتوت هم تخریب او و تړل شو. په هماغه کال یې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د ناظمې اداري سره د یو تخنیکي پرسونل په صفت کار پیل کړ، چې بیا وروسته د روان جنګ په علت خارجي مؤسسات هم له کابل څخه وتلو ته مجبوره شول او اسلام آباد ته انتقال شول. بهرني مؤسسات له هغه ځایه د کابل په شمول د افغانستان په ټولو ولایاتو کې فعالیت کاوو. د ۱۹۹۶م کال په پیل کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتونکو سازمان دی د بوسنیا او هرزه ګوینا هیواد ته وغوښت. له هماغه ۱۹۹۲م بیا تر کال ۲۰۱۷م پورې یعنی تقریباً ۲۵ کاله یې د ملګرو ملتونو د سازمان سره په مختلفو هیوادونو کې د اروپا او افریقا په شمول کار کړی دی. په ۲۰۱۷م کال کې یې له ملګرو څخه تقاعد واخیست. اوس په کاناډا کې د خپلې کورنۍ سره میشت دی.

**در شماره آینده: گفنگوئ استاد داکتر م. عثمان تره کی با دعوت: طالبان باید بدانند که احراز قدرت از راه فتح به فاتح اهلیت حکومتداری و مشروعیت نمیبخشد. بسیاری از جنبش های ضد استعمار در دنیای اسلام، در سالیان اول احراز قدرت سیاسی، حکومتداری را در چوکات قانون اساسی و انتخابات جا به جا کردند. طالبان باید از آنها بیاموزند.**

# چرا افغانستان طی نیم قرن از یک دور فاجعه به دور دیگری سقوط کرده است؟



دوکتور م، عثمان تره کی

قریب نیم قرن از بحران افغانستان میگذرد اما تا هنوز راهی که به ثبات، رفاه و همزیستی منجر شود از نزد ما گم است. افغانستان در جستجوی نقشه راه سرخورده و گیچ مانده است. تجاوز خارجی ، جنگ های داخلی، مهاجرت های کتلوی داخلی و خارجی و نهایتاً بی ثباتی و خونریزی، از کودای ۱۹۷۳ م محمد داود آغاز شد. کودتا نتیجه یک ائتلاف نامتجانس سیاسی میان یک شخص مسلمان دا رای تمایلات قوی ناسیونالیست و یک جناح سیاسی محیل و توطئه گر انترنااسیونالیست بنام پرچم بود. جناح پرچم حزب دیموکراتیک خلق ( ح، د، خ ) قصد داشت تا از محمد داود به مثابه افزار نفوذ در بطن نظام جمهوریت که بعداً بوجود آمد استفاده کند. مسیر انکشاف سیاسی را در جهت منافع حزبی ( پرچم ) منحرف نماید.

سلطنت در جامعه مسلمان افغانستان سمبول وحدت ملی و ثبات سیاسی قیاس میشد. سقوط نظام سلطنت پروسه طبعی و آرام پیشرفت کشور را به سوی ثبات سیاسی مختل کرد.

کودتای محمد داود علیه سلطنت در مغایرت با قانون اساسی ۱۹۶۴ صورت گرفت و راه را برای احراز قدرت از مجرای غیر قانونی باز نمود.

ائتلاف غیر متجانس سیاسی داود – پرچم در ۱۹۷۸ از هم پاشید. سردار داود با ۱۸ تن از خانواده خود بدنبال یک کودتای دیگر که از جانب (ح،د، خ) سازماندهی شده بود شهید گردید. بعداً قانون اساسی ۱۹۷۷ سردار داود جلو کودتای ( ح، د، خ ) را علیه محمد داود گرفته نتوانست. بار دیگر راه برای استفاده از زور برای قبضه بر قدرت در بیرون احکام قانون اساسی هموار شد.

بدنبال این داستان دنباله دار قانون گریزی، قانون اساسی ۱۹۸۷( ح، د، خ ) در شرایط اشغال افغانستان توسط شوروی اعلام شد. حالت جنگی در افغانستان حاکم بود. این وضعیت ایجاب اعلام حالت اضطرار و تمرکز قدرت در یک دست را منطبق به حکم قانون اساسی میکرد. در عمل قدرت دولتی در دست حزب باقی مانده بود بی آنکه حالت اضطرار رسماً اعلام شود. خلاصه از قانون اساسی برای زیب و زینت نظام استفاده شد بی آنکه به تطبیق آن توجه شود.

شوروی از افغانستان اخراج گردید. تاخت وتاز مجاهدین و طالبان، افغانستان را از سال ۱۹۸۹ تا ۲۰۰۱معروض به ظهور حاکمیت هایی کرد که از راه جنگ رهبری حکومت را تصاحب کردند. افغانستان در مدت بیش از یک دهه آزمون تلخ بی قانونی و جنگ را سپری نمود.

نوبت به اشغال ۲۰ ساله افغانستان توسط امریکا و متحدین رسید. کانفرانس ۲۰۰۱ بن دائر شد. قانون اساسی جدید تحت مراقبت قوت های اشغالگر در ۲۰۰۳ نافذ اعلام شد. استخوانبندی یک نظام حقوقی که دران حق رای، پارلمان، تفکیک قوأ و آزادی های عامه جاه به جا شده بود، شکل گرفت. اما جنگ ضد اشغال، تقلب در انتخابات، تمایلات مرکزگریزی

جنگ سالاران قانون اساسی را در حاشیه قرار داد. گپ به ادای سوگند توسط دو کانید ریاست جمهوری و حکمیت جان کیری وزیر خارجه پیشین امریکا رسید.

خلاصه کلام افغانستان پس از سقوط سلطنت از مدار قانونمندی بیرون شد. کولتور خشونت و کله شنکوف در دستیابی به قدرت سیاسی حاکم گردید. در ترویج این کولتور عوامل مختلفی دخیل است. از جمله :

- سطح نازل سواد و شعور سیاسی
- در طول نیم قرن اخیر تاسیس پایگاه های رزمی کروه های جنگی در کشور های همسایه و تحریک مدعیان تاج و تخت به تصاحب قدرت از راه زور.
- مداخلات دوامدار خارجی که استفاده از افزاری ساختن جنگ سالاران را بدنبال داشته است.
- سرمایه گذاری قوت های مداخله گر خارجی برای از هم پاشیدن وحدت ملی و بهره برداری از توته های از هم گسیخته جامعه به قصد تخریب ساختار های قانونمند دولتی.

در نیم قرن اخیر باریکه افغانستان معروض به مداخلات خارجی و جنگ های داخلی گردید و حکومتداری در بیرون مدار قانون شکل گرفت، کشور بهای سنگینی را متحمل شد: ملیون ها افغان معیوب گردیده یا به شهادت رسیده اند، ملیون ها هموطن در داخل یا خارج مهاجرت کرده اند. مهاجرت کتلوی روشنفکران به خارج کشور تعادل اجتماعی را به نفع گروه های کمسواد و محافظه کار برهم زده است. شیرازه وحدت ملی از هم گسیخته است.

سوال مهم اینست که چرا افغانستان در حالیکه زخم های یک فاجعه را التیام نبخشیده است به فاجعه دیگری سقوط میکند ؟ دو عامل عمده داخلی و خارجی در استمرار فاجه نقش داشته است :

- عامل داخلی موجودیت افغان های بی وجدانی است که در خدمت خارجی خود را قرار داده اند.
- مداخلات پیهم خارجی عامل دوم دوام بحران شده است. حمایت خارجی از باند های تبه کار مانع گردیده تا یک میکانیزم مسئولیت پذیری و بازخواست قانونی به حساب خائنین ملی و جنایتکاران جنگی رسیدگی کند.

فقدان چنین میکانیزمی موجب شده است که مسئولین یک دوره فاجعه فاتح میدان فاجعه بعدی شوند و خیانت و جنایت استمرار پیدا کند.



قصد ما از میکانیزم بازخواست محاکمه خائنین و جنایت کاران جنگی است که باید طرزالعمل آن در قانون اساسی آینده افغانستان جاه بگیرد. بسیاری از کشور هایی که جنگ های طولانی را از سر گذشتانده اند، در قانون اساسی پس از جنگ محاکمه خائنین ملی و جنایتکاران جنگی را در قوانین اساسی خود جا داده اند. اهمیت توجه به چنین میکانیزم در اینست که:

- حاکمیت توپک جای خود را به سلطه قانون میسپارد.
- عدالت از چنگال سیاست رهایی میابد.
- جلو تبدیل مجرمین بالقوه به بالفعل گرفته میشود.
- وظیفه تأمین عدالت از انتقام جویی شخصی به دولت انتقال میکند.
- احساس مسئولیت پذیری نهادینه میشود.

طالبان که فعلن حاکمیت را در دست دارند، عفو عمومی را به آدرس خائنین ملی و مجرمین جنگی اعلام کرده اند. این ممکن برای یک حکومت سرپرست که برای جمع و جور کردن افغانستان متمایل به تمرکز قدرت است و نمیخواهد برای خود جنجال خلق کند، قابل توجیه باشد. اما در طویل المدت برای ایجاد یک جامعه سالم دارای پوتانسیل دفاع از خود در برابر پرازیت های رنگارنگ نمیتواند مفید ثابت شود.

تدوین یک قانون اساسی جدید مبتنی بر واقعیت های روز که ضمانت اجرای آن بدست پر قوت گروه حاکم سپرده شود، میتواند افغانستان را از دایره شیطانی سقوط یک فاجعه به فاجعه دیگر نجات بدهد.

طالبان بدیل ندارند. باید زندگی توأم با انتقاد در کنار آنها را بیاموزیم. باید کلیه امکانات درونی و بیرونی را بکار انداخت تا آنها حکومتداری را در چوکات قانون اساسی جاه به جاه کنند. به عمر حکومت سرپرست که بیش از حد معمول دوام کرده است پایان ببخشند.

تشکیل لویه جرگه عنعنوی و ممثل راه را برای گذار از حالت سرپرست و خلأ قانون به سوی تشکیل حکومت قانونمند که از لویه جرگه رای اعتماد گرفته است هموار میکند. حکومت جدید تسوید قانون اساسی را رویدست میگیرد.

میکانیزم بازخواست از خائنین و مجرمین جنگی میباید در قانون اساسی نو گنجانیده شود و در نهایت زمینه پاکسازی پرازیت های مصیبت آفرین نیم قرن اخیر هموار گردد. به این ترتیب افغانستان عزیز از چنگال دایره شیطانی غلتیدن از یک فاجعه به فاجعه دیگر نجات پیدا میکند و سلامت گم کرده خود را باز میابد.

۲۰۲۴/۰۵/۰۳

« پایان»

*در شماره آینده: گفنگوئ داکتر م. عثمان تره کی با دعوت:*

**طالبان باید بدانند که احراز قدرت از راه فتح به فاتح اهلیت حکومتداری و مشروعیت نمیبخشد. بسیاری از جنبش های ضد استعمار در دنیای اسلام، در سالیان اول احراز قدرت سیاسی، حکومتداری را در چوکات قانون اساسی و انتخابات جا به جا کردند. طالبان باید از آنها بیاموزند.**



SHEPHERD. SHOMALI PLAIN 09-3-40/27

# ټول ګډونه حکومت که ټول ګډونه نظام؟



عبدالوحید وحید

که څه هم د افغانستان اوسني مشران د توپک په زور واک ته رسیدلي دي او په ژمنو باندي د عمل کولو په برخه کې ښه شالید نه لري خو د ځینو استثنایي ورتیاو له امله هغوی ته په بیساري ډول دومره امکانات او فرصتونه په لاس ورغلي دي چې که د احساساتو له خیالي نړۍ څخه راووزي، اوسنی وضعیت په هراړخیزه توګه وارزوي، په ممکنه توګه راتلونکې ننګونې جدي ونیسي، په ملي اماناتو کې د امتیازاتو ترلاسه کولو په پرتله په عمومي ډول د ټول ګډونتوب اصل ته ژمن پاتې شي، نو کولای شي د تل لپاره د جګړو له لارې واک ته د رسیدو لاره بنده کړي ، ملي یووالی تامین کړي، د تلپاتې اسلامي نظام بنسټ کیږدي، له خپل ولس څخه د مشروعیت ترلاسه کولو ته ملا وتړي، له نړیوالې ټولنې سره د اړیکو جوړولو پراخولو، له پردیو خیراتونو څخه افغانانو ته د نجات ورکولو لپاره د افغانانو ترمنځ اجماع رامنځته کړي او بالاخره خپل هېواد او ولس ته د پردیو لخوا د زیان رسولو لپاره د روانو هڅو مخه ونیسي.!

د پیاوړي مرکزي قیادت شتون، په استثنایي او بې ساري ډول د رامنځته شوي سرتاسري امنیت رامنځته کیدل، مرکز او مشرتابه ته مطلقاً ژمن پیاوړی بشري ځواک درلودل، له پخوانیو حکومتونو څخه د ناهیلي، د نظامونو له سقوط او د تازه نظامونو له تجربه کولو څخه د ستړي شوي افغان ولس ذهني حالت، د خپلو ګټو او د بدیل د نشتون له امله اړیکو رغولو ته د نړیوالې ټولنې لېوالتیا هغه ارزښتناک او بیساري فرصتونه دي چې د افغانستان اوسني حاکمان ورڅخه د ګټې پورته کولو په پایله کې د هېواد د ښیرازي، د ولس د ارامي او د خپل تلپاتې حاکمیت ته د شرائطو برابرولو موخې ترلاسه کولای شي.

البته که د اوسني حکومت د حیرانتیا وړ نیمګړتیاو ته متوجه شو، نو ناهیلي کیږو؛ ځکه چې متأسفانه له تیرو نږدې دریو کلونو راپدیخوا د طالب مشرتابه د کړنو ریکارډ ته په کتو داسې هیڅ نښې نښانې نه لیدل کېږي چې افغان حکومت دې تیرې سهوو څخه د زده کړو هڅه کړې وي، د افغانستان اوسني ترینګلي او کړکېچن سیاسي او اقتصادي حالت یا هم د افغانستان په تړاو په ګاونډ سیمه او نړیوالو کچه راپورته کیدونکو ننګونو او ګواښونو ارزولو ته جدي پاملرنه کړې وي، خو موږ باید ثابته کړو چې ژوندي ملتونه پریوزي خو پرېوتي نه پاتې کېږي، حوصلې نه بایلي او مبارزې ته دوام ورکوي.

په ناکامه شویو میکانیزمونو باندې بیا فکر نه کوو او نه یې باید د بیا کارولو هوډ ولرو. که مو په بن کې د ټول ګډونه حکومتي په جوړښت باندي د چانو وهلو پرځای په ټول ګډونه نظام باندي تمرکز کړی وای، ټول ګډونه ذهنیت مو رامنځته کړی وای او د راتلونکې لپاره مو ټول ګډونه موخې ټاکلې وای، نو پوره باور لرم چې لکه د نن په شان به د احساساتو په دلدل سپاره نه وو، د تیاره او مبهم راتلونکې په لور به مو حرکت نه کاوه. البته نن هم

باید رامنځته شوي فرصتونه غنیمت وګڼل شي. خپلې ستونځې او نیمګړتیاوې ومنل شي او داچې رامنځته شوي فرصتونه تلپاتې نه دي.

د ښې حکومتولي وړاندي کولو دعوه هغه مهال تحقق موندلی شي چې کار اهل ته وسپارل شي او ولس ته د مشارکت او په حکومتي کړنو باندې د څار او غبرګون حق ورکړل شي. واک د ولس امانت او په معیارونو باندي ولاړ اسلامي نظام رامنځته کول د ملت مسلم حق وګڼل شي، له نړیوالې ټولنې سره د متقابل احترام په چوکاټ کې راشه درشه او راکړې ورکړې ته امکانات برابر کړای شي او په نړیوالو ژمنو باندي د عمل کولو مسئولیت ادا کولو ته ملا وتړل شي. د اوسني انزوائي حالت، سیاسي او اقتصادي بندیزونو، د رسمیت پېژندلو لپاره د کچکول ګرزولو په برخه کې د اوسنی حکومت لخوا ځان ته برائت ورکول او ټوله پړه په تیر جمهوري حکومت او نړیوالې ټولنې باندې اچول له مسئولیت څخه د تېښتې هڅه ده او د توجیه وړتیا نه لري.

شک نشته چې د اوس په شان د نورو د نفی کولو تګلارو ته د دوام ورکولو له لارې پورتنۍ موخې ترلاسه کول ناشونی کار دی. یاد اهداف ترلاسه کول د ملي ګټو لپاره د شخصي او ډله ییزو ګټو قرباني کول غواړي، ښه مدیریت او ښه حکومتولي رامنځته کولو ته اړتیا لري، د زغم، حوصلې، ټول ګډونتوب، ملي اجماع او د ولسي استازیتوب اصل ته د هوډ او ژمنتیا له لارې د داسې سیستم رامنځته کول ایجابوي چې معلوم الحال متعصبین، زورواکان او د فساد مخکښان پکې مطرح نه وي، د سمتونو، ژبو، قومونو او مذهب ترعنوان لاندې د واک وېشل پکې اساس نه وي، بلکې د بین الافغاني اجماع په نتیجه کې د رامنځته شوي اساسي قانون له لارې د اختیاراتو او حساب منلو ترمنځ د انډول پر اساس د دولت دری ګونی څواک عدلیه مقننه او اجرائیه ولري، اسلامي نظام پکې تضمین، عدالت پکې تامین، کار اهل ته سپارل شوی وي، د دین، هېواد او ملي یووالي مخالفینو ته پکې د نفوذ مخه نیول شوې وي.

د افغانستان اوسنی ترینګلی سیاسي امنیتي او اقتصادي وضعیت د واک ترلاسه کولو او په دغه هېواد کې د نفوذ ترلاسه کولو لپاره د کورنیو او بهرنیو لوبغاړو لخوا د څو لسیزو جګړو یرغلونو او د واک په سر د کورني تاوتریخوالي محصول دی. د تجربو او مشاهدو له مخې د بین الافغاني تفاهم له لارې د ټول ګډونه حکومتي جوړښت رامنځته کول ممکن د اوسني قیادت جنجالي غبرګون ته لاره هواره کړي او ګټې یې هم لنډمهاله دي خو د ټول ګډونه نظام په رامنځته کولو باندي فشار راوړل اوږدمهاله حل لاره جوړوي، په مشرتابه باندې د ولس باېللی باور بیرته را ګرزوي او په نظام کې د پاشلتیا مخه نیسي.

د کورنیو مخالفینو او بهرنیو اړخونو لخوا په افغانستان کې د ټول ګډونه حکومت رامنځته کولو غوښتنه ظاهراً د توجیه وړ ښکاریږي خو موږ ولیدل چې د همدغه نوښت مسلسلو ناکامو پایلو ته په کتو په افغانانو باندې د ټول ګډونه حکومت تپل معکوسې پایلې درلودلې دي. د ټول ګډونه حکومت جوړولو او د امتیازاتو د وېش ګټه یوازې ځینې سیاستوال ترلاسه کوي، خو د ټول ګډونه نظام رامنځته کول داسې وړاندیز دی چې ګټه یې د سیاستوالو پرځای ولس او هېواد ته رسیږي. تر ټولو مهم اړخ چې د ټول ګډونه نظام رامنځته کول ګټور او اغیزمن ګڼل کېږي دادی چې د افغان ټولنې پیچلتیاو ته انعکاس ورکوي او زموږ د سیاست نیمګړتیاو ته ځواب وایي.

افغانستان د مختلفو قومونو، کلتورونو او مذهبونو څخه جوړ هېواد دی چې هر یو یې ځانګړې اړتیاوې، جدا ګټې او ملحوظات لري. له بهر څخه تپل شوی او یا هم د بهرني فشار په نتیجه کې رامنځته شوی حکومت نشي کولی د افغانستان د متنوع او پیچلي جوړښت هغه ستونځې په عادلانه توګه حل کړي، چې د مخالفتونو راپورته کیدو او بې ثباتي رامنځته کیدو لامل کیږي. له دې څخه ورهاخوا بله ګټه به داوي چې مذاکراتي ډلې به د خپلو ځانونو لپاره د امتیازاتو په غوښتلو باندې د وخت اړولو پرځای په بنسټیزو ستونځو باندي خبرو ته زیات وخت ولري.

کله چې د خبرو په بهیر کې شخصي ګټې مطرح نه وي، نو ګډونوال کولای د مختلفو فکرونو، سیاسي ګوندونو، قومونو او اړخونو ترمنځ د اختلافي مسائلو له شتون سره د ګډو اهدافو د لټون له لارې د بارو رامنځته کولو فرصت ترلاسه کړي. د بې باوري ختمول، د بیلتون هڅې شنډول او تعصباتو ته د لمن وهلو بانې له منځه وړل د ملي یووالي قائمولو او د ولسونو ترمنځ د واټن ختمولو لپاره اړین ګامونه ګڼل کېږي. د بهرنیو لوبغاړو لپاره هم یو فرصت برابروي چې تېرې سهوې تکرار نشي، د خبرو اترو لپاره د اسانتیاو په برابرولو کې د مرستې رول ولوبوي او د اړتیا په صورت کې سرچینې، مسلکي او تخصصي نظر وړاندې کړي.

په افغانستان کې په سیاسي او امنیتي برخو کې په چټکۍ سره بدلونونه رامنځته کیږي او زموږ د ستونځو اوږدمهاله حل باید له عیني واقعیتونو او له بدلیدونکو شرایطو سره د سمون وړ وي. د ستونځو د حل لپاره پروني فارمولونه د ننني ستونځو حل نشي تضمین کولای. دغه ډول سناریو د سیاستوالو لپاره له تیرو سهوو څخه د زده کړو او د راتلونکې لپاره په دریزونو او نظرونو کې د انډولیز بدلون او انعطاف رامنځته کولو لپاره ښه فرصتونه چمتو کوي چې د شرائطو له اړتیا سره سم خپل دریځونه تنظیم کړي.

د ټول ګډونه نظام رامنځته کولو لپاره د بین الافغاني تفاهم او خبرو اترو  له لارې د یو باثباته او ټول شموله سیستم رامنځته کول د افغاني ټولنې تنوع او د سیاست پیچلتیاوې په نظر کې نیسي، د مختلفو ډلو تر منځ باور رامنځته کوي، انعطاف او د وخت له غوښتنو سره سم بدلون ته لاره هواروي ، او د داسې ریښتیني ولسي حکومت رامنځته کیدو لپاره امکانات زیاتوي چې د اسلامي اساساتو په چوکاټ کې ملي ګټې تامین او د خلکو ارادو ته انعکاس ورکړي.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړي شئ!

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنیز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکایي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ . له تاسو مخکې له مخکې مننه!

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:Account for international payments

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره Vipps : #557320

## به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند  از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد.  اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر .

DNB Bank AC # 0530 2294668

حساب پرداخت بین المللی در خارج از ناروی:Account for international payments

NO15 0530 2294 668

شماره ویپس Vipps : #557320

# د ښوونځیو د بندیز درې کلن ناورین

وحیده آرینزی

له بده مرغه شا او خوا درې کاله کیږي چې په هېواد کې منځني ښوونځي د نجونو پرمخ تړل دي. د جمهوریت له سقوط او د اسلامي امارت له واکمنیدو وروسته، د نجونو په منځنیو زده کړو محدودیتونه ولګیدل. په لومړي سر کې تر شپږم ټولګي پورته په ښوونځیو بندیز وضع شو او بیا وروسته د نجونو پوهنتونونه هم له ورته برخلیک سره مخامخ شول.

زده کړې زموږ د دین په اساساتو کې دي. د قرآن پاک دغه آیت {اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، ولوله د خپل هغه رب په نامه چې پیدا کړي یې ټول مخلوقات دي} په دې دلالت کوي چې پوهنه او د علم زده کړه پر ټولو نارینه او ښځینه وو فرض دی. د اسلام او اسلامي هېوادونو په تاریخ کې تر اوسه د دې آیت شریف په ترجمه او تفسیر کې د نظراختلاف او توپیر نه دی راغلی.



خو له بده مرغه په تیرو دریو کلونو کې، زموږ ځینو علماوو او واکمنو د دې آیت شریف فرضیت یوازې دیني علومو ته ملزوم کړ. دیني علما او چارواکي هم ټول یوه خوله نه دي. ځیني یې عصري زده کړې په نارینه او ښځینه دواړو فرض بولي؛ خو ځینې نور یې فرض کفایي، ناروا، مستحب، مباح، غیرضروري او په داسې نورو ټکو او الفاظو یادوي!

علم یو سمندر دی چې ټول دیني او عصري علوم رانغاړي. نننۍ پرمختللې نړۍ په عصري علومو او ټکنالوژۍ ولاړه ده. افغانستان د دې پرمختللې نړۍ یوه وړه برخه، جنګ ځپلی، بېوزله او د پرمختللو هېوادونو په مرسته متکي هېواد دی. د بندو تعلیمي بنسټونو له امله هره ورځ د پرمختګ او اقتصادي بسیاینې فرصتونه له لاسه وځي، وطن او ولس نور په ګاونډیو هېوادونو او مرستو متکي کیږي.

که څه هم طالبان ظاهراً د تعلیمي بنسټونو بندیز لنډ مهاله او تر امرثاني بولي، د یوه خوندي چاپیریال د رامنځ ته کیدو او په نصاب کې د ځینو اړینو بدلونونو خبره کوي؛ خو تر دې زیات مالومات د لوړپوړو چارواکو سره هم نشته. تر اوسه یې نه د خوندي چاپیریال په هکله کومه لایحه وړاندې کړې، نه په نصاب کې د بدلون کومه نښه نښانه لیدل کیږي؛ نه د خپل لنډ مهاله یا اوږد مهاله کاري پلان، ماسټر پلان، ستراتېژۍ، پرمختګ او یا حد اقل د موضوع ستونزې او خنډونه له ولس سره شریک کړي، تر څو ولس ډاډمن شي چې په ریښتیا هم چارواکي په کار بوخت دي او بلاخره به په لږ یا ډیر ځنډ داستره غمیزه پای ومومي.

اوس اوس د لوړو زده کړو وزیر ښاغلي ندا محمد ندیم، د نجونو د ښوونیزو مرکزونو د خلاصون په هکله د ولس په پوښتنو او ګرویږنو هم تر امر ثاني پورې بندیز ولګاوه او نوې خبره دا ده چې دوی به د نجونو د زده کړو د ضرورت په هکله څېړنې کوي او د څېړنو پایله به دا جوتوي چې د نجونو عصري زده کړې ضروري دي او که نه! که د څېړنو پایلي وښیي چې د نجونوعصري زده کړې ضروري نه دي؛ نو د دوی پر مخ به ښوونځي او پوهنتونونه د طالبانو په حاکمیت کې د تل لپاره بند پاتې شي.

خو پوښتنه دا ده چې هغه څه چې پروردګار په قرآن پاک کې په واضحو الفاظو فرض ګرځولي، علمای کرام او چارواکي څنګه ځانونه تر لوی ذات او الهي کلام لوړ او د دې جوګه ګڼي چې څېړنې دې پرې وکړي؟ آیا الهي فرضیت له دنیوي ضرورت سره پرتله کیدای شي؟ او دا څېړنې به څنګه، چیرته، څوک او له چا کوي؟ د نړۍ ټولو اسلامي هېوادونو او علمای کرامو په اسلامي امارت په ځلونو غږ کړی، چې د نجونو ښوونځي او پوهنتونونه

پرانيزي او ولس خپلو اولادونه ته بې له ځنډ او خنډه زر تر زره تعليم غواړي.

په زده کړو بنديز د طالبانو په منځ کې هم درځ پيدا کړی او ټول په يوه خوله نه دي. ډېرو چارواکو خوله پټه نيولې؛ خو ځينو لکه د دوحې د مرکچي پلاوي غړی ښاغلی عباس ستانکزی، چې له تيرو کابو دوو لسيزو راهيسی په قطر کې اوسې، د ژوند ټول لګښتونه، امکانات او معاش يې امريکا ورکوي او لوڼې يې عصري زده کړې کوي، د نجونو د ښوونځيو د بې موجبه بنديز او ناما‌لومه برخليک سره مخالفت کړی او په وار وار يې خپل دريځ څرګند کړی دی. کيدای شي له همدې امله ښاغلی عباس ستانکزی اوس په خپلو ملګرو کې، هغه پخوانی دريځ نه لري کوم چې ده پخوا د دوحې په خبرو او د جمهوريت په پرځولو کې درلودا!

ځينې خلک د نجونو د ښوونځيو او پوهنتونونو بنديز د طالبانو د څو تنو سخت دريځه مشرانو فيصله ګڼي، او ګومان کوي چې په امارت کې هم د جمهوريت په څير، واک يوازې د يو څو محدودو کسانو په لاس کې دی؛ خو يو شمير نور بيا په دې باور دي چې طالبان که هر څو د نجونو زده کړې او بند ښوونځي د افغانستان کورنۍ مسله ګڼي، خو د دې مسئلې څخه د خپلو سياسي موخو او اهدافو د تر لاسه کولو له پاره د يوې سياسي وسيلې په توګه کار اخلي او له نړۍ سره د رسميت پيژندلو د پاره چنې وهي! که د سياسي موخو او د رسميت پيژندلو خبره نه وای، نو د وطن لوڼې به يې درې کاله يرغمل نه نيوې، د دوی شرعي حقوق به يې نه تر پښو لاندي کول او د دوی او د وطن د راتلونکي سره به يې دا ستره جفا نه کولای! خو هسې نه چې خدای مه کړه د واک په نشه او د رسميت پيژندلو په چنو کې دا اوسنی نظام او امنيت له لاسه ولاړ شي او امريکا له دې ګډوډيو داسې پښيمانه او تر پزې راشي، لکه څنګه چې د تير حکومته وه او بلاخره يې مخ طالبانو ته واړاوه.

د يونيسف له قوله، افغانستان په نړۍ کې د ميندو او ماشومانو د پاره له خطرناکو هيوادونو څخه دی. چيرته چې ميندې په آسانۍ سره روغتون او روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی نه لري او هر کال په زرګونو اميدوارې ميندې د داسې ستونزو له امله خپل ژوندونه له لاسه ورکوي، چې ډېر په اسانه د مخنيوي وړ دي. د نجونو تړلي ښوونځي او پوهنتونونه او د مسلکي روغتياپالانو کمښت، به دا ستونزې نورې هم ډيرې او د بشري ناوړين تر حده ورسوي!

له بده مرغه افغانستان له تيرو څلورو لسيزو راهيسې د پوهنې په برخه کې د ګڼو ستونزو سره لاس او ګريوان دی. پردۍ تپل شوې جګړه، بې امني، ګاونډي استخباراتي کړۍ، مفسد حکومتي



چارواکي او زورواکي، په لرې پرتو سيمو کې د ښوونځيو او مسلکي ښوونکو کمښت اوعامه ذهنيت يې ستر خنډونه او عوامل ګڼل کيږي.

که تير تاريخ په غور ولولو؛ نو پوهيږو چې افغانستان د پوهنې په لاره کې ډېر پټ او ښکاره دښمنان درلودلي دي. اعليحضرت غازی امير امان الله خان د معارف د رغيدو او پياوړتيا لپاره نه هيريدونکې او نه تکراريدونکی هڅې کړې؛ خو د پرديو استخباراتو په لمسون، دا هڅې د خپل ولس په مخالفت، بغاوت او د پاچاهۍ د ړنګيدو په بيه ورته پريوتې.

تر هغې وروسته په نورو حکومتونو کې معارف لږ يا ډېر پرمختګونه وکړل. د کابل او ننګرهار پوهنتونونه د سيمې په کچه ښه وځليدل او په زرګونو وياړلي فارغين يې ټولنې ته وړاندې کړل. خو د مجاهدينو په راتګ دا هر څه ګډ وډ شول، ډيری مسلکي ښوونکي له هيواده ووتل، پوهنتونونه بې نظمه او تنظيمي شول او نور يې هغه پخوانی برم او معيار نه لرل.

د طالبانو په تېره دوره (1996-2001) کې هم کټ مټ لکه د نن په څېر د نجونو په ښوونځیو او لوړو زده کړو محدودیتونه لګیدلی وو. نه په پوهنتونونو کې نجونو ته د زده کړو او نه هم ښځینه ښوونکو ته د تدریس اجازه وه. په ټوله کې د وطن نیمایي نفوس له زده کړو، کار او ټولنیز ژوند او فعالیت څخه راګرځول شوي وو او په کور کینول شوي وو.

د جمهوریت په شل کلن مزل کې که څه هم د امریکا او متحدینو په مالي مرستو د معارف او پوهنې په برخه کې، ډېر پرمختګونه وشول؛ خو دا هر څه تر کابل او لویو ښارونو پورې محدود وو. په کلیوالو او لرې پرتو سیمو کې د جنګ ډګرونه تاوده وو، ښوونځي په نشت حساب وو او که وو هم؛ نو د انسانانو په څېر د اور او باروتو په لمبو کې سوځیدل او په میلیونونو ډالر په خیالي ښوونځیو، زده کوونکو، ښوونکو او معاشونو مصرفیدل!

له بده مرغه د حکومت په هره برخه کې پراخ فساد، کار اهل کار ته نه سپارل، په بهرنیانو ډېره اتکا او ضعیفې حکومتولۍ، جمهوریت له سقوط سره مخ کړ. امریکا او متحدین یې له دې حالته ستړي شول او له طالبانو سره یې په دوحه کې خبرې پیل کړې او له شل کلن ځنډ وروسته طالبان بیا واک ته ورسیدل. که څه هم چې واک ته تر رسیدو مخکې طالبانو په دوحه کې له امریکایانو سره ژمنه کړې وه، چې د ښځو حقونو او زده کړو ته د اسلام په چوکاټ کې ژمن دي؛ خو واک ته تر رسیدو وروسته یې دا ژمنه پوره نه کړه او اوسنۍ دوره یې د پخوانۍ په څېر له ورته ستونزو ډکه ده.

دا ناورین او په ټپه دریدلی حالت د افغانستان د پرمختګ په وړاندې لوی خنډ دی. نه یوازې میلیونونه نجونې له زده کړو بې برخې او محرومې دي؛ بلکه د ټول هیواد په پرمختګ او راتلونکي منفي اغیزه لري. هیله ده چې د اسلامي امارت چارواکي د وطن د اوسنیو واکمنو او حاکمو په حیث، له واړه کلیوالي او قبیلوي فکر څخه راووځي، د یوې لویې جغرافیې د حاکمیت، مالکیت او مسوولیت احساس وکړي، د ولس غږ واوري او د نورې نړۍ سره د یوه سیال او په ځان بسیا افغانستان لپاره، د زده کړو مرکزونه نه یوازې پرانیزي بلکه د پوهنې د ترویج او پرمختګ لپاره بېسارې جد او جهد وکړي او پوهنه له ښارونو تر کلو، بانډو، کیږدیو، غرونو او رغونو ورسوي!

د همداسې ورځې په هیله انشاالله.



# په افغاني ټولنه کې د فکري اختلاف شاليد



پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن

له څلورنیمو لسیزو دمخه افغان وګړو یوه اوږده موده په سوله کې ژوند کړی و، د وګړو ترمنځ فکري او نظریاتي اختلافات دومره ژور نه و، د شعارونو په کچه و او لا د ټوپکونو په شپیلیو پاشل شوی او زهرجن شوی نه وو.

نه د سیمي او نه د قوم په نوم کوم کرکجن نظر موجود و, نه چا د افغان ملت په تاریخي ویاړونو او ملي ارزښتونو ملنډې وهلای شوی او نه د سیاسي ګوندونو دومره واک او زواک و چې د ټولنې عمومي ذهنیت د کرکې او له یو بل سره د دښمنۍ تر بریده ورسوي. یا خپل سیاسي سیالان او مخالفین په مرګ ووهي او ویې ځپي. په ۱۳۵۲ کې د شهید سردار محمد داود له خوا سیاسي بدلون او جمهوري نظام ، د بهرنیو لویو ځواکونو او په سیمه کې د پرتو دښمنانو نتلې سترګې افغانستان ته راواړولې. په کور دننه هم ښي اړخي او چپ اړخي سیاسي ډلګۍ و ښوریدې او د سیاسي او فکري اختلافاتو ژورتیا ته لاره هواره شوه.

د ۱۳۵۷ لمریز کال د غوایې د اومې له بدلون وروسته، چې د یو ملي او ډیر هیوادپال جمهور رئیس او د هغه د معصومي کورنۍ د ګڼ شمیر غړو په شهادت او بی رحمانه وژلو پیل شو، په حقیقت کې د زغم او د سیاسي مخالف د منلو وخت پای ته ورسید.

فکري او ایډیالوژیک اختلافات د بهرنیانو په لاسوهنو او لمسونو ژور او د وسله وال کړکیچ په لور وخوځیدل. د افغاني ټولنې ذهنیت او فکري ثبات ورو ورو کړکیچن شو او مخالفینو د یو او بل د ځپلو لپاره په ټول هیواد کې اور وکاره.

په ټولنه کې د یوه داسی ژور بدلون او فکري انقلاب لپاره کار پیل شو، چې د عمومي ذهنیت په خوب ویده رګونه یې وتخنول او ډیر پخواني او دوديز پاخه کلتوري او ټولنیز دیوالونه یې ولړزول.

یوازې کلتوري او ټولنیز ژور اصلاحات پیل نه شول، اقتصادي سیستم او تګلوری هم په بل اړخ واوښت. د ټولنیز عدالت او برابرۍ په نوم د لویو ځمکوالو د ځمکو چټک ویش رامنځ ته شو، د ګروۍ دود منع اعلان شو او خصوصي ملکیتونه له ګواښ سره مخ شول. د هغه مهال په اصطلاح د فیوډالانو او لویو خانانو سرونه د کرګرانو  له سوکانو سره مخ شول.

د دې فکري ژور بدلون، نظریاتي یا ایډیالوژیکي چینه د پخواني شوروي اتحاد له خیټې بهیدله او د کارل مارکس او ولادیمیر ایلیچ لینن په تیوریو او نظریو خړوبیدله.

که څه هم د هغه مهال د همدې بدلون سیاسي ګوند سوسیالیستي مرام او اساس نه درلود او د خلک دموکراتیک ګوند په نوم یادیده، چې بیا وروسته په کې نور اصلاحات هم رامنځ ته شول او د وطن ګوند په نوم ونومول شو, د خپلو فکري او سیاسي مخالفینو د زغملو ډیر کوښښ وکړ، خو اوبه له ورښه تیرې وې او هیواد د اوږدې کورنۍ جګړې په لمبو کې نیم سوی و.

د غوایې د اومې له بدلون سره هممهاله یې سیاسي مخالفینو ، بنسټپالو اسلامي تنظیمونو چې لا یې له پخوا د همداسی یوې پلمې څرک څاره، له فرضي پولې اخوا یې ځالې جوړې کړې وې او آن د شهید داود خان جمهوریت ته یې ګواښونه پیښول، د ولس په ویده ذهنیت کې د لارې موندلو هڅه پیل کړه. سیاسي او فکري اخلافات یې د کفر او اسلام په نوم رنګ کړل او ټول ولس یې د ډانګ او پړانګ ترمنځ راښکیل کړ. یو شمیر ساده او نالوستي وګړي یې دومره احساساتي کړل چې د ښوونځیو سوزول،

د عامه شتمنیو ویجاړول، چور او تالان یې پر کفر د اسلام بری ګاڼه.

د شوروي پوځونو راتګ خبره نوره هم سخته کړه، لویدیځې پانګوالې نړۍ د عربي شیخانو او سیاستوالو په ملتیا، د شوروي پوځونو د ماتولو لپاره د افغانانو له وطنپالو او خپلواکۍ غوښتونکو احساساتو ناوړه ګټه واخیسته او په افغانستان کې یې د سولې د خبرو او سوله ییز حل پر ځای د جګړې د سختولو او لا پراخولو هڅه کوله. تر څو د ختیځ او لویدیځ سړه جګړه په افغان خاوره کې د افغان ولس په وینو توده وساتي او د شوروي اتحاد زور او ځواک همدلته ونګوي او له ماتې سره یې مخ کړي. پاکستان چې د همداسې موخو لپاره لا له پخوا په سیمه کې دلویدیځ د سیاسي اهدافو د ترسره کولو لپاره رامنځ ته شوی و، په دې لوبه کې لوی لوبغاړی شو او هلته یې د افغان کډوالو د ذهنیت او فکري بدلون لپاره لویې دسیسې پلان کړې. ملي مبارزین او وطنپالونکي مجاهدین پرینښودل شول چې د خپل فکر سره سم د شوروي لښکرو پر ضد د مبارزې لورې و ټاکي.

هلته د یوه یا دوو تنظیمونو پر ځای د اوو تنظیمونو بنسټ کېښودل شو او په دې توګه د افغان کډوالو او مجاهدینو د یووالي مخه ونیول شوه. د دوی ترمنځ د بې باورۍ او اختلافاتو لپاره لویدیځ او پاکستان ډیر کار وکړ او داسې حالت ته یې ورسول چې د شوروي پلوه رژیم له نسکوریدو وروسته لکه لیوانو په کابل کې یو د بل غوښې و خوړې او ټول کابل یې د کابلیانو په وینو ولاړه. د هیواد په ټولو سیمو کې یې تر پایه په خپلسریو او سیمه ییزه واکمنۍ ټینګار کاوه او یو له بل سره جوړ نه شول. ایران هم په خپل وار، هلته کډوال او د کابل د رژیم مخالفین په اتو تنظیمونو وویشل او د خپلو ستراتیژیکو ناولو موخو لپاره یې د شوروي له وتلو وروسته وکارول. د ژبې، سیمي او مذهب په نومونو یې د افغاني ټولنې د ویش، کمزورۍ او د فکري اخلافاتو د ژورتیا لپاره کار وکړ.

شوروي اتحاد هم له نورو زیات په چپي لوري کې د بې باورۍ او اختلافاتو لپاره هڅه وکړه، ژبنیو او قومي اختلافاتو ته یې د هغه مهال په دولتي اډانه کې ډیر کار وکړ.

د شوروي ښکیلاک ګرو پوځونو له وتلو وروسته، د شمال جنبش او شمال ټلواله چې د شوروي اشغالګرو لوی لاس په کې و رامنځ ته شو او د افغان ولس د ویشلو او په دی توګه د خپلې ماتې د غچ اخیستلو لپاره یې وکاروه. له بده مرغه د هیواد دننه اوږدې کورنۍ جګړې، د بهرنیانو لاس وهنې او د پردیو ایډیالوژیو، د افغاني ټولنې ټولې اصلي، تاریخي او کلتوري ارزښتمنې ریښې غوڅې کړی، فکري او ایډیالوژیکي ژور اختلافات رامنځ ته شول، افغانان په خپلو دودیزو لباسونو او ظاهري بڼو وځورول شول. کله د ږیرې او پټکي په لرلو او کله هم د بریتونو او پتلون په لرلو یو او بل سره وځورول، زندانونو ته یې ورسول، آن د یو او بل په سرونو میخونه ووهل شول او د مړو نڅاکانې او د ژوندیو د سوزولو پیښې رامنځ ته شوی. هم کیڼ اړخې بهیر ډیر افراطي او بنسټپال و او هم ښي اړخې اسلام پالې ډلې ډیرې تندې او زغم نه منونکې وې. چپې خلق دموکراتیک ګوند، په پیل کې مطلقه دیکتاتوري او یو ګوندي سستم وچلاوه. د هیواد اقتصادي سستم یې له ازاد بازار او پانګوالۍ سره په ټکر کې، سل درجې مخالف لوري ته وخوځاوه.

د چپي رژیم له ماتې وروسته تنظیمي رژیمونو په اصل کې منظم حکومت نه درلود. په ټولنه کې مطلقه انارشي، ذهني او ایدیالوژیکه بنسټپاله کرکه خپره شوه. د وګړو، ټولنیزو جوړښتونو او سیاسي ډلګیو ترمنځ بشپړه بې باوري او نا مدني روحیه رامنځ ته شوه. د اسلامي آمارت په نوم لومړۍ دورې که څه هم ملوک الطوایفي او پاټک سالاري تر یوی اندازې ختمه کړه، خو فکري او ایډیالوژیکه بنسټپالنه یې لا ژوره کړه، د اوسني عصر له ډیرو منل شویو او روا مدني حقوقو لکه د نجونو له زده کړو سره یې تر پایه مخالفت وکړ.

جمهوریت او دموکراسي چې په څرګنده ډیر ښه نومونه او د حکومتولۍ یو غوره اصل او دود ګڼل کیږي، له بده مرغه بیا هم په افغانستان کې د تیرو سستمونو او رژیمونو په څېر بنسټپاله او ناکاره کړنې پیل کړی. په سلګونو دولتي موسسې د ازاد بازار او پانګوالي اقتصادي سستم د بنسټ ایښولو په نوم، پخوانیو جنګسالارانو په ناروا او نامشروع پیسو وپیرودلې، د ملت شتمني، دولتي ځمکې او نور تاسیسات بهرنیو اجیرانو، غلو او ډاکوانو غصب او تر خیټو لاندې کړې. په لومړي ځل دولتي سستماتیک فساد رامنځ ته شو او د شتمن او بیوزلي واټن بیخي زیات شو. د بیان د ازادۍ او دموکراسۍ په نوم ملي او تاریخي ویاړنو ته سپکاوی پیل شو او یو بل بنسټپاله بدلون، زموږ د ټولنې

ناروغ او زوریدلې ذهن په پام کې ونه نیو، فکري او ایدیالوژیک توپیرونه یې، د بمونو پر مور هم وځپل او والوزول.

**نو اوس څه په کار دي؟**

اوس له څلورنیمو لسیزو اړودوړ، ایډیالوژیکي خونړیو اختلافاتو او پردیو شعارونو زده کړه ، نرمښت او د زغم لاره نیول اړین دي.

افغانستان په خپله سینه، په تیرو څلورنیمو لسیزو کې د سړې جګړې د دوو لویو دښمنو زبرځواکو، سوسیالیستي بلاک چې د وارسا پوځي تړون یې تر شا و او د پانګوالۍ یا لویدیځې نړۍ بلاک، چې د ناټو پوځي تړون یې تر شا و خو نړۍ لښکرې وزغملې، د لویو ښکیلاګرو ځواکونو، او سیمه یزو دښمنو کړیو سیالیو او جګړو، افغاني ټولنې ته په ملیونونو شهیدان، معیوبین، معلولین او کډوال په میراث پریښودل. د خپلو وسلو له ازمایښت او له پوځي مانورو او تمرینونو وروسته یې، افغانستان له زرګونو بدمرغیو، ټولنیزو، کلتوري، سیاسي او اقتصادي ناخوالو سره یوه جکړه ځپلي ولس ته وران ویجاړ پریښود.

دلته هم چپي بنسټپاله ګوندونه او فکرونه او هم ښي اړخي اسلامي بنسټپاله پاله تنظیمونه او فکرونه وازمایل شول، هم په تیر جمهوریت کې د مصنوعي دموکراسۍ ننداري وشوی او هم له هغو دمخه د رنکارنګ دیکتاتوریو پیښې او نندارې ترسره شوی.

که څه هم د امریکایي اشغال په مهال د جمهوریت په کلونو کې زاړه ایدیالوژیکي اختلافات یو څه نرم شول، دبن له کنفرانس وروسته ځنو پخوانیو اسلامي بنسټپالو ټوپکمارو او جنګسالارانو هم نیکټایي ګانې وتړلې او د دموکراتانو، لبرالانو او تکنو کراتانو پیښې یې پیل کړی. د پخواني چپي رژیم بی واکه پاته شونې یې هم وزغمل او په ټول کې یو نرم او معتدل اسلامي نظام مخ ته روان و، خو بل لوري ته بیا د وسله والو مخالفینو په نوم د ځنو ځانګړو سیمو وګړي وځورول شول او په لوی لاس دښمنۍ او مخالفت ته ورټیل وهل شول.

د دې ترځنګ په همدې مهال ډېر سخت اقتصادي اصلاحات هم را مخ ته شول، دا ځل په ټولو دولتي موسسو او شرکتونو د پلور څپه راغله او د ازاد بازار په نوم ډېر ملي شرکتونه او تولیدي موسسې ځنو په واک کې دخیلو غلو او جنګسالارانو په ناروا ډول ولکه کړی .

اوسني واکمن رژیم چې اوس په ټول هیواد کې واک لري، باید له دې طلایي فرصت کار واخلي، خپله تیره ناکامه دوره تکرار نه کړي. همدارنګه نظام او وګړي ټول، د تیرو رژیمونو له بنسټپالو، ژورو او زهرجنو فکري توپیرونو ډډه او زده کړه وکړي. اوس ټولنه په طبیعي توګه نرمښت، اعتدال او یو د بل زغم او منلو ته چمتو شوی ده. افغانانو په سترګو ولیدل چې څرنګه چپ او ښي اړخي بنسټپال مات شول، څرنګه دلته پردی ایدیالوژۍ ورستې شوې او څرنګه دلته د افغانانو له ارادې خلاف رژیمونه را وپرزیدل.

نور افغان ټولنه په هیڅ ډول د سیاسي او فکري زهرجنو اختلافاتو او تاوتریخوالي وسه نلري، له غولوونکو سیاستونو او د حکومتونو له بدرنګه کړنو ستړې شوی ده.

ولس سوله، متوازن خدمات، عدالت او سوکاله ژوند غواړي. په هیڅ سیاسي رنګ او هیڅ غولوونکي شعار باور نلري. هغوی چې له نسلونو یې خپل دیني ارزښتونه او خپل ملي ویاړونه خوندي ساتلي دي، هیڅکله هم خپل ملي او اسلامي ارزښتونه له لاسه نه ورکوي. په ټولو ډلو، سیاسي ګوندونو او تنظیمونو کې وطن پلورونکې او وطنپالونکې څېرې وې. هیڅ ګوند او سیاسي ډلې مطلق تور او سپین مخ نه درلود. سوله غوښتونکو او خیر غوښتونکو په هره سیاسي ډله کې شتون درلود خو د وطن پلورونکو او مفسدینو پر ناولیو کړنو رنګ شول.

غوره ده چې نور په ټولنه کې له هر ډول کرکې ډډه وشي، فکري اختلافات بیا ژور نه شي. د ټولنې د هر وګړي حقوق خوندي شي. د زده کړو او کار مدني او لومړني حقوق ټولو ته برابر شي، د ملي او اسلامي ارزښتونو په لویه دایره کې هر وګړې د خپلې خوښې سره سم د سوله ییز او هوسا ژوند د لرلو لپاره هلې ځلې وکړي او د خپلې ارزښتمنې راتلونکې لپاره د هیواد په ودانۍ کې برخه واخلي.

که اوسني واکمنان بیا هم د افغاني ټولنې ذهني او عیني شرایط په پام کې ونه نیسي، د سایسنس او تکنالوژۍ په دې اوسني عصر کې،د میډیا او رسنیو پر اغیزو او د نړۍ په دې سره نښتي کلي کې ځان له نورو ګوښه کړي، نو بې له شکه چې فکري اختلافات او ایدیالوژیک توپیرونه به یو ځل بیا راژوندي، لاپسې ژور، زهرجن او له پخوا لا زیات کرکجن شي.

راځۍ له څلورنیمو لسیزو وروسته لکه نوره متمدنه نړۍ یو د بل جنس، رنګ، بڼه، د ژوندانه ډول، کړه وړه او نظریاتي توپیرونه

وزغمو او په خپل گران هیواد کې د ویاړلو او ارزښتمنو افغاني او اسلامي اصولو په رڼا کې ګډ او سوله ییز ژوند وکړو. د یوه پیاوړي ملت او یوه غښتلي تاریخي هیواد په توګه یو ځل بیا خپل ویاړلې هویت او برم را څرګند کړو.

۲۰ -۹ -۲۰۲۴

**یوه هیله یوه غوښتنه!**

د دعوت مجلې په اړه مو له خپل نظر څخه خبر کړئ. کوم مطالب او څه ډول او د چا سره مرکې خیری کرو. درنښت



**د لومړي مخ پاتې:**

ترڅنګ، د نجونو په احساساتو ژور منفي اغېزه وکړي لکه: انزوا، افسردګي او حتا ځان ته زیان رسول.

-د ټولنې د پرمختګ پر وړاندې خنډ : کله چې نجونو ته ښوونه او روزنه نه وي، ټولنه نه شي کولی چې له هغوی څخه په موثر ډول استفاده وکړي. دا کار د هېواد د وروسته پاتې کېدو او د پرمختیا په وړاندې خنډ ګرځي.

-د بشري حقونو سرغړونه : د نجونو پر مخ د ښوونځیو بندېدل د بشري حقونو څخه سرغړونه ګڼل کېږي، چې ممکن نړیوال فشار او پایلې د افغانستان پراوسنیو واکمنو او پروګرامونو زیات کړي. د تعلیم مخنیوی به نه یوازې افغاني ټولنه؛ بلکې د نړیوالې ټولنې لپاره هم زیاتې ستونزې رامنځته کړي.

**د افغانستان په راتلونکی د ښوونځیو، پوهنتونونو د بندېدو اغېز**

د افغانستان په راتلونکې کې د ښوونځیو د بندېدو اغیزې به ډېر ژور او د افغانانو او افغانستان له پاره ډېر دردونکي وي، دلته ورته په لنډو ټکو کې اشاره کوو:

ــ د تعلیمي نظام تخریب : د ښوونځیو بندېدل به په تعلیمي سیستم جدي اغېزه ولري، چې پایله به یې د تعلیم معیار کمزوری کېدل او راتلونکو نسلونو کې د پوهې او مهارتونو کموالی وي.

ــ اقتصادي پرمختګ ته مخه : د نجونو د تعلیم نشتوالي سره، د هېواد اقتصادي پرمختګ ته خنډونه رامنځته کېږي. تعلیم لرونکې ښځې د کار بازار ته د داخلېدو توان لري، چې دا کار د کورنیو او ټولنې د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل کېږي.

ــټولنیز او کلتوري بدلونونه : د ښوونځیو د بندېدو له امله به د ټولنې او کلتور په پرمختګ کې خنډونه رامنځته شي. نجونې به د تعلیم له لارې د ټولنیزو او کلتوري ارزښتونو په ټاکلو کې رول ونه لري.

-په راتلونکې کې د ښځو ونډه : د تعلیم نشتوالی به په راتلونکي کې د واکدارۍ او رهبرۍ ظرفیتونه کم او خورا ضعیف کړي. تعلیم یافته نجونې او ښځې د ټولنې په رهبري کې مهمې ونډې لري، او د تحصیل نشتوالي له امله دا ظرفیتونه ضایع او له منځه ځي.

**د ښوونځیو د خلاصون له پاره څه باید وشي؟**

د ښځو د ښوونځیو د خلاصون لپاره په افغانستان کې ممکنه اقدامات او لارې چارې په لاندې ډول کېدای شي:

ــ د بشري حقونو ملاتړ زیاتول : د ښځو د ښوونې حق د بشري حق په توګه باید نړیوالې ټولنې او افغان حکومت ته یاد شي. د دې حقونو د ملاتړ لپاره باید نړیوال فشارونه زیات شي.

ــ خبرې اترې : د طالبانو او نورو اړوندو لورو سره د ښځو د ښوونې په اړه عادلانه خبرو اترو او مذاکرو ته اړتیا ده؛ ترڅو د دې موضوع ټول اړخونه په هکله خبرې وشي.

ــ مرستې : نړیوالې موسسې او حکومتونه باید د افغانستان لپاره د تعلیمي پروژو او مرستو په برخه کې هڅې وکړي؛ څو د نجونو د ښوونې لپاره منابع او امکانات برابر شي.

ــ د عامه شعور لوړول : د ښځو د حقونو او تعلیم په اړه د عامه شعور لوړول او د ښځو د تعلیم مفکوره خپرول د ټولنې د ملاتړ لامل ګرځېدای شي. د دې لپاره باید تعلیمي کمپاینونه، سیمینارونه او غونډې ترتیب، ورسره معلوماتي پاڼې برابرې او په افغانانو وویشل شي. په رسنیو کې هم تل د ښځو په تعلیم په هلکه خبرې وشي.

ــ سیمه ییزه او نړیواله همکاري : د افغان ټولنې بیلابیل بنسټونه، په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو سازمانونه، باید سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو سره همکاري وکړي ترڅو د ښوونځیو د خلاصولو په برخه کې یو ګډ هدف معلوم او ورته کار وشي.

ــ ځواکمنې ښځې : ښځې باید پخپلو حقوقو باندې پوهې شي او د ښوونې او روزنې په برخه کې د یوه فعال رول لوبولو لپاره وهڅولې شي. د ښځو د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ځواکمنتیا ملاتړ باید وشي.

ــ د ښوونځي او ټولنې د ملاتړ جلبول : اړونده ادارې باید د ښوونځیو او ټولنو له خوا د ښځو د تعلیم لپاره ملاتړ په نښه کړي، ترڅو دې پروسو ته په محلي سطحه پراخ ملاتړ ترلاسه شي.

ــ امنیتي او ټولنیز شرایط : د امنیتي ستونزو او ټولنیزو خنډونو لرې کول چې د نجونو د ښوونې مخه نیسي، د دې لپاره اړینه ده چې د امنیت او ثبات په برخه کې اقدامات وشي. دا اقدامات ممکن د ښځو د ښوونځیو خلاصول په کلکه توګه تضمین نه کړي؛ خو د دې پروسې په ښه کولو کې حتماً مرسته کوي.

هر پوه او وطندوسته افغان باید د هېواد دننه او بهر د خپلو خویندو او د وطن د لوڼو د تعلیم او کار د حق ترلاسه کولو له پاره خپل غږ هر وخت، هر چیرته او هر کله پورته کړي. اوسني واکمن، هغوی چې د نجونو د ښوونځیو د خلاصولو په موډ کې نه دي ورته په داګه شي چې دا ستاسې لار د مکې پر ځای ترکستان ته روانه ده او همدا لار به ستاسو په وړاندې د افغان ولس د پاڅون لامل شي.

# د مخابراتي (اړیکو) مهارتونه



چمتو کوونکی: نصیراحمد "څپاند"

سرچینې :انټرنیټي مختلفې ویبپاڼې

**لنډه پیژندنه**

د تصدۍ دننه څانګې او بنسټیزې واحدونه د متقابل عمل او متقابل انحصار په حالت کې دي ، کوم چې مدیرانو ته اړتیا لري چې په خپلو کارونو کې د څانګو ، او عمدي ارګانونو ترمینځ د متقابل عمل همغږي ته پاملرنه وکړي ، او همغږي او ارتباط ته پاملرنه وکړي. لوړ پوړي او ملګري. د مدیریت د کار هر پړاو د سازمان د غړو په ښه ارتباط، او د رهبرانو په مدیریتي وړتیا پورې اړه لري، نو ښه اړیکه د سازماني چلند د لاسته راوړلو په بهیر کې د بریالیتوب مهم عامل ګرځي.

**د ښکته جریان مخابرات یا اړیکي**

دا د امرونو د یووالي، د هدایتونو او اومرو د قوماندې یووالي او د ماتحتانو د هڅونې یوه مهمه وسیله ده.

**پورته مخابرات/ اړیکه**

دا دواړه د ماتحتانو لخوا د لوړ پوړو چارواکو لارښوونو ته یو فیډبیک دی، ترڅو لوړپوړي چارواکي د پریکړو د پلي کولو په کچه پوه شي، او ماتحت افسران د نویو پریکړو کولو لپاره لوړ پوړو چارواکو ته معلومات چمتو کوي، د ماتحتانو د ګډون احساس زیاتوي.

**موازي ارتباط**

دا کولی شي د څانګو او واحدونو تر مینځ تفاهم او همکارۍ ته وده ورکړي، متقابل تفاهم ته وده ورکړي، د ټیګ آف جګړې پدیده له منځه یوسي، او د ټیم جوړولو لپاره یو ښه خپلمنځي بنسټ کېږدي.

**د سوداګرۍ اړیکه**

د سوداګرۍ معلوماتو په اړه داخلي اړیکه د هر کار د طرزالعمل عملیات لپاره اساسي تضمین دی، کوم چې کولی شي د سوداګرۍ معلوماتو غیر بند شوي جریان ته وده ورکړي، د مدیریت موثریت ښه کړي او عملیاتي لګښتونه کم کړي.

**د مخابراتو مهارتونه څه دي؟ (یو تعریف)**

اړیکه د دوو یا ډیرو خلکو ترمنځ د معلوماتو تبادله ده. ډیری بېلابېلې لارې شتون لري چې خلک معلومات تبادله کوي په شمول لفظي، لیکلي، او/یا غیر لفظي (بدن) ژبه. د مخابراتو مهارتونه تاسو ته دا وړتیا درکوي چې په مؤثره توګه خپل فکرونه او نظریات وړاندې کړئ. ځینې خلک په طبیعي ډول د اړیکو مهارتونو کې ښه دي پداسې حال کې چې نور ممکن دوی ډیر ستونزمن وي. په هر حالت کې، هرڅوک کولی شي په روښانه او ګټور ډول د خبرو اترو لپاره د زده کړې څخه ګټه پورته کړي.

**ولې د مخابراتو مهارتونه مهم دي**

د اړیکو مهارتونه د ژوند یوه اړینه برخه ده ځکه چې موږ هره ورځ د نورو خلکو سره اړیکه ونیسو. که تاسو د نورو سره د خبرو اترو لپاره مبارزه کوئ تاسو ممکن د مایوسۍ احساس وکړئ. کله چې نور تاسو درک کوي او تاسو یې درک کوئ، دا غلط فهمۍ او شخړې کموي. په واضح ډول ستاسو د افکارو رسول ستاسو د ژوند په ډیری برخو کې ګټور کیدی شي.

### د اړیکو رضایت

د 2006 یوه څیړنه وموندله چې هغه خلک چې د اړیکو غوره مهارتونه لري، حتی د نورو متغیرونو لکه د ضمیمه کولو سټایل او د ستونزې حل کولو مهارتونو کنټرول کولو وروسته د اړیکو ډیراطمینان لري(Eğeci & Gençöz, 2006) .

په حیرانتیا سره، منفي اړیکه د شخړو د اداره کولو لپاره د وړتیا کمولو لپاره ښودل شوي چې د اړیکو سره د لږ اطمینان لامل کیږي .(Kicolt-Glaser & Newton2001).

### د کار ځای کې  اړیکې

په مؤثره توګه د خپل پیغام رسولو وړتیا او د نورو په سمه توګه درک کول د کار ځای کې ارزښتناکه مهارت دی. د شفاهي اړیکو مهارتونه د غوره 10 مهارتونو په توګه لیست شوي چې اجرایوي یې د ترویج پریکړې کولو پر مهال ارزوي (ریینش او ګارډنر، 2013). تاسو کولی شئ د خبرو کولو دمخه د فکر کولو، په ډاډ سره خبرې کولو، او روښانه او لنډیز کولو سره خپل د لفظي اړیکو مهارتونه ښه کړئ.

### د ژوند رضایت او د ځان باور زیاتوالی

د اړیکو د ښه مهارتونو زده کول ممکن تاسو سره مرسته وکړي چې د خپل ژوند څخه ډیر مطمین احساس وکړئ او خپل ځان ته درناوی زیات کړئ. یوې څیړنې موندلې چې هغه کسان چې خپل احساسات ښرګندوي او مثبت، اغیزمنې ټولنیزې ستونزې حل کوي د هغو کسانو په پرتله چې د دې شیانو سره مبارزه کوي د ژوند اطمینان او ځان ته درناوي لري ( .(Coskun et al., 2010
دا کیدای شي د لږو غلط فهمیو او شخړو له امله وي چې ځینې وختونه د غلطو اړیکو له امله رامنځ ته کیدی شي.

### د کار ځای کې د مخابراتو مهارتونه

د مخابراتو اغیزمن مهارتونه ډیری وختونه د دندې لپاره د اړتیا په توګه لیست شوي. پرته له دې چې تاسو په خپلواک ډول کار کوئ، د نورو خلکو سره یو څه تعامل - که دا لږ وي یا ډیر - اړین دی. که تاسو د همکارانو یا پیرودونکو سره اړیکه لرئ، د کار ځای کې د اړیکو غوره مهارتونو رامینځته کول کولی شي تاسو سره ستاسو د مسلک مخ په وړاندې کولو کې مرسته وکړي. د 22 مدیرانو د 2019 مطالعې په کاري ځای کې د مخابراتو مهارتونو څلور اصلي کټګورۍ په ګوته کړې .,Coffelt et al) (2019.

### د کار ځای د اړیکو څلور کټګورۍ:

- **لیکلي اړیکه:** د لیکلو مهارتونه په شمول د ګرامري دقت او د دقیق معلوماتو راټولولو وړتیا.
- **شفاهي اړیکه:** مهارتونه شامل دي لکه غوږ نیول، پوښتنې کول، او د مشر په توګه خبرې کول.
- **لید ارتباط:** مهارتونه لکه د معلوماتو لید او غیر لفظي ارتباط.
- **ډیجیټل مخابرات:** د بریښنالیک له لارې د خبرو اترو مهارت.

لاندې لارښوونې کولی شي تاسو سره د کار ځای کې د اړیکو غوره مهارتونو رامینځته کولو کې مرسته وکړي.

### د وخت څخه مخکې چمتو کړئ

د غونډو او پریزنټشنونو لپاره چمتو کیدل به تاسو په خپلو وړتیاو ډیرباوري کړي. دا ډیرباور کولی شي تاسو سره د وضاحت او آرام سره اړیکه کې مرسته وکړي. د هر ډول خبرو اترو پیل کولو دمخه د احتمالي پوښتنو ذهنونو ته وخت ورکړئ. د اضافي معلوماتو او احتمالي اختلافونو احتمالي غوښتنو ته مخکې فکر وکړئ نو تاسو چمتو یاست چې دوی په روښانه او آرامۍ سره حل کړئ.

### انتظار وکړئ

که تاسو کله هم په کار کې په شخړه کې یاست، ګرم بحث کولی شي په چټکۍ سره تونډ حالت ته واوړي . که امکان ولري، د

ځواب ویلو دمخه انتظار وکړئ – دا په ځانګړي توګه ګټور وسیله ده کله چې د بریښنالیک په اړه شخړې رامینځته کیږي. د ځواب لیږلو ته انتظار کول تاسو ته فرصت درکوي خپل احساسات ساړه کړئ او د شدیدو احساساتو څخه رامینځته شوي یو فکري ، ګټور ځواب رامینځته کړئ.

**په اړیکو کې د مخابراتو مهارتونه**

د روښانه اړیکو درلودل د خوشحاله، سالم اړیکو اساسي برخه ده. که تاسو د خپل ملګري، کورنۍ یا ملګرو سره د خبرو اترو هڅه کوئ، د خبرو اترو اغیزمن مهارتونه رامینځته کولی شي ستاسو په اړیکو مثبت اغیزه وکړي.

**مستقیم اوسئ**

د ځانګړو پوښتنو پوښتنه کول – د پوښتنو پرځای یوازې د هو یا نه ځواب سره – تاسو ته اجازه درکوي د دې ښه پوهه ترلاسه کړئ چې ستاسو ملګري څه احساس کوي (دا مقاله د پوښتنې کولو لپاره ځینې پوښتنې چمتو کوي). ځینې وختونه موږ فکر کوو چې نور څه فکر کوي یا څنګه احساس کوي مګر دا انګیرنې غلط کیدی شي. موږ ممکن د خپل ملګري څخه هم تمه وکړو چې پوه شي چې موږ څه فکر کوو پرته له دې چې دوی ته یې خبر کړو. هڅه وکړئ چې د خپل ملګري سره د خبرو کولو په وخت کې مستقیم اوسئ، د دې په تمه چې دوی پوه شي چې تاسو څنګه احساس کوئ.

**په ځان باور ته وده ورکړئ**

څیړنې ښودلې چې هغه خلک چې د دوی د اړیکو مهارتونو او د ستونزو حل کولو وړتیاو باندې باور لري د اړیکو ډیر اطمینان لري .(Eğeci & Gençöz, 2006) که تاسو د خپل ملګري سره د خبرو کولو وړتیا باندې ډاډه نه یاست چې ممکن ستونزې او غلط فهمۍ رامینځته کړي. په ساده ډول تاسو باید د فعاله اړیکو مهارت زده وي،او په فعاله توګه دملګرو سره د لا اغیزمنو اړیکو کار کول کولی شي اوږده لاره پرمخ بوځي.

**د ځوانانو لپاره د اړیکو مهارتونه**

د اغیزمنو ارتباطي مهارتونو ښوونه د ځوانانو لپاره یو کلیدي مفهوم دی چې زده کوي څنګه د دوی شاوخوا نړۍ سره اړیکه ونیسي. ځینې وختونه ځوانان ممکن د اړیکو په اړه درسونو سره مقاومت وکړي - په دې حالت کې ستاسو په اړیکو کې د صحي اړیکو ماډل کولی شي د دوی سره مرسته وکړي چې څنګه اغیزمن ارتباط کار کوي.

**د "I" بیانونو کارول**

کله چې د نورو خلکو سره اړیکه ونیسئ، نو دا مهمه ده چې د بل چا د ملامتولو پر ځای د خپل نظر څخه شیان چوکاټ کړئ. د مثال په توګه، د دې پر ځای چې ووایې، "تاسو باید ______ ونه کړئ"، هڅه وکړئ چې ووایاست "دا زما د خپګان احساس کوي کله چې تاسو ______". په دې توګه، بل کس د برید احساس نه کوي او دوی کولی شي خپل چلند ستاسو له نظره وګوري.

**مخامخ اړیکه**

موږ هره ورځ د مخابراتو ډیجیټل ډولونو باندې ډیر تکیه کوو. پداسې حال کې چې متن او ویډیو زنګونه کولی شي اړیکه خورا اسانه کړي ، د ریښتیني ژوند انساني اړیکې یو عنصر شتون لري چې نشي بدلیدلی. هڅه وکړئ او د ډیجیټل نړۍ څخه بهر د یو بل سره په حقیقت کې د خبرو کولو له لارې د خلکو سره د خبرو اترو په اهمیت ټینګار وکړئ.

**د ارتباطي مهارتونو فعالیتونه**

**د تلیفون لوبه**

که چیرې کافي خلک وي، ګډون کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې په دوه مساوي کرښو کې ولاړ شي. تاسو کولی شئ یوه کرښه هم جوړه کړئ که چیرې په ګروپ کې له لسو څخه کم کسان شتون ولري.

هغه کس ته لومړی په لیکه کې یوه جمله ورکړئ چې د کرښې په اوږدو کې تیریږي

بېلګې: "دوو کوچنیو کانو غوړي الوتونکي مچان خوړل." "د ژیړ کیلې یوه ډله په نیلي کښتۍ کې پیل شوه".

ډلې ته وواياست چې دوی به د ليکې له لارې يو پيغام د دوی څنګ ته کس ته په چيغو وهلو سره تيريږي.

له لومړي کس څخه وغواړئ چې پیغام د دوی تر څنګ کس ته واوروي، او همداسې د کرښې لاندې.

په لیکه کې وروستي کس ته لارښوونه وکړئ چې هغه جمله اعلان کړي چې دوی یې اوري.

د تلیفون لوبه په ګوته کوي چې څنګه معلومات کولی شي د روښانه اړیکو پرته له شخص څخه بل شخص ته بدلون ورکړي.

## د مخابراتو مهارتونو ته وده ورکولو څرنګوالی

د اړیکو مهارتونو ښه کول وخت او تمرین ته اړتیا لري. لاندې ځینې ساده لارښوونې دي چې تاسو کولی شئ په خپل ورځني ژوند کې په اغیزمنه توګه د خبرو اترو لپاره کار واخلئ.

### فرض مه کوئ

دا آسانه ده چې فرض کړئ چې نور خلک څه فکر کوي مګر تر هغه چې تاسو دا مستقیم له دوی څخه واورئ، تاسو هیڅکله واقعیا نه پوهیږئ. که تاسو د دې په اړه ډاډه نه یاست چې یو چا څه ویلي یا د دوی معنی څه ده، د روښانه پوښتنې پوښتنه کولی شي تاسو د غلط فهمۍ تجربه کولو څخه وژغوري.

### فعال اوریدل

د یو لرغوني یوناني فیلسوف یوه مشهوره وینا ده چې وایي: "موږ دوه غوږونه او یوه خوله لرو، چې د خبرو په پرتله دوه چنده غوږ نیسو". کله چې تاسو د یو چا سره خبرې کوئ، هڅه وکړئ چې په بشپړ ډول تمرکز وکړئ چې بل کس څه وايي، نه دا چې ستاسو ځواب به څه وي. یو چا ته ستاسو پوره پاملرنه کولی شي هغه د لیدلو او اوریدلو احساس وکړي.

### فیډبیک ورکړئ

د فعال اوریدلو بله برخه د هغه څه په اړه فیډبیک ورکول دي چې تاسو یې اورئ. دا بل کس ته ښیې چې تاسو واقعیاً هغه څه اوریدلي چې دوی یې ویلي. د فیډبیک ورکول ممکن د هغه څه بیا تاییدولو په څیر وي چې بل کس تاسو ته وویل لکه **"دا یو ستونزمن حالت ښکاري"**، یا **"زه په هغه څه ویاړم چې تاسو یې ترسره کړي"**. که دوی ستاسو د نظر غوښتنه وکړي، د فیډبیک ورکول ممکن د دوی د ستونزې د حل لپاره مشورې یا وړاندیزونو په څیر ښکاري.

### درناوی او خواخوږي

دا مهمه ده چې د مخابراتو په ټوله پروسه کې درناوی او خواخوږي په سر کې وساتئ. هڅه وکړئ او شیان د دفاعي کیدو پرځای د بل شخص له لید څخه وګورئ. حتی که تاسو د بل چا سره موافق نه یاست، دوی ته درناوی ورکول به اړیکه نوره هم اسانه کړي.

### د مخابراتي مهارتونو لیست

- خلاص ذهن درلودل
- درناوی ښودل
- فعال اوریدل
- د بدن مثبته ژبه
- پوښتنې کول
- نظر ورکول
- قوي احساسات په کنټرول کې ساتل
- واضح او لنډ وي

### د مخابراتو مهارتونو په اړه نرخونه

هڅه وکړئ دا نرخونه بل ځل په یاد ولرئ کله چې تاسو د نورو سره په خبرو اترو کې د مایوسۍ احساس کوئ. د اړیکو غوره مهارتونه زده کول په شپه کې نه کیږي. هڅه وکړئ د خپل ځان سره صبر وکړئ ځکه چې تاسو خپل د اړیکو مهارتونه ښه کوئ.

**د مخابراتي اړیکو په اړه د پوهانو ویناوي.**

- "لوی اړیکه د ارتباط سره پیل کیږي." – اوپرا وینفري
- "په دوامداره توګه خبرې کول اړین ندي چې اړیکه ونیسي." – چارلي کافمن
- "دا مهمه ده چې ډاډ ترلاسه کړو چې موږ د یو بل سره په داسې طریقه خبرې کوو چې روغ شي، نه په داسې طریقه چې دټپونه لامل شي." – بارک اوباما
- "ډیره ناخوښي په نړۍ کې د حیرانتیا او هغه شیانو له امله راغلې چې نه ویل شوي." – فیودور دوستوفسکي
- "په مخابراتو کې ترټولو مهم شی د هغه څه اوریدل دي چې نه ویل کیږي." – پیټر ډرکر
- "مخابرات - انساني اړیکه - د شخصي او مسلک بریالیتوب کلیدي ده." – پاول جی مایر
- "که تاسو یوازې اړیکه ونیسئ، تاسو کولی شئ په لارې لاړ شئ. مګر که تاسو په مهارت سره اړیکه ونیسئ، تاسو کولی شئ معجزې ترسره کړئ. – جیم روهن

**د مخابراتو مهارتونو په اړه وروستي فکرونه**

د نورو خلکو سره اړیکه د ورځني ژوند یوه برخه ده. د مخابراتو مهارتونه تاسو ته دا وړتیا درکوي چې په مؤثره توګه خپل افکار او نظرونه شریک کړئ. دا مهارتونه ممکن ستاسو د اړیکو رضایت ته وده ورکړي او کولی شي تاسو سره د کار ځای کې په پرمختګ کې مرسته وکړي. د ښو اړیکو مهارتونو تمرین کول لکه فعال اوریدل او د فیډبیک ورکول ممکن د نورو خلکو سره ستاسو د اړیکو ښه کولو کې مرسته وکړي. سربیره پردې، ستاسو د اړیکو مهارتونو ته وده ورکول ممکن ستاسو د ژوند اطمینان او ځان ته درناوی زیات کړي.

## ملالې پرېږدئ



استاد غلام نبی ګل

د تراجمیر واورینی څوکې ته ختل په مخکې
د بې حسابه پرهرونو دي ګنډل پـــــه مخکې
په بوسه نه کیږي چې تنده مې پرې ماته کړمه
دا د شډل بډل افـــــغان تندی څټل پـــــه مخکې
ملالې، پرېږدئ چې کولالې شي منګي درجوړ کړي
دا د مریخ چینې، نه یې دي اوبه راوړل په مخکې
لـــــــه طوفانونو سره روږدیه مجاهده آشنا
اوس د ساحل د وږو تږو مړول په مخکې
د ښو غوږ ته د شړشمو کرل یوه غواړي
د یوغ او سپارې او مالې دي رغول په مخکې
وچو سبو د سهار چای کې مو وښکي داغلي
که چیرې کوچ خورو د مستو مو دي شاربل په مخکې
په عقل ندي برابرې زموږ فتحې بـــــــار بــــار
سجدې د شکر ته د شپې زړه کې ورتلل په مخکې
که چیرې غواړو تخت او بخت مو برقرار پاتې شي
د ځمکې تل کې د خولو دي تویول په مخکې
چې هم آمام یې هم مؤذن یې پدې نه جوړیږي
د دغه هسکو منارونو رنګول پـــــه مخکې
چې ښې ونه ښنډې کار خپل تمام ونه ګڼې
د کونډو رونډو، یتیمانو نازول په مخکې

۳۰ /سرطان/ ۱۴۰۱

# نگاهی به سیاست افراطگرائی پاکستان با هدف خنثی کردن ناسیونالیزم پشتون



**کاندید اکادمیسن سیستانی**

پس از آنکه پاکستان در اگست ۱۹۴۷ از پیکر هند جدا گردید و به عنوان کشوری مستقل در جنوب شرق افغانستان عرض وجود نمود، پاکستان بلا فاصله با استفاده از جذبات اسلام خواهی تعداد زیادی ازمردمان قبایلی را مسلح نموده برای تصرف کشمیر که مهاراجای آنجا در سال ۱۹۴۷ اتحاد خود با دولت هندوستان را اعلام نموده بود، بسیج نمودند تا بجنگند. قبایلیان مارش پرشکوهی انجام دادند و بخشی از کشمیر را گرفتند، مگر موفق به تسخیر "سری نگر" مرکز کشمیر نشدند. از آن سال به بعد هند و پاکستان هر یک بربخشی از کشمیر تسلط یافتند و خطوط کنترول مرزی را بین خود برقرار کردند. مگر تا هنوز منازعه بین هند وپاکستان برسرکشمیر دوام دارد و تلاش های بعدی پاکستان برای تسخیر آن ره بجائی نبرده در عوض چندین هزار جنگجوی افراطی را به بهانه الحاق سرزمین کشمیربه پاکستان به کام مرگ سپرد (۱۹٦۵) وبا دادن تلفات سنگین مجبور به عقب نشی شد.

افغانستان نیزبا مطرح کردن حقوق پشتونهای آنسوی خط دیورند ابتدا از عضویت پاکستان در سازمان ملل متحد اباورزید وسپس مسئله ای بنام " پشتونستان" را در صدرسیاست خارجی خود گنجانید و بالنتیجه خشم پاکستان را برانگیخت تا آنجا که پاکستان به بمباری بعضی از مناطق اینسوی خط دیورند مبادرت ورزید . افغانستان نیزدر ۱۹۴۹ رسماً خط دیورند را ملغا اعلام نمود. وداعیۀ پشتونستان را در سرلوحه سیاست خارجی خود گنجانید ، وازطریق برنامه یک ساعته رادیوئی "دا پشتونستان زمونږ" می خواست احساسات ملی پشتونها را در آنسوی خط دیورند تحریک کند، تا برضد حکومت پاکستان قیام نمایند و برای تشکیل یک دولت آزاد ملی متشکل از پشتونها و بلوچها اقدام کنند.

البته افغانستان تا آنجا که برایش مقدور بود، از مساعدت مالی به رهبران و روسای قبایل آنسوی خط دریغ نورزید.طبعاً یک چنین کمک هایی از طرف دولت هند نیز به رهبران قبایل صورت میگرفت.

حکومت پاکستان نیز که خود را با دشمنی دو همسایه غربی و شرقی خود یعنی افغانستان و هند روبرو دید، اولاً خود را زیر چتر حمایت امریکا قرار داد و در پیمان نظامی سنتو شامل گردید و از طرف دیگر به سازمان استخبارات نظامی خود "ای اس آی" وظیفه سپرد تا آخرین شیوه های استخباراتی را برضد این دو کشور بکار گیرد. این سازمان که امروز از قوی ترین سازمانهای استخباراتی منطقه است، مرکز ثقل تلاش خود را روی اسلام سیاسی آنهم در عقب مانده ترین شکل آن طالب گرایی؛ متمرکز ساخت واز آن برای رسیدن به اهداف سیاسی، نظامی وملی خود وسیعاً استفاده نمود.

به کلام دیگر،این سازمان برای خنثی کردن تبلیغات افغانستان وهند، به جلب و جذب ملا ها، مولویها و پیرها و سیدها و رهبران مذهبی و روحانیون که در میان قبایل پشتون از اعتبار فراوانی برخورداراند، پرداخت وبا دادن امتیازات ومستمری فوق العاده مالی و اقتصادی به آنها فقط از آنها خواست تا در میان قبایل

تبلیغ کنند که پاکستان یک کشور اسلامی است و اسلام دین آنهاست که از مرزعلایق قومی وعشیره یی فراتر مینگرد وهرکه خود را مسلمان واقعی و پاک میشمارد، باید رسالت اسلام را از یاد نبرد و رسالت اسلام جهاد با کفار است وچون هند بربخشی از کشمیر که برادران مسلمان آنهاست ، تسلط دارد، باید برای رهائی ونجات مسلمانان کشمیر کمر به جهاد بست وبا کشورهند که دین اکثریت مردم آن هندوئیزم(بت پرستی) است ،به جنگ وجهاد برخاست. آی اس آی(ISI) برای کشاندن و بدام افگندن مردم درجال روحانیون بهترین چاره را در ایجاد مدارس مذهبی و پخش ایدیولوژی افراط گرائی درنظام درسی دیوبندی دید که سابقه دیرینه در پاکستان داشت .

پاکستان برای خنثی کردن احساسات ملی پشتونها به تاسیس مدارس مذهبی در سرتا سر مناطق قبایلی وبلوچستان پرداخت تا بدینوسیله مردم قبایل رامشبوع از اندیشه های افراطگرائی بار آورده از تعلیمات وآموزش های مدرن وعصری به دور نگهدارد ، زیرا که اگرفرزندان قبایل به علوم عصری دسترسی می یافتند ،بدون شک با دانش وعلوم معاصر بار می آمدند وآنگاه احساسات ملی پیدا میکردند و توجه خود را به احقاق حقوق ملت پشتون، معطوف و برای پشتونها حقوق وامتیازات بیشتری ازحکومت پاکستان تقاضا میکردند. مثلاً تقاضای ایجاد یک ایالت خود مختار به نام پشتونخوا را با تاسیس پوهنتونهایی در مناطق قبایلی مینمودند و تقاضای آموزش به زبان مادری خود ( پشتو) را، یکجا با ایجاد نهادهای مطبوعاتی ونشرروزنامه ها و رادیوها و تلویزیونهای به زبان پشتورا میکردند و در تمام عرصه های فرهنگی وسیاسی و اقتصادی و اجتماعی همان حقوقی را از دولت مطالبه میکردند که برای مردم لاهور و پنجاب و اسلام آباد پاکستان داده شده است.

استخبارات نظامی پاکستان در راستای تضعیف ناسیو نالیزم پشتون ، ده ها سال است که درمیان قبایل سرحدی ایدیولوژی بنیادگرائی را ترویج نموده تا ذهن آنها را از هرگونه داعیه حق طلبی ویا حق تعیین سرنوشت خویش منحرف سازد وفقط با پافشاری براسلام واسلامیت به پاکستان هویت بدهند ، وازمبارزه برضد استبداد وبی عدالتی های اجتماعی وسیاسی غافل بمانند.

پاکستان برای انحراف ذهنیت ناسیونالیستی قبایل روی مدرسه های مذهبی سرمایه گذاری کرد وبرای مدرسین این مدرسه ها که وظیفۀ تبلیغ اسلام وجهاد را به پیش می بردند،معاشات بلند منظور کرد. روحانیون وملا امامان که دیدند متاع دینی وملائی شان از طرف دولت خریداری وحمایت میشود، در سرتاسرمناطق قبایلی وبلوچستان درمساجد وخطبه های دینی در پنج وقت نماز، وخارج از اوقات نماز، بجز از اسلام وجهاد با کفار،بحث و سخنی دیگری شنیده و گفته نمیشد. پابندی مردم به اجرای مناسک دینی چنان زیر کنترول ملا امامان مساجد و مولویهای مدرسه های مذهبی قرارداده شد که هرگاه یکی از نمازگزاران اهل قریه یک وقت به نماز جماعت حاضر نمیشد، مورد سوال و بازخواست ملا امام قرار میگرفت و اگرعذرش نزد ملاامام قریه موجه نمی بود،حتی به جزاهای سختی نیز محکوم میگردید.

بنابرین روحانیون، برای اولین بار درمیان قبایل سرحدی پاکستان از موقف ممتاز و ویژه ای برخوردارشدند و چون این مقام وامتیازات را ازاثر تبلیغ وترویج اسلام سیاسی با حمایت سازمان استخبارات نظامی پاکستان بدست آورده بودند ،آنها بقای این وضع را میخواستند و تحصیل در مکاتب عصری را نوعی بی دینی و محروم شدن از بهشت تلقی میکردند.

در همان زمانی که درمیان قبایل سرحد شمال غربی، تحصیل در مکاتب عصری از سوی روحانیون وابسته به "آی .اس.آی" نوعی بی دینی تلقی میگردید، حکومت افغانستان به صدارت داودخان دو لیسه به نامهای «خوشحال خان» و«رحمان بابا» را با لیلیه برای فرزندان پشتونستان ومناطق سرحدی پشتو زبان کشور در کابل تأسیس کرد که در آنها به شاگردان به زبان مادری شان دروس عصری از قبیل:فزیک ، شیمی ، بیولوژی ، تاریخ ، جغرافیا وادبیات پشتو ودرس وطن پرستی وآزادی خواهی وحق طلبی داده میشد. بسیاری از شاگردان آن لیسه

ها به درجات عالی تحصیلی درداخل وخارج افغانستان نایل شدند وبه مقامات بلند دولتی درافغانستان رسیدند. هدف دولت افغانستان از این برنامه ها بلند بردن سطح علمی وشعور اجتماعی وسیاسی فرزندان قبایلی بود تا در آینده برای مردم خود مصدر خدماتی گردند.این لیسه ها تاکودتای ثور درکابل فعال بود.

مگرپاکستان با تحقق سیاست افراط گرائی خود در مناطق قبایلی بیشتر از ۳۰ ملیون مردم پشتونستان را محروم از تعلیمات عصری بار آورد که سطح آگاهی شان فقط به اجرای مناسک دینی وچگونگی رفتن به دوزخ وبهشت از طریق "جهاد"و "شهادت "خلاصه میشود.(میزان باسوادی در میان مردان قبایل ۱۷ ٪ درمیان زنان۳ ٪ است)

نخستین نتیجه تلاش های "آی اس آی" در راستای ناکام کردن ناسیونالیزم پشتون وافغانستان این بود که گروهی بزرگ از هواداران "داعیه پشتونستان" از این نهضت در سال ۱۹۵۴ جدا شدند و بنای همکاری با دولت پاکستان را گذاشتند. براثر این از هم گسیختگی وتفرقه قومی ،دولت پاکستان در١٩٥٦قبایل آنسوی خط دیورند را به نام "یونت شمال غربی" جزو پاکستان اعلام نمود. واین خبر سبب عکس العمل شدید دولت افغانستان گردید وصدراعظم افغانستان داودخان در برابر این تصمیم پاکستان، نطق شدید اللحنی نمود وفردای آن بیرق قونسلگری پاکستان در جلال آباد از طرف تظاهرکنندگان به آتش کشیده شد وبالمقابل بیرق قونسلگری افغانستان در پشاور از طرف آن دولت در آتش سوخت وگپ به سفربری ولشکرکشی شد(١٩٥٦).

## تجاوز شوروی برافغانستان، چانس طلائی برای پاکستان:

بعقیده صاحب نظران "تجاوز شوروی برافغانستان وجنگ و جهاد درمقابل شوروی ، چانس های طلایی را برای پاکستان مساعد ساخت که یک طرف با سرازیرشدن سیل دالر های امریکا وعربستان سعودی ودیگرکشور ها قادرشد در رقابت با هندصاحب سلاح اتومی گردد و از سوی دیگر از شرایط بوجود آمده در جهت تضعیف ناسیونالیسم پشتون استفاده کند. پاکستان فعالانه از پان اسلامیسم در میان پشتونها حمایت نمود و سرمایگذاری های بزرگی بر سر احزاب بنیاد گرای پاکستانی در مناطق قبایلی نمود. محصول این سیاست ها ظهور نوع جدید اسلامیزم پشتون در منطقه است که برخی جلوه های آن با به قدرت رسیدن طالبان در افغانستان به نمایش گذاشته شد، چنانکه طالبان همبستگی پان اسلامیزم را نسبت به همبستگی قومی ترجیح میدهند. وبه خاطر استقرار شریعت اسلامی بیشتر از جان مایه میگذارند تا به خاطر احقاق حقوق هم تباران قومی یا آزادی ملی خود.

این مسئله دیگر حاجت به اثبات ندارد که طالبان هیچگونه احساس پشتونولی ندارند، اگر میداشتند ،زندگی عادی وفقیرانه پشتونهای اینسوی خط دیورند را تباه نمی کردند. مکتبها را نمی سوختاندند، و معلمان ما را نمیکشتند.آخر فرزندان پشتون دراین مکاتب فقط علم وسواد می آموزند تا در اینده در فعالیتهای اقتصادی و اجتماعی وسیاسی کشور خود سهم بگیرند واز این راه امکانات یک زندگی ارام وخوشبخت برای خود رافراهم کنند، پس چرا اینها فرزندان پشتون را از نعمت سواد وتعلیم محروم میسازند؟ وزیر تعلیم وتربیت فاروق وردک روز ۱۸ نومبر۲۰۰۸ اعلام کرد که ٦٧۴ مکتب در مناطق جنوب وجنوب غربی کشور بروی اطفال مسدود شده و۵۵۰ باب آن در ولایات هلمند وکندهاروزابل وارزگان اند. مسدودشدن مکاتب بروی فرزندان پشتون بخاطراینست که پاکستان نمیخواهد فرزندان پشتون به تحصیل علوم بپردازند و از تکنالوژی عصری بهره مند شوند.سازمان استخبارات نظامی پاکستان (آي .اس. اي) توسط طالبان مکاتب مناطق پشتون نشین را میسوزاند، معلمان وعلما ومشران قومی را میکشند ودروازه های مکاتب را مسدود میکنند تا فرزندان افغان بی سواد وجاهل بار ایند.حنیف اتمروزیرتعلیم تربیه وقت ،دربیانیه ای گفت :در سال ۲۰۰۷، ٦٠٦ مدرسه تعطیل و درحدود ۳۰۰هزار نفرشاگرد از ادامه تحصیل محروم شدند١٥٢نفرمعلم ازسوی طالبان به قتل رسیده و۲۰۰ شاگرد هم مجروح شده اند.

درپاکستان ملاها و افراط گرایان اسلامی که بیش ازنیم قرن از حمایت آشکار دولت برخوردار بوده اند، از اسلام و قوانین شریعت کاملاً استفاده ابزاری میکنند. ملاها و مدارس دینی درپاکستان امروز هم توسط "جنگ و ترور" تغذیه میشوند. تعداد مدرسه های دینی در پاکستان را دقیقاً کسی نمیداند. برخی تعداد آنها را تا 30 هزارمیشمارد. تعداد مدارس دینی درصوبه سرحد پاکستان به ده ها هزارباب میرسد.میتوان گفت که در هر دهکده وهر روستائی لا اقل یک مدرسه مذهبی مصروف مغز شوئی فرزندان قبایلی است. تولیدات این مدارس به کجا صادرمیشود ؟ بدون تردید اکثریت شان بعد از مغزشوئی برای جنگ و حملات انتحاری به کشمیر برضد نیروهای هندی ویا افغانستان اعزام میشوند وثبات وامنیت دراین کشورها را مختل میکنند.

در ارتباط به هند موفقیت پاکستان اینست که نیروهای افراطی را همواره برای عملیات جهاد درسرکشمیرباهند آماده کرده است، چنانکه از همان ۱۹۴۷ تاکنون هر روز هند خود را با تهدید افراطیون اسلامی پاکستانی روبرو می بیند وهرچندگاهی با اجرای عملیات تروریستی در محلات مزدحم هندی باعث تلفات فراوان انسانی میگردند و باری همین افراطیون با یک حمله برکارگیل کشمیر تحت حاکمیت هند در ۱۹۹۹ و بار دیگر در ۲۰۰۲ بر پارلمان هند حمله کردند و زنگ خطر درگیری میان دو کشور صاحب سلاح ذروی را بشدت بصدا در آورند.

عملیات تروریستی اخیرماه نومبر لشکر طیبه پاکستان در شهر بمبئی هند و منجمله در هوتل تاج محل در مدت چهار روز نه تنها جان ۱۷۱ نفر را گرفت و بیش از ۳۰۰ تن را مجروح ساخت، بلکه با وجود انکار پاکستان از دست داشتن در این عملیات تروریستی سرانجام یکی از دستگیرشدگان اعتراف نمود که که گروه لشکر طیبه با حمایت سازمان استخبارات نظامی پاکستان طراح و مجری این دهشت افگنی بوده اند. این عملیات وحشیانه که اعتراض شدید مردم هند را نسبت به نیروهای امنیتی آنکشور در پی داشت، تشنج میان هند و پاکستان را تا لبه پرتگاه یک جنگ تمام عیار ذروی محتمل ساخته است. براثرفشار امریکابر پاکستان، آن کشور مجبورگردید تا برمراکز پرورش لشکر طیبه حمله ببرد و تعدادی از رهبران این سازمان افراطی اسلامی را دستگیر کند. هند نام ۲۰ تن از رهبران شبکه های افراطی اسلامی را به پاکستان ارائه کرده تا آنها را دستگیر نموده به هند تحویل دهد.

شورای امنیت سازمان ملل متحد نیز لشکر طیبه و گروه افراطی جماعت الدعوه وابسته به لشکر طیبه را،در لست تروریستان شامل نموده واز پاکستان خواسته است فعالیتهای این گروه هارا نیزغیر قانونی اعلام کرده به دستگیری رهبران شان بپردازد. پاکستان ظاهرا امرمسدود ساختن کمپ های لشکرطیبه وجماعت الدعوه را داده است.

داعیه پشتونستان که از اختلاف برسرخط دیورند، سرچشمه گرفته بود، وهمنوائی هند وتائید شوروی سابق را بهمراه داشت ، در واقع زمینه ساز توسعه مدارس دینی وتقویت افراط گرائی درمیان قبایل شد که نتیجه آن ازدیاد روز افزو ن افراط گرایان برای حمله برمواضع هند درکشمیر گردید و درضمن ناسیونالیزم پشتون را برای احقاق حقوق مدنی قبایل از دولت مرکزی تا ظهور جنبش پی تی ام در۲۰۱۸ به صفرضرب زده بود.

## استنتاج از سیاست افراطگرایی پاکستان:

سه فکتور عمده یعنی داعیهٔ پشتونستان ،مسئلهٔ کشمیر بین هند و پاکستان و تجاوز شوروی بر افغانستان در 1979 سه عامل عمده رشد افراط گرائی در پاکستان وبه خصوص در مناطق قبایلی آن کشوراست.به عبارت دیگر میتوان نکات آتیرا برجسته نمود:

۱- تهیه و تجهیز یک نیروی رادیکال و افراطی اسلامی برای جهاد علیه هند برسر مسئله کشمیر.مانند

لشکر طیِّبه که حدود پنجاه هزار ملیشه مسلح دارد و گروه اصلی در جهاد برای آزاد کردن

کشمیراست.

۲- به خاطر خنثی کردن داعیه پشتونستان ،پاکستان تا توانسته به ترویج اسلامگرائی وتکثر مدارس مذهبی درمناطق قبایلی پرداخت تا بنیادگرائی وپان اسلامیزم را جاگزین ناسیونالیزم پشتون کند. پاکستان به این نیت خود موفق گردید، وتمام تلاش هاو تبلیغات افغانستان را برای ایجاد پشتونستان به صفر ضرب کرد. و امروز به جای یک حزب نیرومند ناسیونالیست پشتون که برای آزادی خود از زیر سلطهٔ پنجابی ها برزمد، شش حزب رادیکال اسلامی در مناطق قبایلی ظهور کرده اند که هشتاد در صد مردم قبایل را بدنبال خود میکشند وبا هرگونه روحیهٔ همبستگی قومی وپشتونولی وپشتونستان خواهی در تقابل وتعارض قراردارند و احزاب ناسیونالیست پشتون ازقبیل : عوامی نیشنل پارتی برهبری اسفندیار ولی، وحزب پشتونخوا نیشل پارتی برهبری محمودخان اچکزی اجازه ندارند در مناطق قبایل آزاد از ترس بنیادگرایان جمعیت العلمای پاکستان وطالبان تندرو پشتون دست به فعالیت سیاسی بزنند. بدین سان پشتونستان خواهی ما به جای نفع به ضرر پشتونهای آنسوی خط دیورند تمام گردید.

۳- بهره برداری سیاسی امریکا از اسلام برای انتقام کشی از اتحاد شوروی، به بهانه مقابله با کمونیزم پس از تجاوزشوروی برافغانستان در دسمبر۱۹۷۹، سنت فراموش شده جهاد را دوباره وارد عرصه زندگی ساخت .وبیش از هروقت وهرچیز دیگر به تقویت وتعمیق بنیاد گرائی درپاکستان ومنطقه انجامید.

۴- ترساندن امریکا وکشورهای غربی از تروریزم، به منظورکسب امتیازات مالی به پاکستان، تا کشورهای غربی پاکستان را سدی در برابر افراط گرایان بدانند و این سد را همواره با پول وامکانات اقتصادی خود تقویت کنند؛ تا نشکند، که اگرشکست ، غرب خواب خوشی از دست تروریستان تربیت شده در پاکستان نخواهد داشت.

گرچه پاکستان باتوسل به اسلام سیاسی در راستای ناکام ساختن افغانستان بر سر مسئله پشتونستان ویا هندوستان برسرمسالهٔ کشمیر، به موفقیت های زیادی دست یافت، مگر اکنون بهای بزرگی برسر اینکارخود می پردازد.ه کلام دیگر، آتشی را که پاکستان درمدت نیم قرن پف کرده تا دود آن چشم کابل ودهلی رابسوزاند، امروز به آتشفشانی مبدل شده که نزدیک است خود پاکستان را هم نابود کند. مبارزه طلبی افراطیون اسلامی به نام تحریک طالبان پاکستان از اوایل سال ۲۰۰۷ آنکشور را به آشوب کشانده است. وزیرستان جنوبی وشمالی و دره سوات وباجوربه گورستان عساکرپاکستانی مبدل شده وده ها هزار سرباز پاکستانی مستقر در مناطق قبایلی توان جلوگیری وخاموش کردن این آتش مشتعل شده را ندارند.

**۵- ظهور جنبش تحفظ پشتونها درسال ۲۰۱۸ برهبری منظور احمد موج اعتراضات ده ها و صدها هزار پشتون در مناطق قبایلی برضد سیاست تبیعیض آمیز اردوی پاکستان، نشانگر این امر است که دیگر سیاست حمایت از اسلام افراطی به هدف تصعیف ناسیونالیزم پشتون موثریت خود را از دست داده است. سیاستی که برای ۷۰ سال جلو احساسات ناسیونالیزم پشتون را گرفته بود.**

**با قتل بیرحمانه گیله من وزیر، شاعر پر شور و پرجاذبه جنبش تحفظ پشتون در ۱۲ جولای ماه جاری، خشم قبایل مختلف پشتون را بطور بی سابقه ای برانگیخته و میلیونها جوانان آگاه پشتون را در وزیرستان شمالی و جنوبی، بنو، کرم، سوات و باجور و غیره را برآن داشت تا دست به تظاهرات وسیع بزنند و خشم و نفرت عمیق خود را در برابر سیاست تبعیض آمیز اردو ودستگاه جهنمی آی .اس. آی ابراز کنندو با فریادهای پرخروش «لر او بر یو افغان» اتحاد و همبستگی خود را اعلام کنند وبا صراحت اظهار نمایند که نمیخواهند بعداز این ننگ غلامی پنجاب را قبول کنند ووقت أن رسیده است که برای تعیبن سرنوشت خود فیام کنند و تا بحقوق حقه خود نرسیده اند دست از اعتراض برندارند.**

پایان

# د وخت پر وړاندې



قدرت الله هېوادپال

د مهارت یو تعریف دا هم دی چې ماهره شخص ورسپارل شوی کار دومره ژر او په روانۍ اجرا کوي چې نورو ته آسانه ښکاره شي. له آسانوالي سره ژر اجرا نږدې اړیکه لري، یعنې خپلې چارې له څه بهانې او عذر پرته هر څومره ژر چې کیدای شي سر ته رسوي.

خو دغه شخص چې د مهارت دغې کچې ته رسیږي نو هغه زحمت او ساعتونه چې د خپل مهارت پر زده کړه او غنا یې مصرفوي، له عامو نظرونو پټ وي. لدې سره بل اړخ د چارې تکرار دی، هر څومره چې تاسې یوه چاره ډیره اجرا کوئ، همدومره درته هغه ډیره راجع کیږي.

لکه د ماهره ډاکتر مثال راواخلئ، هر څومره چې ډیر ناروغان تداوي کوي، همدومره ورته نور ناروغان راځي، دغه روغ شوي ناروغان ورته نور پیدا کوي، او ډاکتر لپاره هره تداوي یوه زده کړه وي، هر څومره چې ډیر له خپل مسلک سره پاتې کیږي همدومره وده کړي.

وخت د هغې له استعمال سره مستقیمه اړیکه لري، یعنې وخت د پیسو، خوراک ښباک، جامې یا نورو په څیر زیرمه نه ده، چې که چیرې ونه کارول شي، پر خپل ځای پاتې کیږي او ډیریږي. له وخت به ګټه اخلئ، ګټه هغه کار دی چې تاسې ته ارزښت لري. وخت روانې اوبه دي، که مو پکې ولمبل، ومو ښښلی یا مو ترې بله ګټه واخیستله ښه ده، که نه اوبه خو روانې وي، تاسې ته نه دریږي.

ښايي یو وخت به سیند ته ناست وئ، او ځینې وخت به احساس کړئ چې لښتی هم نه دررسیږي. کله به احساس کوئ چې د درکړل شوي کار لپاره ډیر وخت لرئ، خو کله به بیا کار لپاره وخت ونه لرئ.

د ټولنیزو شبکو پدې پیر کې خلک احساس کړي چې باید تل بوخت وي، یو نه یو څه باید وکړي، مهمه نه ده چې څه کړي، خو باید مصروف وي. د همدې مصروفیت احساس له کبله د ټولنیزو شبکه کارول تر روږدتیا رسیدلي دي. یو غیر شعوري حالت وي چې باید ټلیفون مو په لاس کې وي، که ټلیفون مو له نظره لیرې شو، احساس کوئ چې له نړۍ وروسته پاتې یاست.

وخت د ساعتونو له کشف سره میخانیکي شو، د ساعتونو د کشف اساسي لامل د عیسوي پادریانو لخوا په شپه کې د عبادت لپاره پر ټاکلي وخت راپاڅیدل وو، چې دغې چارې لپاره د اوبو سطلونو له



ډکولو نیولې د خلکو تر سهاره ویښ کینولو پورې دوی هر څه وکړل، چې وروسته یې د ساعت له کشف سره دغه ستونزه حل شوه.

خو د ساعت دغه کشف وخت هم میخانیکي کړ، یعنې د ژوند هره چاره باید ټاکلی وخت ولري، خو د وخت ټاکل چارې ته ارزښت نه

ورکوي. وخت او نه يې اندازه کول، په خپل ذات کې مهم نه دي. بلکه، دغه دقيقه يا ثانيه تاسې چيرې مصرفوئ، دغه مهمه ده.
نن ورځ ممکن د خپلې راتلونکې ورځ بهترۍ لپاره وکاروئ. له خپلې دندې، اوسني ژوند، زده کړې، روغتيا يا نورو ګيله من ياست، آيا غواړئ چې ټول عمر دغه ګيله ولرئ، يا نن پر خپلو مهارتونو، پوهه، نوې څه زده کړې، روغتيا او نورو کار کوئ، او د نن ګيله سبا ته نه پريږدئ.
انسان پر حرکت او زحمت مکلف شوی دی. له نن څخه به د سبا د بهترۍ لپاره کار اخلي، که نن پر ځای ناست وي، نو سبا به هم پر ځای ناست وي، که نن حرکت کړي، سبا به هم حرکت وي. د وخت دوامداره کارول به درته دوامداره ارزښت راوړي.
نن که هر بريالی او ماهره شخص وينئ، هغې له خپل وخت څخه بهتره ګټه اخيستې ده، او دغه ګټه اخيستنه يې د دې سبب ګرځولې ده چې د خپلو اړتياوو پوره کولو لپاره لږ زحمت او وخت مصرف کړي. د اړتياوو له پوره کيدو وروسته اضافي وخت د ځان پر بهترۍ او له ژوند څخه پر خوند اخيستو مصرفوي، او ځان لپاره يې د دوامداره ودې يو ترتيب رامنځ ته کړی دی.
موږ دغه بحث د ماهره شخص پر تعريف پيل کړ، د غير ماهر او غريب پر تعريف يې ختموو، چې غير ماهر شخص پر دې مشهور وي چې پر ورسپارل شوي کار ډير وخت تيروي، خلک پرې د کار اعتبار نه کړي، چې له کبله يې شته مشتريان هم هغه پريږدي، او غريب پر دې وي چې په اندکو چارو يې ډير وخت مصرفيږي او ورځ تر بلې بهتري نهويني، نو ځکه پر خپل حال پاتې وي.
بدلون غواړئ، وخت مو غوره وکاروئ.




## Support Dawat Media Center

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you**

## د دعوت رسنيز مرکز ملاتړي شئ!

**زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي يا لويه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پياوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنيز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امريکايي ډالر يا يورو مرسته وکړئ - دا يوازې يوه دقيقه وخت نيسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره مياشت په منظم ډول ټاکلی اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!**

## به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

**زمان حمايت ما همين اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و يا کوچک، مطبوعات ما را تقويت و از آينده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/يورو حمايت کنيد - فقط يک دقيقه طول می کشد. اگر می توانيد، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنيد . تشکر .**

# قوش تپه و سفر آخرین و مشهور ۱۹۷۷ رئیس جمهور داود به اتحاد شوروی



احمد فواد ارسلا

بعد از نشر مقالات محترم نجیب داوری در ارتباط به دلایل اصلی مثل پلان کانال قوش تپه و استفاده مشروع افغانستان از آبهای دریای آمو در مقایسه به اتهام کهنه و ضعیف صمد غوث که عصبانیت رئیس جمهور داود در مقابل برژنف را سبب خشم شوروی و عواقب آن عنوان میکردند، یکبار دیگرمباحث تحلیل منطقی و مستند و مباحث احساساتی و افترا در مورد آن دوران از سر گرفته شده است.

جمعی ازمنتقدین بر محترم نجیب داوری انتقاد کرده اند که گویا کانال قوش تپه و استفاده مشروع افغانستان از آبهای دریای آمو برای اقتصاد قوی و بزرگ اتحاد شوروی آنقدرمهم نبود که چنان باعث خشم شوروی بشود که قصد نابودی داود و رژیم جمهوری وی را نمایند. مطالعه اسناد و وقایع آن دوران نشاندهنده این است که نه تنها عملی شدن پلان کانال قوش تپه و استفاده مشروع افغانستان از آبهای دریای آمو (که محدود به کانال قوش تپه نبود) خطر جدی برای سیستم اقتصادی شوروی محسوب میشد ، بلکه تغیرات اساسی در دولت جمهوری داود خان شامل رفع قدرت از چپی ها که برای کودتای 1973 استفاده شده بودند و نزدیکی روزافزون دولت جمهوری داود خان به دنیای غرب شوروی ها را به شدت عصبانی ساخته بود.

باید در نظرداشت که اقتصاد پلانگذاری شده اتحاد جماهیر شوروی یکی از خصوصیات برجسته حکومت سوسیالیستی آن بود که با کنترل متمرکز و تخصیص استراتژیک تولید در سراسر قلمرو وسیع و متنوع خود مشخص می‌شد. مناطق مختلف به نقش‌های تولید خاصی اختصاص داده شدند، به طوری که آسیای مرکزی برای تولید زراعتی، بخصوص پنبه، و قلب روسیه و مناطق دیگر برای صنعتی‌سازی سنگین تعیین شدند. مبرهن است که مرکز مودل اقتصادی اتحاد جماهیر شوروی نظریه پلانگذاری مرکزی بود که توسط کمیته پلانگذاری دولتی (گاسپلان) اداره می‌شد. دولت پلان های پنج‌ساله‌ای را تدوین می‌کرد که اهداف اقتصادی، اهداف تولید و توزیع منابع را مشخص می‌کرد. ادعا در این بود که این پلان ها به منظور استفاده مفید از منابع طبیعی و انسانی گسترده اتحاد جماهیر شوروی و حذف نقایص اقتصادهای بازار سرمایه‌داری تدوین شده و تخصیص انواع مختلف تولید به مناطق گوناگون بر اساس ملاحظات جغرافیایی، اقلیمی و منابع انجام می‌شد.



رئیس جمهور داود و برژنف — رئیس جمهور داود وکیسنجر — رئیس جمهور داود و انور سادات

بر اساس این پلان آسیای مرکزی، شامل جمهوری‌های ازبکستان، ترکمنستان، تاجیکستان، قرقیزستان و قزاقستان،

به طور عمده به تولید زراعتی اختصاص داده شده بود که تأکید زیادی بر تولید پنبه داشت. آب و هوای خشک منطقه و سیستم‌های گسترده دریا های آن به عنوان شرایط مساعد برای کشت پنبه در نظر گرفته می‌شدند که برای صنعت نساجی شوروی حیاتی بود.پروژه‌های آبیاری بزرگ، مانند ساخت کانال قره‌قوم و استفاده گسترده از آب دریای آمو و سیردریا، برای حمایت از کشت پنبه اجرا شدند. مزارع جمعی (کولخوز) و مزارع دولتی (ساوخوز) برای رسیدن به اهداف تولید تعیین شده توسط دولت مرکزی تأسیس شدند. انتظار می‌رفت این مزارع از روش‌های زراعتی تعیین شده به صورت مرکزی پیروی کرده و به سهمیه‌های مشخص شده در پلان‌های پنج‌ساله دست یابند.



بادر نظرداشت توضیحات فوق هرنوع اخلال در عملی کردن هر گوشه ای از پلان متذکره اخلال و تهدید جدی در جریان تولید و اقتصاد اتحاد جماهیر شوروی محسوب میشد و بر این اساس پلان کانال قوش تپه و دیگر پلان های استفاده از آبهای مشترک تهدید جدی برای اقتصاد اتحاد جماهیر شوروی بود. باید عرض شود که علاوه برپلان کانال قوش تپه پلان های زیادی برای استفاده از آب های شمال افغانستان مطرح شده بود که به صورت مثال راپور نشر شده درشماره دوم اکتوبر1976کابل تایمزدر بودجه سال 1976 دولت جمهوری داود خان سیستم آبیاری کوکچه ، ساختن سیستم آبیاری خان آباد، ساختن دیوار های دریای پنج و آمو ،ساختن پمپ آب کانال قوش تپه و انتقال برق به مزار شریف را تذکر داده است. نیت شوروی از عملی نکردن قرارداد پروژه های متذکره که منجر به قرار داد های با ممالک غربی شد روشن است .

البته بر علاوه پلان کانال قوش تپه و استفاده مشروع افغانستان از آبهای دریای آمو امروز اکثر محققین و مورخین از نزدیکی داود خان به شاه ایران و انور سادات منحیث نشانه های دوری دولت جمهوری داود خان از بلاک شرق و نزدیکی به بلاک غرب یاد میکنند که درست است. باید علاوه شود که قبل از آن سفر آخری و مشهور شده توسط ادعای مورد سوال قرار گرفته شده صمد غوث مبنی بر دعوای عصبانی داود خان و برژنف ، دولت جمهوری داود خان به حدی به غرب نزدیک شده بود که ماه ها قبل از این سفر دولت جمهوری داود خان در مقابل توطئه های احتمالی شوروی تقاضای کمک مستقیم استخباراتی از امریکا را به کیسینجر وزیر خارجه امریکا مطرح کرده بود که بدون شک با نفوذ شورروی و چپی ها در افغانستان به اطلاع شورروی ها رسیده بود.متن سخنان داود خان و کیسینجررا در لینک ذیل مطالعه کرده میتوانید:

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Arsala_ShaidDaoud_Kissinger.pdf

در ذیل ترجمه سند راپور سفیر امریکا در افغانستان در سال 1977 در آستانه سفر مشهور و آخرین رئیس جمهور داود به شوروی غرض مطالعه محققین منطقی تاریخ عرضه میگردد که نشاندهنده سردی روابط قبل از سفر است . راپور نشان میدهد که مقامات افغان تاکید دارند که سفر روتین و معمولی بوده و حتی از قبل زمینه آمدن یک هیئت چین را به کابل آماده کرده بودند که نگذارند سفر داود به شوروی همه مطبوعات را تحت الشعاع قرار بدهد :

تلگرام از سفارت امریکا در افغانستان به وزارت امور خارجه

کابل، ۱۳ اپریل ۱۹۷۷،

۲۵۴۴. موضوع: افغانستان داوود  و سفر او به اتحاد جماهیر شوروی.

خلاصه: داوود "در مشکل سیاسی" نیست، اما کشوری که او در ۱۲ اپریل برای سفر سه روزه به اتحاد جماهیر شوروی ترک کرد، کاملاً مانند آنچه قبل از "لویه جرگه" (مجلس قانون اساسی)، تصویب قانون اساسی جدید اوایل سال جاری و انتصاب کابینه جدید بود، نیست. در مورد خود این سفر، ما باور داریم که تذکرات افغان‌ها راجع به اینکه این سفر "روتین" است درست است—هرچند درجه روابط افغان-شوروی و رویدادهای سیاسی اخیر در این بخش از جهان موضوعات زیادی برای بحث فراهم خواهد کرد. به نظر می‌رسد که این رویداد به یک رویداد معمول در روابط افغان-روسی تبدیل شده است، یک هیئت چینی درست به موقع در کابل ظاهر شد تا در مقابل موضوع اصلی (سفر داود خان به شوروی) حاشیه ایجاد کند. پایان خلاصه.




رئیس‌جمهور داوود در تاریخ ۱۲ اپریل به همراه وزیر تجارت (جلالر)، وزیر پلان (خرم)، وزیر آب و برق(محمدی)، وزیر مسئول امور خارجه (وحید عبدالله)، و منسوبین پایین‌رتبه‌ای که شامل صمد غوث (معاون سیاسی وزارت خارجه – در واقع معاون وزیر) بود، به مسکو رفت.

صحنه داخلی. در تمام مدت اداره داود صحنه سیاسی داخلی که داوود فعلا پشت سر گذاشته است، وضعیتی است که از همیشه کمتر آرام و کمتر تثبیت شده بود. نارضایتی درباره کابینه‌ای که در تاریخ ۱۷ مارچ اعلام شد  در "استبلشمنت" افغان و به اعتقاد ما در لایه‌های کمتر معتبر نیز، پدیدار شده است. یکی از پسران کاکای  بانفوذ محمدزی داود، سلطان محمود غازی، نارضایتی خود را پنهان نکرد و علنا ابراز نارضایتی کرد، که این نارضایتی به دلیل نارضایتی او از نزدیک‌ترین همکاران داوود پرورش یافته است. (راپور ۲۵۳۰ قبلا فرستاده شد)

علاوه بر این، داوود نتوانست یا نخواست کسی را برای انجام نقش معاون رئیس‌جمهور که به‌طور قانونی لازم است، منصوب کند، زیرا حزب انقلاب ملی که این مقام (یا "این مقامات"، زیرا داوود ممکن است چندین معاون رئیس‌جمهور منصوب کند) باید ازاینن حزب انتخاب شوند، هنوز شکل نگرفته و "اعلام" نشده است. (وزیر امور خارجه وحید عبدالله به سفیر گفت که در غیاب داوود، امور کشور در دست یک "گروپ" خواهد بود— که اعضای آن گروپ هم مشخص نشده‌اند.) در یک کنفرانس مطبوعاتی که در آستانه‌ی عزیمت داوود برگزار شد، او در واقع اذعان کرد که تشکیل حزب به نتیجه نرسیده است—به این معنی که در حال حاضر، حزب توسط "تعدادی فرصت‌طلب" تصرف شده است—تعدادی "خرابکار" که "به میل خود" عمل می‌کنند. از برخی نواحی نیز اشاراتی به یک رسوایی احتمالی که ممکن است شامل بدرفتاری با زندانیان سیاسی باشد، به گوش می‌رسد که داود از آان باخبر نیست. (حقایق این موضوع مبهم است و هنوز قابل باور نیستند—و قطعاً نباید به افغان‌ها ذکر شود. ما این موضوع را اینجا به عنوان اتهاماتی که ممکن است بر رژیم تأثیر بگذارد، خواه درست یا نادرست، ذکر می‌کنیم.)

شاید همه این‌ها فقط یک لحظه اجتناب‌ناپذیر از نارضایتی پس از امیدهای بالایی است که توسط لویه جرگه ، قانون اساسی جدید و سال نو تقویم افغانستان در ۲۱ مارچ ایجاد

شده است. اما این نشانه‌های منفی ممکن است بعدها به عنوان نشانه‌هایی با اهمیت وعمیق‌تر شناخته شوند.


صحنه خارجی. به جز ناراحتی‌هایی با ایران (قبلا راپور فرستاده شده)، روابط خارجی افغانستان خوب است—از جمله با اتحاد جماهیر شوروی. یک خوش آمد گوئی روسی برای داوود درست قبل ازسفر در "بولتن خبری" سفارت شوروی در ۹ اپریل ظاهر شد، که به افغان‌ها اطمینان می‌داد که "ایده‌آل‌های ما ... دخالت می‌کنیم و نه در اقدامات مستقل مردم شما دخالت می‌کنیم. ما از هر پدیده‌ای که نقشی پیشرو در توسعه مردم شما داشته باشد، حمایت می‌کنیم."

مقامات اینجا در "توصیف" سفر داوود به مسکو همان موضع "درست" (قطعه های بازی پنهان خود را) را حفظ کرده‌اند که معمولاً وقتی روابط افغان-شوروی مطرح است، اتخاذ می‌کنند. در واقع، هیچ چیزی به ما (یا به کسی، ما معتقدیم) در مورد این سفر نگفته‌اند. در کنفرانس مطبوعاتی ۱۰ اپریل ، رئیس‌جمهور داوود این سفر را به‌عنوان چیزی بیش از یک حرکت متقابل برای سفر رئیس‌جمهور پودگورنی به کابل در دسمبر ۱۹۷۵ ارائه نداد، فقط یک نوع توضیح مثل "رهبران دو کشور ... تقویت و تحکیم روابط". این ممکن است بی‌پرده باشد، اما ممکن است حقیقت نهایی هم باشد. به نظر می‌رسد حجم معاملات افغانستان-روسیه در زمینه کمک و تجارت "اجندای" مذاکرات را پر کند، انتظاری که با بردن سه وزیر کابینه از حوزه تجارت/اقتصاد/توسعه توسط داوود تأیید می‌شود. البته اخیراً به اندازه کافی در جنوب آسیا اتفاق افتاده است—مواردی مانند انتخابات هند و محاصره سیاسی علیه بوتو—که در زمان باقی‌مانده، گفت‌وگوهای زیادی برای بحث وجود داشته باشد.

. یک "هیئت چینی" در آستانه عزیمت داوود با یک نظمی در کابل ظاهر شد که امکان تصادفی بودن را رد می‌کند. این بار به شکل آقای چای شو فان، معاون وزیر تجارت خارجی، که در ۹ اپریل وارد کابل شد. زمانی که روابط افغان-شوروی می‌تواند به یک موضوع مورد توجه رسانه‌ها تبدیل شود این زاویه ورود چینی ها که بر آن تاثیر گذارد به یک رویداد منظم تبدیل شده‌اند. ما مطمئن نیستیم که چگونه این زاویه های مختل سازی توجه به شوروی به موقع پلان می‌شوند، هرچند وقوع آنها به وضوح با نیت‌های هر دو طرف افغان و چینی همزمان است. سفیر در ۱۰ اپریل با وحید عبدالله ملاقات کرد و او را در جریان پیشنهادات SALT ایالات متحده که توسط وزیر خارجه {کیسینجر} در سفرش به مسکو ارائه شد، قرار داد. الیوت



# شعر د علم په تله کې



نقیب احمد عزیزي

له شعر سره د الماني فیلسوف فردریش نیچه تړاو خورا پېچلی دی. سره له دې چې د شعر قوت او ښکلا یې منله، خو له صداقت او ریالیزم سره د کم تړاو له امله یې انتقاد هم وربانديې کاوه. په خپل کتاب «د تراژیدۍ زوکړه» کې لیکي: شعر «خواږه زهر» دي چې خلک له حقیقته پورې وهي. نیچه پر دې باور و چې واقعي حکمت په فلسفه کې نغښتی، په شعر کې نه. د دې ټولو انتقادونو تر څنګ یې د شعر ارزښت هم مانه او حتی شاعري یې کوله. د دغه رنګ سوفسطایي (Sophist) حالت په لړ کې خو یې څکه ورسره تړاو ظریف او پېچلی ګڼل کېږي، خو په نهایت کې یې بیا هم د یوه هنري شکل په توګه لید چې ښایست یې ممکن دی.

په وروستیو وختونو کې د شعر د اغېز په اړه په نړیوالو پوهنتونو کې ګڼې او بېلابېلې څېړنې شوې دي چې له دې جملې په ټکزاس او آسټین پوهنتونونو کې د شعر د درماني اغېزو په برخه کې تحقیقات یادولای شو. دغه راز د ټولنیزو پیوندونو پر پیاوړې کولو د شعر د اثراتو اړوند په کلیفورنیا پوهنتون کې هم څېړنې شوې دي. په سټنفورډ او هارواډ پوهنتونونو کې یې بیا پر اعصابي سیسټم د اغېز له مخې د شعر څېړنه وکړه. د ټولنې نړۍ په علمي حوزو کې د شعر پر تاثیراتو غور کېږي او معاصرو علومو یې هم څېړنې ته لستونې را ټول ساتلي دي.

په علمي لحاظ څرګنده شوې چې شعر پر مغز او احساساتو څو ډوله مثبتې اغېزې لري. مثلاً، تحقیقاتو ښوولې چې شعر خواخوږي او شفقت زیاتوي او د حافظې فعالیت غښتلی کوي. شعر د مغز داسې برخې فعالوي چې له لذت او لوربینې سره تړلې دي او د اکسي ټوسین هورمون ترشح زیاتوي. شعر په یو ډول د مغزو د هیک کولو یوه بڼه ده چې د ژبې د قدرت او تاثیر په زور زموږ پر احساساتو او ذهن غلبه مومي. هغه احساسات چې د انسان د روان له خوداګاه سطحې ناخوداګاه او د تحت الشعور سمڅې ته تمبېږي، په ډول ډول عقدو بدلېږي، شعر د هغو د بیان په وسیله ذهني بوج او شخصیتي اختلال تخلیه کوي او ختموي.

په ورستیو کې د Poetry Therapy یا (په شعر درملنې) په باب ډېرې څېړنې شوې او په ژورنالونو کې یې په لړ ریسرچ موندلای شئ. د دغو پوهنتوني څېړنو نتایج په انټرنیټ کې په اسانه پیدا کېږي او ما د خپلو ځینو ادعاوو د اثبات او استناد په موخه هم وپلټل. په هنر درملنه کې له شعرونو، حکایتونو او داسې لیکنیو فن پارو څخه رفاه او شفاه د ارتقا لپاره کار اخیستل کېږي. ځینې روان درملګر خلک ادبیاتو ته تشویقوي چې بېلابېلو لارو د خپلو ژورو احساساتو د بیان لاره پیدا کړي. جالب جادویي اغېز یې دا دی چې هم د شعر په لیکلو همدې تسکین ته لاره هوارېږي او هم یې لوستونکی داسې شي ته نه شي ویلای چې دا خو د یو چا خپلې مسالې دي، هغه یې په لوستلو همدې احساسي او عاطفي سکونت ته رسېږي.

په دې باره کې هم بېلابېل دلیلونه شته چې ولې د یو چا شاعر کېدل ممکن دي. د هغو په نظر چې شعر خوښوي، وایي دا د ځان د بیان او له دنیا سره د منحصر به فرد لیدلوریو د اشتراک ډېره اسانه او ښکلې لاره یا تګلاره ده. ځینې ممکن شعر درماني وګڼي یا یې عملاً په ژوند کې د رواني اضطراب د کمېدو او ختمېدو، د ځان

د بهتر درک او احساساتو د بیان او څلولو په برخه کې تجربه کړې وي. په انسانانو کې ډول ډول فکري او ذوقي کټګورۍ شته، له دې جملې داسې خلک هم شته چې پر شعر یې د ښکلا او ژبنې قدرت له مخې مینه راځي او په دې یې ښه اېسي چې شعر عادي شیانو ته د خارق العاده جلوې ورکولو وړتیا لري او زموږ د مینې په احیا کې رول لوبوي. د شعر د ځینو نورو ملاتړو نظریه دا هم ده چې شعر د Activism یوه بڼه بولي او د موجوده فکري اوضاع د خوځولو او ټولنیزو بدلونو لپاره یې کاروي. Activism چې په پارسي کې کنش‌ګرايي ورته وايي، د اروپوهنې یو مکتب دی چې له چاپېریال سره د همغږي په برخه کې له ذهنه د یوه ژوند موجود په توګه استفاده تبلیغوي. دغه مکتب د نولسمې پېړۍ په پای کې جان ډیوي او جیمز رونالډ انجل ایجاد کړی دی. دا پوښتنه بیا هم ډېره نه حل کېږي چې د یو چا د شاعر کېدو اصلي دلیل څه دی؟

شعر په دې خاطر پر مغز اغېز کوي چې ژبه له عادي خطه د جالبیت ساحې ته بیایي، د ژبې له داسې وړتیاوو د کار اخیستو شیمه لري چې استعارې پکې وزېږي او لفظونه په یوه داسې مجازي اتڼ راولي چې د نورو معناوو خاوندان شي. د مغز تر څنګ پر زړه او احساساتو هم چنګ لګوي، ځکه تر ډېره یې موضوعات او مفاهیم «لکه عشق، بایلنه، درد، مرګ، فناه، هستي، نیستي، وېره، هیله، ځور، اندېښنه او...» ژور او شخصي وي. په دې اساس شعر په یوه معنا د «مغز» او په بله د «زړه» فعالیت دی. هغه چې وايي، شعر په اهنګینو الفاظو د فکر او خیال عاطفي تړون دی، همدا وجه ده. د شعر په وخت کې د شاعر فکر او احساس له شیانو سره له فزیکي رابطې بدل تړاو پیدا کوي، لکه په انیمیزم کې چې هر څه ژوندي باله شي، په شاعرانه معرفت کې هم دروني او بیروني حواس یو کُلي وحدت پیدا کوي او د طبیعت، انسان او انسان ته د ور څېرمه تجربو، جنجالونو او مشاهدو په اړه له اسرارو ډکې برخې کشفېږي. شعر تر ډېره د موضوعاتو بیان نه دی، د موضوعاتو ایجاد دی. د شعر متن بې قضاوته متن دی او له هغو قیدونو ازاد دی چې پر انسان د رواني سانسور بوج باروي.

په تاریخي توګه که وګورو، شعر او شاعري د موضوعاتو او مضامینو یوه پراخ طیف ته پوښښ ورکړی دی او حتی ویلای شو چې تر موضوع وړاندې پېښېږي. د بشر تاریخ را ښیي چې لومړي متونه او تابلوګانې علمي نه وې، هنري وې. د شعر دننه پرته محتوا یا مضمون چې غیرشاعرانه بیان شي، تت او محدودېږي او ښکلا یې دغداره کېږي. ژوند، مرګ، عشق، طبیعت، ټولنیز او سیاسي مسایل، انسان، اندېښنه، ښکلا، غم او... چې شعر په کومه بڼه بیانوي، له هغې ډېر جلا دي چې فرضاً د علومو په نورو کتابونو کې یې لولو. شعر د هنر د کورنۍ هغه برخه ده چې د یو څه د را زده کولو پر ځای مو یو څه ته ور پام کوي ډېر او د یو څه د را ښوولو پر ځای د یو څه را احساسولو ته ډېره ملا تړي. ژوند، مرګ او عشق د شعر نسبتاً دایمي موضوعات دي او شعر یې په مختلفو طریقو ارزولای شي. عاشقانه مینه او افلاطوني مینه دواړه چېړي او داسې چې تناقض‌ګویي یې وبولو. له شعره د مینې نزاکتونه او په مینه کې نوښتونه هم لاشعور ته لېږدي او د شخصیت په برخه بدلېږي. معاصرې ایرانۍ شاعرانې او اروپوهانې په ډېرو شعرونو او مینیمالیستي رواني بیانونو کې دا خبره لري چې «څوک په شعر پوهېږي، هغوی په ښځه پوهېږي.» په شعر کې له معشوقو سره د چلند او د مغوی د جمال پټې اداوې حس او کشفوو. شاعر لکه میرزا عبدالقادر بیدل چې یو ځل د زور د کارولو عقیده بیانوي او بیا بېرته د عجز صفت کوي، کولای شي یوه پدیده له څو اړخونو راوښیي:

بیدل! بر خلق کسر شان ننمایی
تا تیر توان شدن کمان ننمایی
خاصیت این معرکه که عاجزکشی است
اینجا زنهار! ناتوان ننمایی

خو د پاسنۍ نظریې خلاف بېرته خلک ناتواني او عاجزۍ ته را بولي:

به زور نازی که زبون سازندت
گردن نفرازی که بیندازدت
ای قلب! بلای امتحان در پیش است
بگداز از آن پیش که بگدازندت

په شعر کې تناقض‌ګویي (Contradiction) هنر دی، مګر په وحې، علم، فلسفه او ډېری ایډیالوژیو او مثلاً د محاکمې په حقوقي ډیالوګونو کې د تناقضاتو موجودیت د تیوري بحران یا د حقیقت نفي او نقض بلل کېږي. د سورت النساء په ۸۲ ایت شریف کې د قران کریم د اسمانيتوب یو دلیل دا بیان شوی چې

«أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَٰفًا كَثِيراً.» ژباړه: ايا دا خلک قرآن ته نه ځير کېږي؟ که دا له الله «جل جلاله» پرته د بل چا له لوري واى؛ نو په ده کې به ډېر ګډوډ بيان موندل کېده.

مرګ يوه بله ډېره بيان شوې موضوع ده، شاعري يې د ماهيت داسې اړخونه کشفوي چې د عدم انديښنه او مبهم ډار ورسره کمېږي. په دې برخه کې د احسان الله درمل يو بيت را يادېږي:

د زندګۍ او مرګ خبره دومره مه لويوه

په افسانه مې ويده پرېوتم، ښه پرېوتمه

يو بل بيت يې هم د سيلف پليجريزم «له ځانه غلا» له تيندک سره سره بيا هم ښکلی دی:

نه شوو پوی چې مرګ او ژوند څه و درمله!

افسانه مو اورېده، ورو ورو ويده شوو

طبيعت هم په شعر کې يو خورا مشهور او عمده موتيف دی چې د مشاهدو پراخه غېږ او شاعر ته خورې ورې ډالۍ لري، شاعرانو ډېر له پخوا له دې پرانيستې غېږې د نړۍ او کايناتو له جمالياتي کيفيتونو الهام اخيستی دی. په شعر کې مشهوره يا سولېدلې موضوع او مضمون هم هېښوونکی کېدای شي او د تشبيهاتو نوې وجهې پکې کشفېدای شي، دا هر څه لذت لري او انسان د لذتونو سروهلې بروهلې ورۍ تږی دی. موږ د غلا پر ضد ډېر متنونه، خبرونه او اعلامیې لوستې دي، خو داسې به نه وي لوستي لکه درويش دراني چې وايي:

دا له ما اخيستی مال به په قيامت راکوې بېرته

وړې له ما سره په مفته زما بار بلې دنيا ته

يوه داسې نظريه شته او نجيب منلي هم را نقل کړې، چې وايي انسان د احساساتو په لحاظ ګونګ خلق شوی دی، څه شی چې يې په زړه تېرېږي يا يې په کوم انفرادي ژور انداز احساسوي، د فکري مسايلو په څېر يې په اسانه او سحطي ګرامري ژبه نه شي بيانولای، بلکې بلاغي ژبې او اندازونو ته اړ دی. د ځينو تحقيقاتو او عملي تجربو په بنسټ استدلال کېږي چې شعر د عاطفي کيفيتونو او احساسي حالتونو د بيان او د زړه له تله د چيغو د را ايستلو داسې توان لري چې حتی پر جسماني روغتيا هم د کرم لقماني لاسونه را تېرولای شي، يعنې سټرس کموي او د ناکرارۍ له وجهې د زړه پيدا شوي ضربان ارامولي. د هنر د ملاتړ سرسخته مدعيان د شعر ښکلا کافي بولي او دا نورې ګټې يې موخې نه ورته ښکاري. که له ښکلا سره سره يې نورې ګټې ورته ثابتې هم شي، دوی يې ضمني نتيجې ګڼي او د شعر اصل فقط جماليات ورته ښکاري. هنر د هنر لپاره، که هنر د ژوند لپاره مقوله نوره پای ته رسېدلې، ځکه چې که هنر د هنر لپاره هم وي، حتماً په ژوند کې استفاده کېږي، بناءً دا په اصل کې يوه خبره ده.

له خپلو احساساتو سره تړل کېدل او احساسات نورو ته انتقالول د شعر بله ځانګړتيا ده. د اوسنۍ اروپوهنې ډېرې سپارښتنې دا دي چې وايي، لالهاندی او اضطرابونه په بيان سپکېږي. د شعر تاريخ راته وايي چې پخواني او اوسني انسانان ټول د مشابه احساساتو خاوندان وو او دي. د شديدو عاطفي منحصر به فرد تجربو لپاره چې په محيط کې مشابهتونه کشف شي، زغم يې اسانېږي. موږ چې وايو «له جهانه سره غم، نه غم دی» دليل يې دا دی چې کله نور خلک هم زموږ غوندې په بد برخليک اخته وګڼو، شخصي درد مو کم شوی ورسره احساسوو. فرانتس کافکا هم دې ته اشاره کوي؛ وايي، انسان تر هغه ډېر دردمن دی چې فکر يې کوي، ځکه خو د خرافاتو غېږې ته پناه ور وړي. د شعر رواني عمق د بشر د شعور د درد د مشترکې ټروما «رواني جراحت» او «لذتي تقاضاوو» له ګډولې جوړ دی. بدبين فيلسوفان لکه شوپنهاور او نهيليست ليکوال لکه البر کامو او نيچه ټول همدا وايي چې د بشر د ذهني او عاطفي کړاو د کمولو لپاره هره هغه لاره غوره ده چې نتيجه يې سکون وي. ارتور شوپنهاور د ارسطو «د نيکوماخوس اخلاق» د کتاب په حواله دا خبره ډېر ځايه را نقل کړې چې وايي: «ځيرک انسان د لذت په لټه نه وي، بلکې د درد د کمولو لپاره لاس و پښې وهي.» شعر د بشر د درد د کمولو دوامداره هڅه ده، البته چې د هلوکو د دردونو دوا د شعر په څېر ښکلاييز احساس نه لري. غالباً د استاد اسدالله غضفر خپله خبره ده، چې ښه شعرونه هغه خوبونه بولي چې په ويښه يې وينو. لکه کيسې چې بې لګښته سفرونه دي، شعرونه د استاد خبره، همداسې د رڼو سترګو رويايي، عاشقانه او عرفاني ننداري دي. استاد غضنفر په خپله مقاله «د شيدا ادبي بحثونه» کې د کاظم خان شيدا په حواله راوړي چې شيدا شعر «طبع‌زاد» او «د رايې ايجاد» باله او خوشال خان خټک يې «الهام» ګڼي. که وګورو شعر د ژبې په لحاظ «طبع‌زاد» يا «د رايې ايجاد» دی، خو د عاطفي کيفيت د احساسولو له مخې

الهامي رنګ لري. دا موضوع په دومره سرخوږي ځکه اوښتې چې موږ د شعر د بدن او روح تفکیک ته نوک نه دی نیولی.

د ټولنپوهنې او نیورولوژي «عصب‌پوهنې» له مخې هم پر شعر تحقیقات شوي دي. په اجتماعي لحاظ شعر د ټولنیزو پیوندونو د حفاظت او د همدلي او تفاهم د پراختیا سبب ګرځي. په مغزي فعالیتونو کې چې د شعر د اثر کومې څېړنې شوې، ښيي چې د شعر ویل د مغز هغه برخې روښانه کوي چې له لذت او احساساتو سره ارتباط لري.

شعر ته د لوستونکو شدید غبرګونونه د همدې دلایلو له مخې وي، دې ته ترکیبي عوامل هم ویل کېدای شي. هغه لوستونکی چې د له لوستلي شعره د خپل اخیستي لذت لاملونه، د شعر خارجي او ذهني شکلونه، ژبني مهارتونه او بلاغي فنون او صنعتونه په ادبي ذوق او علمي انداز تشریح کولای شي، نقاد بلل کېږي. شعر له بشر سره اوږده مخینه لري او د شریکو عواطفو دغه ستر جریان نسلونو په تواتر حس کړی او اورېدلی دی. اسطورې د بشر اجتماعي تخیل دی، فلکلور یې عاطفي انګېرنې او شاعرانه احساسات دي او خرافات یې د درد کمولو پناه‌ګاوې. شعر موږ ته په جنیتیکي لاره هم سرایت کړی دی، بشر تر پوهه اول تخیل درلود، تخیل په فلسفه او فلسفه په علم بدله شوه، خو دا چې ساینس د تفکر محصول دی او کار یې له انتزاع سره کم دی؛ نو شعر بیا هم پر خپل مقام ولاړ پاتې شو. هیڅ علم د بل بدیل نه دی او علم او هنر خو بېخي یو د بل ځایناستي نه شي کېدای.

شعر د ریتم او اهنګ له مخې هم هیجان لرلای شي او ذوق ته ټکان ورکوي، ځکه په شعر کې د ژبې ناویل شوی انداز ترسیمېږي او په لیدو یې سترګې هر ځل پر نوې جمله او یا د کلمې او جملې پر نوي طرز لګېږي. د ژبې خلاقانه استعمال له شعره پرته ډېر نه شي لیدل کېدای چې هم دې یې جوړښت ښکلی وي او هم دې د اورېدونکي احساس ته د ناز نوکارۍ ور ولګوي، ځکه خو دا د حیراني ځای نه دی چې خلک د شعر تر تاثیر لاندې کېږي، نجونې او ښځې لا زیاتې ځکه تېرې اغېزمنېږي چې هغوی په بالقوه شکل تر نارینه عاطفي او احساساتي وي، دغه راز دا تمایل هم پکې زیات وي چې په خپل عاطفي قدرت او جمالیاتي ظرافت شعر ته نقادانه غبرګون وښيي.

البته دا خبره ډېره تعمیمولای نه شو، افراد په ذوقي لحاظ متفاوت دي.

په اوسني عصر کې د شعر مخالفت هم مختلف دلایل لري. یو خو دا چې هرې زماني ته ځان معاصر ښکاري او بیا د ماضي په تجربو کې د نفې او تایید انتخابونو ته ملا تړي. د شعر د مخالفانو یو دلیل دا دی چې شعر ډېر انتزاعي شی دی او ډېره سخته ده چې په ماډرنه دنیا کې دې عملي استعمال ولري. ځینې نور بیا فکر کوي چې نور نو شعر نه ضروري دی او نه یو محبوب هنر. ځینې بیا دا وايي چې شعر داسې قالب دی چې په انسانو کې ډېره کمه فیصدي په هغه انداز خبره کولای شي؛ نو ځکه خو باید یو د لاسرسي وړ قالب د هغه ځایناستی شي. زموږ په ټولنه کې یې دوه ډوله خلک مخالف دي: یو، هغه شاعران چې اوس شاعري نه شي کولای او ښيي چې ګواکې د شعر د بې‌اهمیتۍ له وجهې یې لاسي خوشې کړې ده. دا ډول شاعرانو ته ډاکټر درمل «وچ شوي شاعران» وايي. بل د هغو علومو مسلکیان چې په خپل مسلک کې چنداني ایجابي موضوعات او لاس ته راوړنې نه شي وړاندې کولای؛ نو د شعر په نفې او یا د شاعرانو د تجمعاتو په غندنه پیل کوي او په دې ډول هم ځان تسکینوي او هم یې له خلکو پټوي. دغه دلایل که وګورو او شنو، تقریباً ټول داسې دي چې د شعر د وجود له منلو سره سره هم تطبیقېدای شي. مثلاً سره له دې هم یو سړی مقاله لیکلای شي چې د شعر وجود د یو هنري ژانر په توګه مني. زموږ په دیني حوزه کې هم د شعر د ملاتړ منصوصې حوالې شته او عملاً د اسلامي ادب په تاریخ کې د شاعرانو نومونه را نقل شوي دي. البته وروسته وروسته اکثرو مذهبي مبلغانو شعر د خاصو وضع شویو اخلاقو د تبلیغ د وسلې په توګه ستایلی دی، مګر پخپله د محمد صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث شریف کې د یوې بلیغې تشبیه په وسیله خاص حکمت بلل شوی دی: « إنَّ من الشِّعرِ حكمةً.» (الراوي : [بريدة بن الحصيب الأسلمي] | المحدث : الخليلي | المصدر : الإرشاد | الصفحة أو الرقم : 898/3 | خلاصة حكم المحدث : [الزيادة من] أبي تميلة يحيى بن واضح وهو صدوق مشهور.)

# تحلیل رابرت نیومن سفیر امریکا در افغانستان در سال ۱۹۷۰ از ظاهرشاه، افغانستان وتجربه دیموکراسی



نویسنده: احمد فواد ارسلا

علاقمندان تاریخ و محققان همیشه از اسناد و مدارک برای تحلیل و درک بیشتر تاریخ استفاده منطقی کرده اند. باوجود موضعگیری های احساساتی وعصبی و صدور احکام مطلق توسط یک تعداد در مطبوعات افغانستان در مورد مطرح کردن موضوعات تاریخی در این اواخر، اینک ترجمه دری نامه نیومن سفیر امریکا در افغانستان درسال 1970 برای استفاده منطقی و تحلیلی محققان افغان عرضه میگردد:

- ارزش این نامه در تحلیل و نظر سفیر امریکا از اوضاع افغانستان در آن مقطع حساس تاریخی است. محققان با اتکا به اسناد و شواهد دیگر درست و نادرست بودن این تحلیل را به صورت منطقی تحلیل و بر اساس آن نتیجه گیری کنند.
- طرز دید سفیر امریکا در مورد طرز فکر و طرز العمل ظاهر شاه، مقصد و پلان ظاهر شاه در تجربه دیموکراسی، صدر اعظمان دهه دیموکراسی و برداشت و طرز العمل ظاهر شاه با این صدراعظمان و حتی نتیجه گیری سفیر در مورد عزل داکتر یوسف خان و سه عقرب جالب و قابل توجه و تحقیق و تحلیل بیشتر است.
- تحلیل و تشریحات سفیر نیومن در مورد شوروی ها در1970 و حرکات چپ و راست قابل غور است.

۳۳۷. نامهٔ سفیر آمریکا به افغانستان (نیومن) به جوسیسکو معاون وزیر خارجه امریکادر امور شرق نزدیک و جنوب آسیا
کابل، ۲۹ دسمبر ۱۹۷۰

جو عزیز:

نامه‌ی خوب شما در تاریخ ۲۷ نوامبر اینجا رسیده که به نظر میرسد رسیدن بکس مراسلات محرمانه بسیار کند شده. این فرصت خوبی برای من فراهم کرد تا کمی زودتر افکارم را درباره‌ی افغانستان در سال ۱۹۷۰ که قصد داشتم در ابتدای سال جدید انجام دهم، به شما ارائه دهم. شما و NEA/PAF در پیام‌های اخیر لطف و تشویق بسیاری کرده‌اید و من از این لطف شما سپاسگزارم.

اما همانطور که قبلا هم از حرکت غیر محسوس بسیار آهسته برای پیشرفت دلسرد نشده بودم، اکنون نیز می‌خواهم هشدار بدهم که ضرورنیست که در مورد فعالیت‌های اخیر و قابل تحسین پادشاه، خوشبین باشیم. اگر چیزی را در این بخش از جهان یاد گرفته‌ام، دو درس زیر را در اولویت قرار می‌دهم:

- حرکات جریان نمی‌یابند – حرکات به شدت لرزاننده هستند. در غرب، معمولاً برخی جریان ها قابل تشخیص اند، یا حداقل برخی فعالیت‌هایی که ممکن است منطقی‌تر باشد عملی می شوند. اما اغلبا در شرق بخصوص در افغانستان، به نظر می‌رسد که هیچ چیزی حرکت نمی‌کند، اما زیر فشارهای مختلف تحتانی ساخته می‌شود و ناگهان در یک لحظه اسرار آمیز، حرکت به جلویی ناگهانی و تشنجی اتفاق می‌افتد و سپس دوباره هیچ چیز اتفاق نمی افتد تا زمانی که عملیه دوباره آغاز شود.

- وزمانی هم که حرکتی رخ می‌دهد و شما تمام دلایلی که ممکن است این اقدام را به وجود آورده باشند را مشخص می کنید، باز هم احتمالاً دلیلی که از نظر غربیان بیشتر معقول و منطقی به نظر می‌رسد، دلیل واقعی نخواهد بود. و احتمالاً بیشتر از هر چیزی دیگر، دلیل اقدامی که اتفاق افتاده است ، بیشتر احساسی‌تر، بیشتر متاثر از اعتبار شخصی بوده است.

با این مقدمه، اجازه دهید اکنون به سؤالات ضمنی مطرح‌شده در نامه‌ی شما بپردازم: چرا پادشاه هنگامی که عمل می کند، عمل می‌کند؟ چرا او بیشتر عمل نمی‌کند؟ فکر می‌کنم که اگر کسی اولویت‌های پادشاه را بررسی کند، اولین چیزی که باید اشاره کند، ثبات است، یا به عبارت دیگر، توسعه‌ی سیاسی نسبت به اقتصادی. و ثبات برای او به معنای تعادل مداوم و نسبتاً هوشیارانه بین نیروهای متعدد در کشور است. سقوط پادشاه امان‌الله در سال ۱۹۲۹ به او و بسیاری از افغان‌ها آموخته‌است که اگر عملیه مدرن‌سازی خیلی سریع اتفاق بیفتد و پایه‌های قدرت را زیر سوال ببرد، همه چیز ممکن است در خطر قرار گیرد به شمول ساختارهای خانوادگی متقابلی که این کشور بر آن استوار است. علاوه بر این، موضوعی که پادشاه در آن بیشترین دانش و مهارت عالی دارد، روابط قبیله‌ای است، موضوعی که او در آن استاد شده است برقراری تعادل قبیله ای است و آن را هنرمندانه اجرا می‌کند. بنابراین، تعادل میان پشتون‌ها و غیر پشتون‌ها، میان مقامات دولتی و تجار خصوصی، میان قوای عسکری و مؤسسات ملکی، میان گروه‌های قبیله‌ای مختلف، و البته مهمتر از همه تعادل میان اعضای خانوادهٔ سلطنتی، را با تلاش مداوم و چالاکی به پیش میبرد که تنها در صورتی عملی شده میتواند که امور خیلی سریع حرکت نکنند. با قاطعیتً می‌توان گفت که پیشرفت اقتصادی برجسته و سریع، باعث بی ثباتی این سیستم میگردد.

اکنون پس از تقریباً چهار سال در این کشور، میتوانم "تجربه دیموکراسی" را به عنوان بخشی از این عمل برقراری ثبات تلقی کنم نه یک حرکت انقلابی و جسورانه در حکومت کردن . این " تجربه دیموکراسی " در حقیقت حرکت دیگری است برای منزوی کردن نیروهای سیاسی در این کشور تا قدرت واقعی را به هیچکس ندهد، اما همه را مشغول و گیج نگه دارد، و این محروم ساختن مخالفین از امکانات حرکت هم کارخطرناکی است. مخالفان چپ بهتر سازمان‌دهی شده اند و مخالفت راست گرچه زیادتر هستند کمتر سازمان دهی شده اند، اما در حال حاضر هیچ‌کدام تهدید "واضح و آنی" محسوب نمی شوند. اما باید گفت که چپی ها زیادتر سازمان دهی میکنند و در موقعیت مناسب تری نسبت به هر گروه دیگری قرار دارند. البته اگرپادشاه بمیرد که در ممالک اسلامی لحظات خطرناکی است شایدهمین " تجربه دیموکراسی " ، به ثبات کمک کند چون مرگ پادشاه همیشه لحظه‌ای خطرناک در یک کشور مسلمان است زیرا سنت اسلامی مشروعیت با قدرت مساوی میباشد.



وقتی که پادشاه تردیدات خود را در مورد مداخله قوی تر در جریان امور بیان می‌کند، همانطور که اغلب به من گفته است، که "چنین مداخله‌ای باورپذیری تجربه دیموکراسی را از بین میبرد"، او شاید تنها بخشی از حقیقت را افشا کند. من فکر می‌کنم که در ذهن او، هر گونه بیان قوی توسط هر کسی، به شمول خودش، به معنی در معرض خطر قرار گرفتن این سیستم پیچیده، حساس و بسیار شرقی تعادل نیروها است. به همین دلیل او ممکن است ترجیح ندهد که این روز ها کابینه به آسانی به خصوصت پارلمان در برابر وزیر اطلاعات و کلتور، حبیبی، تسلیم شود، با آن که بخش ارزشمندی از جلسه پارلمانی در ارتباط با این مخاصمه از دست رفت. احتمالاً بر

اساس ادعاهای گسترده‌ای که خانم حبیبی، یک زن بسیار جذاب و نطاق در رادیو افغانستان است، محبوبه پادشاه است، در رفتار پادشاه در عدم مداخله در این امر و ختم بن بست نقشی داشته باشد. در هر صورت قضیه حبیبی بدون از دست دادن زیاد اعتبار دولت حل شد و پس از آن، پادشاه تحرک جدیدی برای قانون‌گذاری بیشتر پرداخت. بدون شک راپور های مطبوعاتی خارجی که بی‌تفاوتی و عدم تحرک پارلمان را انتقاد می کردندبه شاه و دولت کمک کرد.

هر روزی که میگذرد من بیشتر به این متقاعد میشوم که انتخاب صدراعظم ضعیف توسط پادشاه بخش مهمی از این عمل تعادلی پادشاه است. شاید هم خاطرات پادشاه از شخصیت قوی واعمال قدرت آمرانه شاهزاده داود نقش مهمی را در این سنجش پادشاه داشته باشد. اولین صدراعظم تجربه دیموکراسی ، دکتر یوسف، احتمالاً توانا ترین آنها بود. او یک اقتصاددان ماهر بود و ممکن است رهبری حکوت را بیشتر از ذایقه پادشاه انجام داده باشد. این احتمال زیاده تر از واقعه ناخوش آیند فیر بر شاگردان متعرض در سوم عقرب دلیل اصلی سقوط یوسف بود. صدراعظم بعدی، میوندوال، سعی کرد قدرت شخصی و سیاسی خود را مستحکم بسازد، که این او را ابتدا با پارلمان و سپس با پادشاه در تضاد قرار داد. و اکنون اعتمادی صدراعظم هست که هیچ‌کس و هیچ‌چیزی را رهبری نمیکند. وی یک مرد صادق و شریف – که در این مناطق صفت کمیاب و خاص است – اما وی یک مرد با تصور محدود بوده و از مشکلات اقتصادی غافل است (و به نظر می‌رسد تصمیم دارد همینطور باقی بماند)، شدیدا، محتاط و با این همه، سرسخت – واین دو معایب ترکیب غیر عملی است. و با صدراعظم که نه استعدادی نه هیجان واقعی برای رهبری داخل کشور یا در مقابل پارلمان نشان نمی‌دهد، سایر وزرا در کار محدودیت دارند، حتی اگر برخی از آن‌ها خصوصیات لازم را داشته باشند – رهبری وی کار را بی نتیجه میسازد. و اما این ممکن است دقیقاً آن چیزی باشد که پادشاه می‌خواهد.

در نظر من، جایی که طرز فکر و عمل پادشاه به طور قابل توجهی کمبود دارد، در ارزیابی ناقص رکود اقتصادی، افزایش قیمت‌ها، و خاصتا افزایش بیکاری در میان فارغ‌التحصیلان است که می‌تواند این سیستم دلخواه تعادل و توازن او را نابود کند. یا به عبارت دیگر، تحلیل پادشاه در مورد نیروهایی که او آن‌ها را می‌شناسد در مقایسه نیروهایی که او آن‌ها را نمی‌شناسد، به نتیجه گیری نادرست می انجامد.

بنابراین، ضرورت دارد که ما برای اقدامات اقتصادی سریع‌تر و موثرتر از دولتی که تردید دارد و تازه‌کار است، و به طور کامل از خود و از موسسات نسبتاً جدید خود مطمئن نیست، فشار بیاوریم. در عین حال، عمل تعادل‌بندی پادشاه نیز شایسته درک و احترام بسیاری است.

به نظر من، پیشرفت افغانستان و علاقه آمریکا به افغانستان باید با معیار های پیچیده تر و ضمنی اندازه‌گیری شوند نه با روش معمول فیصدی های تولید ناخالص ملی. همانطور که خیلی خوب می‌دانید، ابزار اقتصاددانان برای اندازه‌گیری هر چیز در خاورمیانه و جنوب آسیا بسیار ناکافی است.

امریکا چه علاقه‌ای به افغانستان دارد و چگونه می‌تواند بهترین خدمات را ارائه دهد؟ ما در سند سیاستی که تایید شده توسط شورای امنیت ملی است اعلام کرده‌ایم که علاقه ما تقویت اراده استقلال افغانستان است. این نکته را فکر می کنم که از جنبه منفی بیشتر اهمیت دارد تا از جنبه‌های مثبت. در شرایط بهترین حالت، یک افغانستان آرام، تعادل‌یافته و پایدار، خیلی به استحکام مشکوک منطقه اضافه نخواهد کرد. اما یک افغانستان ناپایدار ممکن است تأثیری بسیار ناپایدار را داشته باشد به دلیل هزاران میل سرحد تقریباً باز بین افغانستان و همسایگان شرقی و غربی آن. یک افغانستان ناپایدار و دشمنانه می‌تواند یک تومور عفونی باشد – یک واقعیت که به نظر می‌رسد توسط شاه ایران که این مسأله را بسیار خوب می‌فهمد، بیشتر جدی گرفته می‌شود تا پاکستانی‌ها که توجهات آن‌ها به سمتی دیگر معطوف است.

این به این معنا است که تاکتیک‌های ما باید بسیار دقیق و انعطاف‌پذیر باشند. اگر ما فشار بسیار وارد کنیم شاید تعادل‌های موجود را به صورت جدی به خطر اندازیم، و ممکن است موقعیت ما را در اینجا تضعیف کند. از طرف دیگر، من باور دارم که اگر واقع‌بینانه دیده شود خطرات سیاسی ناشی از اقتصاد منجمد فعلی افغانستان بسیار زیاد است و بنابراین باید بیشتر از آنچه ممکن است برای اصلاحات بیشتر، موثریت بیشترکار، اداره بهتر و سایر موارد بر افغان هافشار اعمال کنیم. در این موارد، مشکل ما مصرف بیش از حد ما در سال‌های گذشته است که به دلیل موجودیت منابع فراوان بود در حالیکه فعلا منابع محدود برای کمک به افغانستان داریم، و بنابراین افغان‌ها گاهی هم به این فکر هستند که در لحظه آخر امریکا با منابع سرشارخواهد رسید و آنها را کمک خواهد کرد.. این بازی که ما در اینجا انجام میدهیم گاهی اعصاب قوی می‌خواهد، اما خوشبختانه هیچ مشکلی با اعصاب این ماموریت نداریم و حتی در بدترین حالت‌ها، مشکلات ما کمتر از آنست که شما و همکاران شما هر روز باید تحمل کنید.

یک مورد دیگر که تاکتیک‌های ما باید به طور مداوم به آن توجه کنند، توان محدود افغان‌ها در اداره کردن چندین بحران به طور همزمان است. بنابراین، در تلاش‌های ما برای به‌دست آوردن اقدامات سریع‌تر که اغلب ضروری هستند و معمولا ضرب الاجل زمانی واشنگتن را هم در بر دارند که بخشی از واقعیت زندگی است، باید به طور مداوم در برابر گذاشتن بار سنگین تر از توان افغان ها احتیاط کنیم و نگذاریم که حرکت و توقع ما مایهٔ دلسردی آنها شود و نگذاریم آنها همه کوشش ها را با عقیده تقدیرمسلمانان خاتمه بدهند. یک مثال خوب برای این وضعیت تاکتیکی در بسیاری از جنبه‌های آن، پروژه شمالون است. برای مدتی، بی‌فهمی والی و تردید دولت در کابل به ظاهر به‌هیچ‌وجه قادر به غلبه بر مقاومت محلی نبودند که اکثر آن بر پایهٔ اطلاعات نادرست بود که دولت به طور محدودی برای مقابله با آن انجام داده بود. بنابراین، با وجود بسیاری از هشدارهای ما، کار صورت نگرفت و ما مجبور به تصور احتمال انجام تصمیم نهایی شدیم که ممکن بود ما را که مارا مجبور میساخت قرضه را بدهیم. خوشبختانه، در جریان وضعیت‌نافهمیکه این "تشنج" رخ میداد، یک والی جدید و پرقدرت که منطقه را خوب می‌شناخت، منصوب شد، به سرعت به کار افتاد و مثل این که حرکت جادوئی شده، وضعیت در دره هلمند بهتر شد. اکنون هیچ مقاومتی باقی نمانده بود. اما وقت زیاد ازدست رفته بود و ما در مقابل اصلاح مهم قانون آب قرار گرفته بودیم، بدون آن که کارهای خوب والی به نتیجه‌ای برسد. در این حال، پارلمان و دولت به‌صورت ناامیدکننده در گیر و گرفتار امور حبیبی بودند و انتظار قانونگذاری از آنها نبود.

بنابراین، اگرچه ما به دولت در این زمینه فشار می‌آوردیم، امیدواری‌های واقع‌بینانه‌ای برای اصلاح وجود نداشت مگر اینکه پس از پایان جلسات پارلمان، قضیه توسط احکام شاهی حل شود. بنابراین، انرژی خود را با پادشاه محفوظ نگه داشتم تا آن لحظه برسد، اگرچه متوجه بودم که وقت زیاد هدر میرود. بعداً، با اقدام پادشاه برای تحریک پارلمان و تمدید دوره‌ی قانون‌گذاری پس از پایان اتفاق حبیبی، وضعیت تاکتیکی تغییر کرد و من فوراً به کار با پادشاه پرداختم، همانطور که از تلگراف‌های من می‌دانید. در حال حاضر، به نظر می‌رسد که پیشرفتی کرده‌ایم اما هنوز مطمئن نیستیم که آیا این پارلمان می‌تواند بار اضافی اصلاح قانون آب را تحمل کند، هرچند مقاومت واقعی برای آن وجود ندارد. در این صورت، با این حال، فکر می‌کنیم که یک راه حل داریم از طریق احکام شاهی که حداقل بخشی از اصلاحیه که برای اجازه دادن به والی و ما برای ادامه‌ی کار لازم است، موضوع را حل کنیم. با این حال، این ممکن است ما را دوباره به پرتگاه ببرد، اما این واقعیت زندگی در این پادشاهی کوهستانی است و امیدوارم بتوانم برای فهم شما و دیگران دلایل و مشکلات را توضیح بدهم.

تلاش‌های ما برای حفظ تأثیر امریکا به شکل قوی و مهم جریان داردکه به نظر من هنوزهم یک تأثیر قابل توجه و قوی در مقابل حضور فشارگرانه شوروی داریم ، اما باید با این

حقیقت آگاه باشیم که روس‌ها متهاجم‌تر شده‌اند و تحت رهبری بهتری از سفیر جدید و بسیار توانمند خود، آقای کیکتف، از ضعف و ناتوانی افغان‌ها بهره‌بری کامل دارند. من فعالیت روسیه را به گونه‌ای افزایش یافته نمی‌بینم که باور کنم در معرض اقدام شوروی با نیرویی قوی هستیم و دلیلی برای آن را نمی‌بینم. اما باور دارم که انتظار می‌رود رفتار خوب و خودداری قابل قبول شوروی فقط زمانی ادامه پیدا کند که افغان‌ها اقتصادی قوی‌تر و خودمختارتر شوند و امریکایی‌ها به عنوان یک واقعیت مهم باقی بمانند. بنابراین، ما کار زیادی پیشرو داریم.

برای انجام این کار به بهترین نحو برای سیاست ما، باور نمی‌کنم که بودجه ما حتی اگر ممکن باشد به طور قابل توجهی افزایش بیابد. در حال حاضر، در مورد برنامه USAID ما، درسطوح فعلی ما کاملاً قابل قبول است، اگرچه ما در حال بازنگری برخی از اولویت‌ها و تغییراتی در تأکید و همچنین تقویت تلاش هاهستیم. در این باره، من در آینده نزدیک به طور جداگانه خواهم نوشت. با این حال، سه حوزه وجود دارد که می‌توانیم و باید بیشتر اقدام کنیم:

- یکی از این حوزه‌ها، هرچند بسیار محدود، برنامه کمک عسکری ما است که همانطور که می‌دانید از یک تعداد کمی از بورس های تعلیمی در ایالات متحده برای افغانستان در نظر گرفته شده است. فکر می‌کنم که زمان مناسبی برای یک افزایش معتدل و آرام این بورس های تعلیمی رسیده است. باور دارم که این موضوع را پنتاگون هم متوجه شده است و احساس مطمئنی دارم که می‌توانیم توافق برای افزودن چند بورس تعلیمی ، به خصوص در پوهنتون صاحب منصبان امریکا پیدا کنیم. با این حال، می‌خواهم تأکید کنم که من در حال فکر کردن به افزایش‌های بسیار کوچک و تدریجی هستم و کاملاً عقیده دارم که هر اقدام ناگهانی‌تر یا پر سر و صدا ، موجب ناپایداری بوده و بی‌نتیجه می‌شود.
- زمینه دیگری که باید بیشتر در آن فعالیت کنیم، امور عمومی است. واحد کوچک ما از USIS تحت رهبری بسیار توانمند پیتر برشیا، PAO، کار فوق‌العاده‌ای انجام می‌دهد، اما اندازه آن به گونه‌ای است که نمی‌تواند به طور کامل از فرصت‌های واقعی بسیاری که در اینجا داریم، بهره‌برداری کند. من کاملاً محدودیت‌های بودجه‌بندی و محدودیت‌های جهانی را ارزیابی می‌کنم اما باور دارم که دو زمینه یاد شده، MAP و USIS، زمینه‌هایی هستند که برنامه کوچک ما سود بسیار بزرگی را پرداخته است و افزایش‌های کوچک به طور مطلوبی قابل توجیه هستند.
- در نهایت، تلاش مداوم من برای موازنه نمایش ظاهر اوضاع در برابر ترس افغان‌ها از بی‌توجهی یا عقب‌نشینی امریکا و منظورم از نمایش ظاهری بازدیدهای رسمی مقامات بلند رتبه امریکا از افغانستان است. من مطمئناً شکایتی ندارم. از این موضوع بسیار راضی هستم که در طول دوره خدمت من در اینجا، هم معاون رئیس‌جمهور و هم وزیر امور خارجه توانستند ما را بازدید کنند. البته ما از شنیدن این موضوع ناراضی بودیم که شما و معاون وزیر خارجه قادر به بازدید از ما در این زمان نیستید اما ما مسائل برنامه‌ریزی شما را کاملاً درک می‌کنیم. (آنچه که کاتماندو دارد که ما نداریم، علاوه بر کارول لایز چیست؟)

در حال حاضر، با توجه به فشار بسیار فعالانه شوروی، بازدیدهای بی‌شمار بین دو کشور، نگرش بسیار متهاجمانه‌تر شوروی در تمام حوزه‌ها، شدیدا فکر میکنم که یک حرکت مهم دیگر از سوی ما لازم است. بنابراین، احساس بسیار قوی و مورد بررسی من این است که زمان اکنون مناسب برای سفر رسمی معطل شده اعلیحضرت به ایالات متحده است. تشکر از این که در نامهٔ خود به این موضوع اشاره کرده ایدو در حالی که به‌طور کامل متوجه مشکلات هستم، می‌خواهم به‌طور قوی

اشاره کنم  که از دیدگاه ما، باید اهمیت بالایی باید به چنین بازدیدی داده شود. بهترین زمان این سفر در پایان زمستان یا اوایل بهار خواهد بود، بهتر است قبل از اینکه دورهٔ جلسات جدید پارلمان در اواسط مارچ صورت بگیرد (آن‌ها در واقع تا ابتدای اپریل به کار نمی‌پردازند). یک مزیت واقعی اضافی نیز به ما خواهد آمد اگر بازدید پادشاه به نحوی با فرستادن سفینه بعدی فضائی به ماه همزمان شود، نه تنها به دلیل علاقه بسیار زیاد وی به تکنالوژی فضایی (و دانش قابل توجه او در این زمینه) بلکه همچنین به این دلیل که این به ما کمک می‌کند تا در ارتباط با تبلیغات اطراف بازدید پادشاه، پیشرفت تکنالوژی امریکا را به نمایش بگذاریم. اما من برنامه‌زمانی فرستادن سفینه بعدی فضائی به ماه‌ها را نمی‌دانم، بنابراین این امر احتمالاً امکان‌پذیر نیست.


میدانم که این خواهش به شما زمان کمی می‌دهد. اما من باور دارم که ما اینجا یک فرصت واقعی داریم، و فعالیت‌های افزایش یافتهٔ پادشاه باعث می‌شود زمان‌بندی بسیار مناسب باشد. لطفاً به زودی از این موضوع به من بگویید.

آرزوی موفقیت فراوان شما را در سال جدید دارم.

با احترام،

رابرت جی. نیومن





# د وریښمو کاروان

چلوونکې او مسئوله: شپېه ګهیځ



د وریښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړېدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

## لونګ

**فاطمه ملکزۍ**



د فرهنګي هویت او هنري ښکلا نښه لونګ، چې د خوند او خوشبویۍ له امله شهرت لري، د پخواني مصر او هند په پاچاهانو کې د زینت او خوند د یوه مهم عنصر په توګه کارېدلی .ویل کېږي چې لونګ لومړی له مصر او هنده چین ته، او بیا اروپا ته وړل شوی، وروسته یې په نوره نړۍ کې پراخ رواج وموند .اوس مهال، لونګ تقریباً په ټولو تودو سیمو کې کښت کېږي، او سړې سیمې هم له دې ادویه بې‌برخې نه دي.

لونګ د خلکو ترمنځ د خوند له امله مشهور شوی، او د جشنونو، مراسمو او نکریزو په محفلونو کې کارېدنه لري .د دې بوټي استعمال د شوق او ذوق څرګندونه کوي، چې د خلکو د خوښۍ یوه نښه ده. همدارنګه، لونګ طبي ګټې هم لري، او په درملو کې د درد کمولو او آرامۍ لپاره استعمالېږي .د لونګ خاصیت داسې دی چې د بوي کولو پر مهال انسان ته رواني خوشالي بخښي،



چې ځینې رنځوران یې د خپګان د کمولو لپاره استعمالوي .



په پښتو ولسي ادبیاتو کې، لونګ د نورو بوټو په پرتله ډېر یاد شوی. په لنډیو او سندرو کې، دغه بوټی د ودونو په مراسمو کې په سمبولیک ډول کارېدلی دی، چې د عشق او مینې نښه ده. پښتنې انجونې د وادونو په مراسمو کې، معمولاً لونګ په شیدو یا اوبو کې یوه یا دوه ورځې مخکې لمده کوي تر څو نرم شي. بیا د کلیو انجونې ټولې راټولیږي،

له دې نرم لونګ څخه ښایسته لونګین جوړوي. دا لونګین په ښایسته دسمال کې غوټه کېږي، او د ناوې په صندوق کې ایښودل کېږي. کله چې انجونې لونګین جوړوي، نو د خوشحالی او مینې د اظهار لپاره زمزمه هم کوي، چې دا د دوی د هنر او احساساتو یوه نښه ده.



د دې بوټي په اړه یوه مشهوره لنډۍ داسې ده

سبا به بیا بازار ته لاړ شې!



د لونګین څوندې دې کم راوړي دینه!

لونګ د خوند، خوشبو او زینت نښه ده، چې د پیغلو د ځانګړتیاوو او مینې سمبول ګرځي. د دې بوټي شکل مېخ ته ورته دی، رنګ یې تور ته نږدې دی، خو پوره تور نه دی، او دغه نبات په استوایي سیمو کې ښه وده کوي. د لونګ ونې د ۱۰ تر ۱۲ مترو پورې لوړېږي، او د سمې پالنې او کښت له لارې، لونګ د اقتصاد په برخه کې هم ښه ونډه لري .که کوم زمیندار د دې ونو سم پالنه وکړي، نو دا به له اقتصادي پلوه یو عاید وړ محصول وي .لونګ یوازې د خوند او خوشبو یوه نښه نه، بلکې د اقتصادي ارزښت یوه مهمه برخه هم ده .

نو ویلی شو چې لونګ د تاریخي، کلتوري او طبي ارزښتونو یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. د دې بوټې زینتي او خوندور بوی، د مینې او عشق نښه، او د طبیعي درملو په برخه کې ارزښت لري. لونګ د انسانانو په ژوند کې یو ځانګړې ځای لري .هر ځل چې د لونګ خوشبو خپرېږي، د پښتنو فرهنګ او هویت نغمه هم ورسره پورته کېږي.



پښتنې ښځې د لونګ څخه ښایسته لونګین جوړوي، چې پر اوږو یې زړه وړې د دوی دا خلاقیت او هنر د دې بوټې له خاصیتونو سره یو ځای، د فرهنګي او هنري ارزښتونو یوه جذابه بڼه وړاندې کوي .

**د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ**

**له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه**

**د دعوت بانکی پته: DNB Bank AC # 0530 2294668**
**له ناروی بهر د نریوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668**
**د وییس شمبره: Vipps: #557320**

# د نړۍ تر ټولو ښکلي ښارونه

**ژباړه او راټولونه: شیبه ګهیځ**



د نړۍ د زرګونو ښارونو په منځ کې د نړۍ تر ټولو ښکلي ښارونو غوره کول ستونزمن کار دی؛ خو د ځینو تاریخي جاذبې په لرلو او سیلانیانو د راجلبولو سره ځینې ښارونو ته د نړۍ تر ټولو ښکلي ښارونو لقب ورکړل شوی. په دې مقالې کې له موږ سره یوځای شئ او د نړۍ تر ټولو ښکلي ښارونو په زړه کې سفر وکړئ.

## ۱: ونیز



ونیز د"La Dominante" ، "La Serenissima"، »د اډریاټیک ملکه»، «د اوبو ښار»، «د نقابونو ښار»، «د پلونو ښار»، «شناور ښار» او «د کانالونو ښار» په نوم هم پیژندل کیږي. ونیز یا ونیزیا د ایټالیا په شمال ختیځ کې یو ښار او د وینیټو سیمې مرکز دی. دا ښار له ۱۲۶ ټاپوګانو څخه جوړ دی کوم چې د ازادو اوبو او کانالونو په مټ سره بېل دی او د نړۍ له خورا ښکلي ښارونو څخه دی. د دې جادویي ښار د لیدلو لپاره په کندولا کښېنئ کې د اوبو پر سر د کانالونو په اوږدو کې سفر دی. په وینز کې د لمر ختو او لمر له ښکلا هم خوند اخیستلی شئ. کوڅې، سړکونه، بازارونه او تاریخي ځایونه لکه: سینټ مارک کلیسا او د ریالټو برج د وینز له ننداړو څخه دي. په زړه پورې معماري، کانالونه او سیمه ییز کلتورونه د دې ځای نه ختمیدونکي ښکلاګانې دي.

ونیز په ۲۱مه پیړۍ کې، یو له مشهورو ګرځندوی ښارونو څخه شمېرل شوی و، چې ستر کلتوري مرکزونه لري او د نړۍ یو له ښکلو ښارونو څخه پاته شوی دی. دا ښار د ټایمز مجلې له خوا د اروپا یو له تر ټولو رومانتیکو ښارونو څخه پیژندل شوی دی او د نیویارک ټایمز له خوا بیا «پرته له شکه د انسان په لاس جوړ شوی تر ټولو ښایسته» ښار لقب یې ګټلی دی.

## ۲: توکیو




توکیو په جاپان کې د ملغلرو په څېر ځلیږي. دا ښار د عصري او پخوانیو دودونو ترکیب دی. د توکیو په پسرلي کې د چیري ګلونو سره ځان ته ښایست لري، په پارکونو او باغونو کې د ساکورا ونې دې سیمې ته ځانګړې ښکلا وربښي او د سیلانیانو

په راجلبولو کې مهم رول لري. د توکیو تمځای د جاپان د شینکاسین د چټکو رېل ګاډو د سیستم مرکز دی او دا ښار د رېل او مېټروګانو د پراخې شبکې په موخه کارول کېږي. د توکیو سیلانیزې ځایونه دا دي: (کینکاکو- جي معبد، فوشیمي معبد، نیجو کلا(قلعه)، ګیون سیمه، آرشیياما بامبو بڼ).

## ۳: استانبول: د اروپا او آسیا ترمنځ ښار




استانبول هغه ښار دی چې ۲۵۰۰ کلن تاریخ لري، چې په لرغونې نړۍ کې د قسطنطنیې په نوم هم یادېږي. دا ښار د خپل تاریخي عصري جاذبې او ښکلي عثماني جوماتونو له امله د ترکیې کلتوري، تاریخي او اقتصادي مرکز ګڼل کېږي. دا په زړه پورې ده چې استانبول په جغرافیه کې داسې دی، چې یوه برخه یې د آسیا په وچه کې او بله برخه یې په اروپا کې موقعیت لري. دا دوه برخې د باسفورس مشهور پل په واسطه یو له بل سره وصل شوي، نو له همدې امله دا د دوو براعظمونو ترمنځ پل هم بلل کېږي. استانبول په ترکیه کې تر ټولو ډېر نفوس لرونکی ښار دی چې د 15.03 ملیون تنه نفوس لري. د ترکیې او استانبول د زیاترو خلکو مذهب اسلام دی او د همدغو عواملو په یو ځای کېدو سره استانبول د ایراني سیلانیانو لپاره په زړه پورې ځای دی.

استانبول د مختلفو جاذبو او د پام وړ ګرځندوی خدماتو له امله په 21 پېړۍ کې د بهرنیو سیلانیانو لخوا تود هرکلی شوی، په دې توګه په 2015 کې په ټولیز ډول 12.5 ملیون بهرنیو سیلانیانو د استانبول څخه لیدنه کړې. استانبول د اروپا د کلتوري پلازمینې په توګه ونومول شو او د څو کلونو لپاره په پرله پسې توګه د نړۍ ترټولو مشهور او ډېرى لېدل شوي سیاحتي ښارونو څخه و.



استانبول ته د سفر کولو ښه فصل کوم دی؟

**پسرلی:** په دې وخت کې، استانبول د ورځې په اوږدو کې ګرمېږي او په شپه کې هوا یو څه سړه وي او کله ناکله د پسرلي نرم باران ورېږي. د اوسط ورځني تودوخه یې د 18 او 27 درجو سانتي ګراد ترمنځ ده.

**اوړی:** په استانبول کې د دوبي ورځې ډېرې ګرمې او مرطوبې دي. که څه هم د ښار ډېرى اوسیدونکي د تودوخې څخه د خلاصون لپاره نږدې ټاپوګانو او ساحلونو ته مخه کوي، ډېرى سیلانیان استانبول ته د سفر لپاره اوړی غوره کوي. په استانبول کې د اوړي منځنۍ تودوخه د 28 او 30 درجو سانتي ګراد ترمنځ ده .

**مني:** د استانبول د مني په موسم کې هوا سړه او د 23 درجې سانتي ګراد په شاوخوا کې ده. یوه ورځ کېدای شي ګرمه او وچه




وي او بله ورځ د تودوخې 15 درجو سره خورا سړه هوا، لنډ او سخت باران به تاسو حیران کړي.

**ژمی:** په استانبول کې د ژمي ورځې سړې او واوره وي. منځنۍ ورځنۍ تودوخه د 8 څخه تر 12 درجو سانتي ګراد پورې ده، او د واورې اورښت تمه هم کېدای شي.

**له همدې امله، استانبول ته د سفر لپاره غوره موسم** پسرلی او منی دی.

## ۴: سانتوریني



سانتورینی په یونان کی یو له خورا مشهور سیاحتی مرکزونو څخه دی کوم چی د هر سیلانی زړه وړی. د سانتورینی ټاپو لرغونی تاریخ لری. په دی ټاپو کی 13 کلی دی، چی هر یو یی خپل دود او کلتور ساتلی دی. د سانتورینی هوا ګرمه او وچه ده او د لېدلو لپاره غوره میاشتی د می او اکتوبر ترمنځ میاشتی دی. اویا په سانتورینی کی د سویلی ایجین بحر کی یو کوچنی کلی دی. دا کلی د ټاپو په شمال لویدیځ څنډه کی موقعیت لری. د بحر له سطحی څخه د 70 او 100 مترو په منځ کی موقعیت لری او جوړښت یی خورا ښکلی دی. که تاسو د دی سیمی عکسونه وګورئ، تاسو به د هغی ښکلا ته متوجه شئ. د دی سپین کور او نیلی ګنبد کلیساګانې د ایجین بحر د عکس څنګ ته د عالي نقاشۍ په څېر ښکاري. د سانتوریني ټاپو د خپل ښکلي، بې ساري او ډراماتیک منظرو لپاره په نړۍ کې مشهور دی، په ځانګړې توګه د لمر د غروب منظر چې له دې ټاپو څخه لېدل کیدای شي. د لمر لوېدو دغه منظره د اویا په ښارې سیمه کی په ښه توګه لیدل کېږی. سانتورینی د آتش فشان ټاپو دی، چی زوړ نوم یی تیرا وه. د ایجین په بحیره کی موقعیت لری. د سانتورینی ټاپو د نړۍ تر ټولو ښکلی او په زړه پوری ښار دی، چی سپین رنګه ودانیو یی سانتورینی ته ځانګړی ښکلا وربښلې او یاد ښار ته د سرو زرو د لمر ښار لقب هم ورکړل شوی.



هر ښار تفریحی او د لیدو وړ ځایونه لری چی سیلانیان هلته سفر کوي او لیدنه کوي. د دې ښار سیلانیزې سیمې دا دي: **سانتورینی آتش فشان، اویا سیمه، اکروتیري او ریډ ساحلونه، شارا تاریخی موزیم او لرغونی تېرا.**

دا ښار د لمر وچو شویو رومیانو، سپینه لوبیا او هګیو لپاره په نړۍ کی خورا مشهور دی. د سانتورینی اشپزان اکثرا دودیز ترکیبونه د خوارو پخولو لپاره کاروي. دا ډول پخلی د ډېری سیلانیانو د پام وړ وي.

## ۵: پراګ



د چیک جمهویت پایتخت او د چیک تر ټولو لوی ښار دی. مساحت یی تقریبا ۵۰۰ کیلومتره مربع ده. په اوس وخت کی پراګ تقریبا ۱،۲ میلیونه نفوس لری ثقافتی او سیاسی مرکز دی. په پراګ کی د چیک جمهوریت تر ټولو لوی هوایی اډه پرته ده. د پراګ د ترافیک ترانسپورت ډیر عصری دی. پراګ د اولټاوا سیند پر غاړه پروت او د ۱.۳ میلیون وګړو کور دی. دغه ښار معتدله اقیانوسی هوا لری چی دوبی په کی نسبتاً ګرم او ژمی یی سوړ وی. پراګ د یو شمېر نامتو کلتوری جاذبو کور دی. په دی جاذبو کی د پراګ کلا، د چارلیز پل، د زاړه ښار څلورلاره د پراګ له نجومی ګړۍ سره، د یهودانو کوارټر، پیترین غونډۍ او وایسیهراډ د یادولو وړ دي. له ۱۹۹۲ ز کال راهیسې، د پراګ

تاریخي مرکز د یونیسکو د نړیوال میراث په سیمو کې شامل شوی دی. دغه ښار له لسو زیات ستر موزیمونه او همداشان بی شمېره تیاترونه، ګالري، سینماګانی او نور تاریخی نندارتونونه لری. دغه ښار د یوه ډېر عصری او د پراخی شبکی لرونکی ترانسپورتی سیستم په مټ سره نښلول شوی دی. دا ښار د پراخو دولتی او شخصی ښوونځیو کوربه هم دی، له هغی ډلی په پراګ کی د چارلیز پوهنتون، په مرکزی اروپا کی تر ټولو زوړ پوهنتون بلل کېږي. پراګ د GaWC د څېړنو له مخی د «الفا» یا نړیوال ښار په توګه ډلبندی شوی دی. په ۲۰۱۹ ز کال کی، دا ښار د Mercer له خوا په نړی کی د ژوند کوونکو ښارونو په لړ کی په ٦٩ مقام راغی. په ورته کال کی، د PICSA شاخص دا ښار په نړی کی د ژوند کوونکو ښارونو په لړ کی په ١٣ مقام راوستی و. د دی ښار بډایه تاریخ د دی لامل ګرځیدلی چی په یوه توریستی مقصد باندې بدل شي او له ۲۰۱۷ ز کال راهیسی، دا ښار هر کال ۸.۵ میلیونه نړیوال سیلانیان لری. په ۲۰۱۷ ز کال کی، پراګ په اروپایی ښارونو کی له لندن، پاریس، روم او استانبول وروسته تر ټولو زیات لېدل شوی پنځم ښار وګڼل شو.

### ٦: دوبۍ



**دوبۍ** په متحده عربی اماراتو کی ترټولو مهم ښار؛ په آسیا او نړۍ کی یو له خورا عصری ښارونو څخه دی. **دوبۍ** د متحده عربی اماراتو په شمالی ساحل کی موقعیت لری. دا ښکلی ښار تفریحی او د لېدو وړ ځایونه لری، چی هر یو یی خپل ځانته جاذبه لری. تاسو کولی شئ **د دوبۍ په سیاحت** کی د دی سوداګریزو مرکزونو څخه لیدنه وکړئ؛ له همدی امله د سیاحت نوی صنعت په دی ښار کی د عاید ترټولو غوره او اغېزمنه سرچینه ګڼل کېږي. د دغه ښار ساحلي منظري ډېرې په زړه پورې او بې ساری دی. د دوبۍ په رستورانتونو کی بیلابیل خوندور سمندری، عربی او اروپایی خواړه موندل کېږی. له هغه وخته چی متحده عربی اماراتو په اقتصادی توګه وده پیل کړی؛ ډېری پانګه اچوونکی یی راجلب کړی، چی دا ښار په سیمه او نړۍ کی یو مهم اقتصادي مرکز ګرځېدلی دی. دوبۍ په نړۍ کی ځینی خورا مشهور اسمانی ودانۍ لری چی له لاری یی خپل بی سیاله معماری ننداری ته وړاندی کړی. د 395 اسماني ودانیو سره دوبۍ د جوړښتونو او لوړو ودانیو له مخی په نړۍ کی څلورم ښار دی. د دوبۍ ښار څو بندرونه لری چی د دوبۍ د سوداګریز او سیاحتی پل په توګه معرفی کولو کی خورا مهم لري؛ دوه اصلی بندرونه یی بندر رشید او بندر جبل علی دی. دوبۍ د معماری، سوداګری، اقتصاد، سیاحت او نورو په برخه کی د پرمختګ له امله اوس د فارس خلیج د ناوی په توګه پیژندل کېږي. په لوړ او خورا ښکلی برجونو کی د بشپړ اسانتیاو سره پاتی کیدل ممکن د هر چا خوب وی، چی په دوبۍ کی دغه خوب په رښتیا بدلېږی. د دوبۍ تفریحی مرکزونه دا دي: د دوبۍ ایکویریم، IMG دوبۍ تفریحی پارک، موشن ګیت پارک، سافاري او نور دي.

**د مکران نړیوال هوایي ډګر** 3 لوکس ټرمینلونه لري، نړیوال الوتنې د 1 او 2 ترمینلونو څخه تیرېږي او کورني الوتنې د دې هوایي ډګر له 3 ترمینل څخه تیرېږي. د مکران هوایي ډګر د ترمینل ۳ مساحت ۱۵۰۰۰۰۰ مربع متره دی، چې د مساحت له پلوه په نړۍ کې تر ټولو لویه ودانۍ ده. د مکران هوایي ډګر سوداګریز کمپلیکس لري چې د ډیوټ فیري په نوم یادیږي. **المکتوم هوایي ډګر** په دوبۍ کې یو له نورو هوایي ډګرونو څخه دی، چې لومړی پړاو یې په ۲۰۱۰ کال کې پرانیستل شو. دا هوایي ډګر د جبل علي سیمې ته نږدې موقعیت لري او د جبل علي بندر ته هم نږدې دی. دغه هوایي ډګر ته په لومړي پړاو کې څه دپاسه ۲٤٥۰ زره ټنه کارګو او پنځه ملیونه سیلانیان تللي دي، چې د نړۍ ترټولو لوی هوایي ډګر لقب اخلي.


https://www.karnaval.ir/blog/introduction-istanbul

https://www.eligasht.com/Blog/travelguide

https://ps.wikipedia.org/wiki

https://www.ghasrangasht.com/city/dubai/

https://www.epersianhotel.com/mag/dubai

# غزل

## عبدالباري جهاني

ما چي خوب ليدلی وو تعبير يې ريښتيا کيږي
سيند د اباسين به له هيلمند سره ګډيږي
ورونه به له سواته تر کنړه اولسونه وي
زموږ به په رګونو کي يوه وينه بهيږي
نوري به تربور ته توري کښلي سترګي سرې نه وي
وراني د پېړيو، په قرنونو کي ښخيږي
نور به د خوشحال توره يوه، د ټولو خپله وي
شرنګ د کندهار به تر اټک پوري رسيږي
ږغ د منظور ويښ کړل د پېړيو له درانه خوبه
وار د پښتنو دی د زمرو په څېر غوريږي
اوس به د غليم د غلامانو جنازې وينو
ښار به مو د شيخ پر هديره باندي نخيږي
چاچي پښتونخوا د پنجابي خاوره بللې وه
ځي به له ناسيالو سره مخ به يې توريږي
چاچي تويي کړي پښتنې شهيدي ويني دي
اور د انتقام به يې په مېنه کي بليږي
نور به جهاني هم « ګيله من» شعرونه نه ليکي
زموږ له حماسو به د غليم خونه لړزيږي.

د ۲۰۲۴ کال

د جولای شلمه، ويرجينيا.




# غزل

## عبدالباري جهاني


زېری زېری مي دربانديي له هيلمند تر اباسينه
له هر کلي ناره پورته يوه خاوره يوه وينه
له کنړ تر کندهاره له هري تر ننګرهاره
نن هغه خبره اورو چي چا نه کوله سپينه
له غازي ميونده راغلې د شهيد ګيله من چيغي
مورچل يو دی وطن يو دی يو مو قهر يوه مينه
ستا قدم ته مي سلام دی د شهيد ګيله من موري
چي يې خاوره د بابا کړه په زلمیٖ وينه سنګينه
تور او سور زرغون بيرغ به پر خپلواک وطن رپيږي
تر نامه به يې جاريږي له بګړیٖ تر لونګينه
دلته ښخي پر هر ګام دي ککریٖ د برېتورو
مېړني دي چي ياديږي په سندرو تر ناورينه
له اورنګه تر فرنګه دلته توري چلېدلي
څوک په تېښته بيرته تللي چا سينه کړه پکښې خوړينه
د بې ننګو به په لاس وي تور بنګړي د پنجابيو
مېړنو ته رسېدلې ازلي توره رنګينه
نن دي وي سبا به به وزي په تور مخ په ټيټو سترګو
که پنجاب که يې غلام دی له دې پاکه سرزمينه
جهاني چي راته ستايې کارنامې د مېړنيو
دا غزل به وي ليکلې د دېوان پر مخ زرينه.

د ۲۰۲۴ کال د جولای د مياشتي شپږويشتمه، ويرجينيا.



# د بې خوبه سیوري رڼاگانې

## لیکوال: عبدالرشید سعادت




شعر د انساني فطرت عاطفي او تخیلي انعکاس دی، چې د شاعر انسان د وجدان په هېنداره کې انځورېږي. یا شعر هغه موخیله او اهنگینه وینا ده چې د تخیل په رنگ کې کلمې غوټه کړي او د انسان د زړه خبره په یو قالب یا بند کې ونغاړي. شاعر له نورو اغېزمن دی او پر نورو اغېزه کوي، دا دوه اړخیزه اړیکه د هنر په دنیا کې د ژوند پېژندنې لار ده. هر شاعر چې دا لار ومونده، نو په حقیت کې یې د خیال او ښکلاوو ابدي جزیره فتحه کړه او خپل مقام یې ومونده.

بې خوبه سیوری زما د گران استاد پوهنمل گل رحمن رحماني نوی چاپ شوی اثر دی چې د ځوانیمرگ شاعر فرید باراني پر شاعرۍ یې نوستالژیکه او اروایي څېړنه کړې ده، دا کتاب شپږ برخې لري، د ځوانیمرگ شاعر پېژندنه، اثار، باراني او شعر، د باراني د شعر ارواپوهنه، د شعر نوستالژي او باراني د نورو له نظره یې د برخو خلاصه ده. که زه د خپله له انده ووایم ما باراني صیب لیدلی نه و، زه په بغلان پوهنتون کې محصل وم، یوه ورځ کوم ملگري اتاق ته ورځپاڼه راوړې وه، هغه مې لوستله چې د باراني پر انځور مې سترگې ولگیدې د هغه په اړوند لیکل شوی متن مې ولوسته د ځوانیمرگ کیدو کیسه یې په کې راغلې وه، دا یې نه وو ویلي چې چېرته، د چا له خوا او ولې مړ شو؟ د شعر نمونې ته یې ورغلم دغه غزل یې په کې لیکلی و:

په دمه تللي وو له هغې خوا ستړي راغلو
معلومه نشوله چې ولې لاړو ولې راغلو
د زماني غاښونه تېز لکه د مار د زهرو
مونږ یې له پاسه څه په وېره پرې ختلي راغلو
خدایه چې ته د کومې ورځې د راتلو تږی وې
د گناهو تورې جامې مو اغوستلي راغلو
په کومه لاره چې د مار په لکۍ وختلو
په هغه لاره کې له پرې ډاریدلي راغلو
ونو یې سترگې دېوالونو یې غوږونه لرل
فکر مو وکړلو چې چا نه یو لیدلي راغلو
لا څوک زمونږ له بیا راتللو نه خبر هم نه ول
لکه باران د دروازې تر څنگ غلي راغلو

په دې ورځپاڼه کې یې څو شعرونه وو، کله چې رحماني صیب د بغلان په پوهنتون کې استاد شو نو یوه ورځ هغه دوه کتاب راکړل چې د یوه نوم یې سکوت سندرې وایي او بل یې د باراني یاد و. دا کتابونه مې مطالعه کړل د یوه پر پښتۍ غزل راغلی و دغه بیت یې د ځوانیمرگ باراني له مرگ سره تړلی و:

د قبر خوله مې د شعرونو پر کتاب وتړئ
چې مې د خاورو پر ځای واخلي ټول مزار غزلې

د باراني په اړه مې معلومات لا غښتلي شول، د هغه په اړه مې د پوهانو نظرونه ولوستل د شعر او شاعرۍ اړوند مې پوهه

ډېره شوه، يوه ورځ بيا رحماني صاحب په کڅوړه کې څو کتابونه راکړل چې په هغې کې د باراني کليات هم و، زړه مې باغ باغ شو له کابله تر غوربند پورې مې ولوسته خو خلاص نه شو، کور ته چې ورسيدم نو پوره مې مطالعه کړ او يوه ليکنه مې هم پرې وکړه چې هغه ليکنه په تاند کې خپره شوې.

د بې خوبه سيوري اصلي موضوع د فريد باراني د شعر رواني او نوستالژيکه څېړنه ده، چې په دې کتاب کې په ځينو نورو موضوعات بيان کړي چې هغه موضوعات دا دي: د نوموړي په ژوند شاعرۍ، نور نومونه، د باراني شعر، د شعر اراپوهنه او د شعر نوستالژي. هره برخه به يې په لنډه توګه معرفي کړم.



باراني د بادغيس ولايت اوسيدونکی دی د لېسې زده کړې يې په هرات کې کړې. د لېسې له زده کړو وروسته ننګرهار پوهنتون انجينري پوهنځي سېول څانګې ته بريالی کېږي له انجينري يې زړه توربېږي، کابل ته راځي طب پيلوي په وروستيو کې يې له طب هم زړه توربېږي انګلسي او د قرآن کريم تفسير لولي او فکر پرې کوي. د يو تجسس ذهن په درلودو سره يې سرګردانه روح په افغانستان تېنګ نه شو تر برلين پورې ورسيده او هلته يې د اسلام دين په اړه له يهوديانو سره بحثونه وکړل کله چې يې هغوی مات کړل نو د اوسپنې په ميله يې وواهه او دغه سرګردانه انسان يې د ژوند له رنګين بڼ څخه رخصت کړ. په هغه ورځ چې يې د ځوانيمرګ جنازه له برلين څخه کابل ته راوړله يو څو خواخوږو يې د کابل په هوايي ډګر کې انتظار وېسته آسمان غمګين و او له درده يې اوښکې راروانې وې، د څه ځنډ وروسته د سرګردانه انسان جنازه کابل ته راورسيده هرات ولايت ته يې ولېږدوله مور، خويندو او ورونو يې د مسافر ځوانيمرګ په وير ډېرې کريکې ووهلې او د جمعې له لمانځه وروسته يې د تنهايي په کور کې د تل لپاره د سکون ساه واخيستله.

په بې خوبه سيوري کې د باراني تخلص يو شاعرانه کيفيت بلل شوی دی. د تخلص په ټاکنه کې د ده فکر دا وه چې انسان بايد يوازې د ځان لپاره ترلی او محدود نه وي، دا په دې فکر کې دی چې نورو ته ورسېږي، د خير ښېګڼې تلپاتې يا نه دربدونکې روحيه ورسره وي، باران هم همداسې دی په وچه، غره، اغزي او ګل يو ډول وربېږي. طراوت، زرغونتيا او د اوبو زېری او خوښي رامنځته کوي.

د باراني شاعري فطري ده او طبيعي اړخ لري. کسبي او تقليدي نه وه، د شعر وړانګو يې د هغه د درون ليد لوري او فکر له ډېوې څخه رنګ اخيستی و. د شعر په تيورۍ کې د شاعر کيدلو سرچينې بېلابېلې دي، چې رحمان بابا درد ښودلی دی. خوشحال بابا محبت ورسره ملګری کړی دی. د باراني د شاعرۍ سرچينه درد دی چې درد يې ټولنيز او ټول شموله دی. باراني د لومړۍ شعري ټولګې په سريزه کې ليکلي دي:(( زه په خپل ژوند کې يو څه چې ډېر ځورولی يمه، هغه زما د زړه نهايي بې موجبه درد و او همدغه عامل و چې نن دا کتاب ستاسو مخې ته پروت دی، زما هغه شپې اوس هم ياد دي چې ژوند ته مې صرف همدومره وصيت درلود.))

مرګ راته ښه دی ژونده غلی شه ساه مه راکوه
د دې ناکامه ضمير شاه ته پناه مه راکوه
ځينې وخت به مې له خولې دا چيغه ووتله:
په دغه ښار کې چې خندا يې د ژوندون مالګه ده
غوږ راته ونيسئ چې زه هم په ژړلو ارزم

باراني له غضنفر صيب سره په مرکه کې ويلي دي چې زما شاعري له دوه شيانو اغېزمنه ده يو الهام او بل خپله تاثر دی. په طبيعت کې چې ما هر څه ليدلي که هغه محرک وي او که نه وي نو پر ما يې اغيزه کړې ده او په اړه مې يو څه ليکلي دي. فريد باراني په پښتو او دري ژبه شاعري کړې ده، ډېرى شاعري يې په پښتو ژبه کړې ده. په ټوله کې د باراني د شاعرۍ غوره ځانګړنه د نويو ترکيبونو کارول دي، ده داسې ترکيبونه وکارول چې پخوا چا کارولي نه وو؛ لکه: د مېږيانو د لښکر حسادت، د سترګو تبسم، د لېونتوب مبارکي، ږنګ تحمل، له بخارۍ نه ساړه څڅېدل... .

پورته مې اشاره وکړه چې باراني په دري ژبه هم شاعري کړې ده. د محتوا او ژانر له اړخه يې دري او پښتو شاعري سره غاړه غړې ده يو تر بل يې دومره زيادت نه ښکاري د کميت له اړخه يې د پښتو شاعرۍ تله درنه ده دواړو ژبو ته يې له زړنه کار کړی او هېڅ کله يې د نشنليستۍ له زوايې نه دي کتلي:

پښتو مې زړه دی او دري مې د زړه سر دی قسم

زه له دې دواړو نه بغير اوسېدلای نه شم

د باراني دري شاعري هم له احساساتو مالامال ده دلته به يې يو غزل وړاندې کړم:

قطره در دامن اين باد منم

ها اگر شکی بيفتاد منم

به سيه ديده ی من خوب ببين

نگار يک صدو هفتاد منم

آنکه در آتش سوزان رسيد

و آنکه در فلسفه زاد منم

اشک می بينی و باغ می بخشی

در پی روی تو معتاد منم

پرده صبر به نفس پوشيدی

ها بيا دستت مريزاد منم

عشق در دامن گلريز تويی

ناله در دامن گلزاد منم

آب دادی به جان ز استغناء

دانه در خرمن آباد منم

ابرها گريه کنان از من خيست

حال ببين مست منم شاد منم

حمل امانت هستيم تمام

حيرت مسئله بنياد منم

زده در قطره ی بويناک جهش

حکم جاويد خدا داد منم

**د باراني د شعر ارواپوهنه**

اروا پوهنه هغه علم دی چې د انسان کړه وړه او روحي ښکارندې په کې په علمي او مسلکي ډول څېړل کېږي. اروا پوهنه له ادبياتو سره داسې ده لکه نوک او اوږۍ يو د بل بشپړوونکي دي. باراني په شعر کې ځان د يو اروا پوه په څېر راڅرګند کړی دی، ځکه چې د هغه د شعر موسيقي او اهنګ يو ډېر خوږ او رواني تناسب لري، کله د غره د وياليو په څېر له شور او غورځنګ څخه ډک وي او نړدې بوټي ټول په شور راولي کله د سمندره په شان ارام روان وي. د باراني رواني تصويرونه د فلسفې، عرفان او په ځانګړو اساطيرو روايتونو ولاړ دي. دلته يې د غنم د سرليک لاندې يو رواني شعر وړاندې کوم:

**غنم**

بې پاسه ژوند دی کنه

هر څه د کاشکې سره نه ختمېږي

بايد حسرت ووژني

او خپل پاسته لاسونه

د ژوندانه د ستومانيو په ايرو ولړې

تر څو چې ټولو ته جوته شي چې

د يو انسان د غلطيو د جبران لپاره زجر کاږو

او د هماغه ممنوعه مېوې لپاره چې پرې وشړل شوو

لا هم په ځمکه کې خاره واره يو

او د يوې ګولۍ ډوډۍ لپاره

او د يو څو بې پته ورځو، تورو شپو په خاطر

د خپل نيکه زړو خوبونو ته جنت جوړوو

غنم په اصل کې يو لفظ دی خو تر شا يې د آدم ع لويه کيسه پرته ده چې د پښېمانۍ او پر خاورينه ځمکه د زجر داستان پروت دی. د ژوند د ستومانيو او اړونو انځور ګري ده. د باراني په شعرونو کې ډېر ارواييي شعرونه شته دي.

د باراني د شعر نوستالوژي

نوستالوژي په اصل کې يوناني کلمه ده چې د درد او بېوزلۍ، يا وطن ته د بېرته ستنېدو سودا ته وايي. کله دا کلمه په همدې مانا سره د لومړي هومر په اوديسه کې د اتل اوليس لپاره کارولې چې د تېرای له جګړو وروسته د کور کلي په يادونو کې په زړه تنګۍ جګړه کوي، تل يې ښکلې مېرمن او زوی ورياديږي. نوستالوژۍ د ارواپوهنې او طب وروسته د هنر دروازه ټکولې ده. په هنر او ادبياتو کې بيا د نوستالوژۍ کلمه د رواني ناروغۍ يا د کرکټرونو د رواني ستونزو په سبب نه وه، بلکې د رواني او طبي متونو خلاف په رومانټيکو احساساتو واوښته، شاعر او اديب د تخيل او اسطورو په مرسته خپلې ماضي ته لاس ورکړ او د استوګنې په نوي چاپېريال کې د غبرګون مانا غوره کړه.

نوستالوژي شاعرانو او ليکوالانو په بېلا بېلو ماناوو کارولې ده، هوګو له وطن څخه د لرې والي او درد په مانا کارولې ده. بودلر د نورو هېوادونو سره د مينې او ورکو شيانو سره بېرته د مينې او پالنې په مانا کارولې ده. د باراني د شعر نوستالوژي په محتوايي لحاظ د تېر ارمان، له حال شکايت، يوازيتوب، ناهيلي، له خلکو زړه بدوالی، د نړۍ بدرنګی، مادي او معنوي غربت، مرګ، وروسته پاتې والی او د يوې اېډيالې خيالي او تر اوسه مبهمې نړۍ(ارمان ښار) له يادونو څخه جوړه ده.

**د تېر ارمان:**

ماشومتوب ښه و د دردونو ارزاني خو نه وه

د څيز ژړا وه څه خبره د زړګي خو نه وه

مستقبل خوبونه:

د قبر خوله مې د شعرونو په کتاب وتړئ

چې مې د خاورو پر ځای واخلي ټول مزار غزلې

له حال شکايت:

زه يې چا لره وهم قدر يې چا زده

په اور وسوځه دا توري قلمونه

انديښنې او رواني سرګرداني:

کله چې انسان د ځمکې پر مخ پښه ايښې نو د انديښنو باد هم پرې راغلی دی، تل په انديښنه کې وي. هر څومره چې يې ژوند ارام وي بيا هم يوه انديښنه يې زوروي. په ټوله کې انسان هېڅ وخت له انديښنې او وسواسې خالي نه دی. باراني هم له دې انديښنو خالي نه دی:

زه يې تر شا پلی انديښنې مې له ما وړاندې اوس

دا رټلی عشق به نور څه چارې په ما کاندې اوس

يا:

هم يې روح هم يې وجود راته شل کړی

پيدا شوی يو ښامار مې په بدن کې

ډلې ډلې انديښنې ورته را درومي

سم جوړ شوی يو مزار مې په بدن کې

انديښنې هغه ناروغۍ ته ورته دي چې ستړيا او خپګان دواړه له ځان سره لري. باراني مخکې روان دی او انديښنې يې ورپسې روانې دي، دومره يې کړولی يم نه پوهېږم چې نور به څه راباندې کوي. د دې اثر د نومونې وجه هم د باراني د شعر له يوه عنوان څخه اخيستل شوې ده، چې هغه شعر په لاندې ډول دی. البته دغه شعر يې په دې اثر کې راغلی نه دی بلکې په کلياتو کې يې راغلی دی:

بې خوبه سيوری

له کوم احساس نه

چې تا خپلې ارادې څارلې

ما د هماغه احساس
په مضطربه لاره
خپل د مسیر په وارخطا مزل کې
د ژوندانه بې خوبه سیوري تر پښتو لاندې کړل
او ذهنیت له مکررو انګازو نه مې
د عشق په قیمت
هغه ناولي تور غړونه ټول کړل
چې په لمانځه کې به یې هم مزاحمت کولو
او نیمه شپه به یې هم نه پرېښودې
چې یو آرامه خوب ته غېږه کښېږدې
ما د ژوندون د دې بې خوبه سیورو
د ورکېدو قاطع تصمیم نه درلود
زه مې د هیلو په محشر کې داسې ورک او لېونی ښه ومه
خو خدایزده چا راته په غوږ کې ووې:
چې ژوند آرام نه لري

لکه اوبه روان دی
د ټولېدو لپاره لپه غواړي
جام نه لري

په ټوله کې په دغه اثر کې د باراني د ژوند، شاعرۍ، زده کړو په اړه ښه خبرونه شوي، یوه نوې موضوع ده تر دې دمه ما داسې کوم څوک لیدلي نه دي چې د یو شاعر د شاعرۍ په اړه یې اروایي او نوستالژیکه څېړنه کړې وي. موضوع نوې ده او همدا د یوې غوره موضوع ځانګړنه ده، چې باید نوی والی ولري.

رحماني صیب د باراني د شعر رواني او نوستالوژیکه څېړنه ډېره ښه کړې، د هرې موضوع اړوند یې بېلګه راوړې او بیا یې تشریح ورکړې ده. دا اثر کومه ژبنۍ ستونزه نه لري، نثر یې روان دی او په ټوله کې د څېړنې له اصولو سره برابر دی په دې هیله چې نورې څېړنې هم وکړي او د پښتو ژبې او ادب پر بڼ نورې لوروني وکړي.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

**له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکې ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه**

**د دعوت بانکی پته: DNB Bank AC # 0530 2294668**
**له ناروی بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668**
**د ویپس شمېره: Vipps: #557320**

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# د ناروې میشتو هېوادوالو د پام وړ!

**ناروېژي پښتو قاموسStor Norsk-Pashto Ordbok**

هغه هېوادوال چې په کور، کمپ، لیلیه، ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون، کارځای او سیمه اییز کتابتون (Bibliotek) کې یې تر اوسه ناروېژي پښتو قاموس نه وي نو کولای شي چې د خپل ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایز کتابتون څخه د ناروېژي پښتو قاموس (Stor Norsk-Pashto Ordbok) غوښتنه وکړي تر څو یې ورته واخلي تاسو یواځې هغوئ ته د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د اس بی این ISBN شمېره ورکړئ نور هغوئ پوهیږي چې څنګه یې ترلاسه کړي. د ناروې په هر کمون، ښوونځي، پوهنځي او پوهنتون کې یوه او یا له یوې ډېر کتابتونونه وي .

د کتاب نوم :

ناروېژي پښتو قاموسStor Norsk-Pashto Ordbok

د لیکوال نوم:

محمد طارق بزګر Mohammed Tariq Bazger

اس بی این:ISBN: 978-82-691395-0-1

په شخصي ډول یې په لیلستروم Lillestrøm کې د دعوت میډیا مرکز څخه تر لاسه کولی شئ .




د ویپس او یا هم بانکي اکونټ ته د ۵۰۰ کرونو په رالیږلو به کتاب ستاسې په پوستي ادرس تر تاسو درورسیږي.

د معلوماتو له پاره په لاندې شمېره او همدا شمېره د ویپس له پاره کارولی شئ: 90856195


د دعوت میډیا بانکی اکاونټ شمېره: 2294668 0530

او یا هم د ویپس د لارې90856195 :

د هر ډول معلوماتو له پاره زموږ د تلیفون شمېره: 90856195 سره په اړیکه شئ.

# د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنیز مرکز ویاړي چې د خپلو نورو فرهنګی فعالیتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ویبپاڼو تر څنګ په دې وروستیو یو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طریقه او د کتاب بیه او پوستي بیه ښوول کیږي.





## یوه افغانه ښاپیرۍ په کییف کې

**لیکوال محمد طارق بزګر**

۱/ دا کتاب چې د یوې ریښتنې پېښې له مخه لیکل شوی او د افغان جګړې د ناخوالو، نتیجو ، تاثیراتو او په ټولنه او خلکو یې اغیز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د یوې افغانۍ د دردونکې او تریخ ژوند کیسه چې بلاخره بدلمنی ته مجبوریږي.

د کتاب بیه ۱۵۰ ناروېژي کرونه یا د هغې معادل او پوستي د لیارې ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).

---





## ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې)

لیکوال ارواښاد مصطفی عمرزی

۲/ دا کتاب چې د دعوت رسنیز مرکز او مسئول مشر بیلابیل فعالیتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د ګټې له پاره نه دی مینه وال یې یوازې د چاپ د مصرف په ورکولو سره تر لاسه کولای شي د کتاب د چاپ بیې تر څنګ پوستي مصرف یې ۷۰ کرون یانې (۷) ډالرو په ورکړې سره تر لاسه کولای شي.


## زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)


۳/ د ژوند، کار، فعالیتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډیر څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړیا ډول یوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژۍ کرون یا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي وغواړي ورته لیږل کیږي.




۴/ **کله چې طوطي والوت** د ماشومانو له پاره د یو ناروېژي کتاب ژباړه ده د کتاب لیکوال انتون ایسپیرو او ژباړن یې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلی قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بیه ۱۰۰ کرون یانې (۱۰ ډالر) ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر ګوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنیز مرکز څخه د قیمت په بدل کې وغواړي.

---






۵/ په انګلیسي ژبه د کییف ښاپیرۍ (An Afghan Beauty in Kiev) چې لیکوال یې محمد طارق بزګر دی د یوې ریښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوی چې په ټوله کې د جنګ جګړو د ترخو ناخوالو له امله د یوې افغانې د ژوند دردونکې کیسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبوریږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ ناروېژي کرون یاني ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کیږي چې د


## ناروېژي - پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

٦/ چې د محمد طارق بزګر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له ناروې بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه ګټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حلیږي یا په بل عبارت د لومړي ټولګې تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتني کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۵۰۰

قیمت په ورکړې سره د نړۍ هر ګوټ ته مینه والو ته لیږل کیږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، ګاونډیانو، ملګرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.

------------------------------------------------------------




ناروېژي کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

د لیکوال نوم: محمد طارق بزګر

**Mohammed Tariq Bazger**

ایس بی این شمېره: ISBN: 978-82-691395-0-1


د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې یې د دعوت رسنیز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنیز مرکز د ویپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږئ ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو درورسیږي.

د دعوت رسنیز مرکز دفتر Dawt Media Center
Voldgt. 37A 2000 Lillestrøm, Norway
Mobil: +0047 90856195 Tel: +0047 63844384

# افغانستان: رښتیا پلټنه


## لیکوال: بروس ګ. ریچارډسن

## ژباړن: رحمت اریا




/۷ دا کتاب چې د امریکایی لیکوال ښاغلي بروس ریچارډسن د بیلابیلو مقالو پښتو ژباړه ده چې ټول ۶۴۸ مخونه او د ۵۰۰ ټوکو په شمېر خو کاله وړاندې د دعوت رسنیز مرکز له خوا په پېښور، پښتونخوا کې د چاپ په ګاڼه ښکلی شوی دی. کتاب ټول د معتبرو اسنادو په مټ لیکل شوي چې د لیکوال د لسیزو کار ثمره ده. دا کتاب په ځانګړي ډول د شمال ټلوالې د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډیر اسناد ښکاره کوي چې مسعود په څه ډول د روسانو یا د وخت د شوروي اتحاد سره اړیکې درلودې او په څه ډول یې د هغوئ له پاره یا د هغوئ په ګټه کار کاوه.

د دې کتاب مینه وال کولی شي دا کتاب د ناروې په لیلیستروم ښار کې د دعوت رسنیز مرکز څخه ترلاسه کړي. او هم یې هېوادوال د پوست د لارې تر لاسه کولای شي د کتاب بیه ۲۰۰ کرون او پوستي مصرف یې ۱۲۵ نارویژي کرون کیږي.




# Afghanistan Ending the reign of Soviet Terror

## By: Bruce G. Richardson


/۸ دا کتاب د امریکایي لیکوال ښاغلی بروس ګ. ریچارډسن د زیار نتیجه ده. کتاب ټول ۱۸۰ مخونه لري. دا کتاب په افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل په موده کې افغانستان او سیمې ته د لیکوال د مختلفو سفرونو د لیکنو او د هغه مهال د ځینو عکسونو په بر کې نیوونکی دی. دا کتاب هم د شورویانو سره د شمالي ټلوالې د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډیر معتبر اسناد ښکاره کوي او د هغه چا له پاره چې غواړي پوهه شي چې احمد شاه مسعود څوک او څه یې کول او څه یې وکړل ډیر ښه او معتبر لاسوند دی.

دا کتاب هم کلونه وړاندې د دعوت رسنیر مرکز له خوا په انګلیسي ژبه چاپ شوی د کتاب مینه وال یې د ۱۵۰ کرونو په بدل کې د دعوت رسنیز مرکز څخه تر لاسه کولای شي. او هم هېوادوالو ته د پوستې د لارې (۱۵۰ + ۵۵= ۲۰۵) کرونو په بدل کې لیږل کیدای شي.

---

# Afghanistan: A Search for Truth

By: Bruce G. Richardson




۹/ دا کتاب د امریکایي لیکوال ښاغلی بروی ریچاړډسن د کلونو زیار او خېړنو مجموعه ده. کتاب ټول ۴۸۰ مخونه لري او د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوی دی. دا کتاب هم د ٦٩ مقالو او څو لیکونو ټولګه ده. لیکوال د افغانستان او افغانانو سره د ډیري مینې او اخلاص له امله له نورو لویدیځو او امریکایی لیکوالو سره څرګند توپیر لري او د لویدیځ له ګڼو زیات یې د افغانستان ګټې محترمې ګڼلی دي.


د دې کتاب لوستل د هر افغان په ځانګړي ډول هغوئ چې په انګلیسي پوهیږي او غواړي د خپل هېواد له وروستیو څو لسیزو او د شوروي د اشغال له مهال څخه کره معلومات تر لاسه او ځان باخبره کړي د دې کتاب لوستل ورته اړین دی. دا کتاب د افغانانو غیر افغاني دوستانو ته چې په انګلیسي پوهیږي خورا ښه ډالی ده.

دا کتاب هم د ناروې په لیلیستروم ښار کې د دعوت رسنیز مرکز څخه د ۱۵۰ ناروېژي کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شئ.

او هم يې هېوادوال او مینه وال د پوست د لارې (۱۵۰ + ۱۲۵= ۲۷۵) کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شي.

## دعوت رسنیز مرکز لاندې کتابونه په کابل کې هم ترلاسه کولی شئ

دعوت رسنیز مرکز لاندیني نوي خپاره شوي کتابونه چې مخکې په اروپا کې چاپ شوي وو اوس له ښه بخته د وطنوالو د پرله پسې غوښتنو له امله یې په کابل کې د بیلابیلو کتابپلورنځیو تر لاسه کولی شي




# پری افغان در کییف

نویسنده: : محمد طارق بزګر


مترجم: دُرخانی ذهین


صفحات: ۱۱۴

سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ،

د دریېمې ناحیې کوڅې ته نږدې،

میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان.




## کله چې طوطي والوت

**ژباړن: محمد طارق بزګر**


**مخونه: ۹۶**

**د لاس ته راوړلو ادرس:**

**سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې،**

***میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان.***

- **مازیګر کتابپلورنځي، مینه یار مارکیټ، کوټه سنګي، کابل**




## د کیف افغانه ښاپیرۍ

**لیکوال: محمد طارق بزګر**

**مخونه: ۱۱۳**

**د لاس ته راوړلو ادرس:**

- **مازیګر کتابپلورنځي، مینه یار مارکیټ، کوټه سنګي، کابل**
- **سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې،**

***میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان.***





## Land of Mountains and Dreams: Stories from Afghanistan Poem

In a land where mountains touch the sky so high,
A place of wonder, where tales never die.
Afghanistan's the name, where stories find their way,
A land of ancient wonders, where dreams hold sway.
From Kabul's bustling streets to Kandahar's warm embrace,
A mix of different cultures, in this amazing space.
With every step you take, history does unfold,
In Afghanistan, where tales are treasured, we're told.
Beneath the blazing sun, where people work and strive,
In rugged lands, where only the strongest survive.
Their hands have shaped a place, wild and free,
In Afghanistan, where unity's the key.
The Panjshir Valley's meadows, so green and wide,
A tranquil paradise, where dreams coincide.
In opulent bazaars, where treasures always gleam,
In Afghanistan, where hopes shine like a beam.
The Silk Road's ancient path through desert sands,
Connecting hearts and distant lands.
Trade and knowledge, shared with grace,
In Afghanistan, where different cultures find their place.
Through history's twists and turns, through trials and strife,
With wars and conflicts testing life.
Yet, resilient spirits always find a way,
In Afghanistan, where hope leads the day.
From Herat's grandeur to Bamyan's ancient eyes,
Beneath the starry Afghan skies.
A land of joy, a land of sorrow,
In Afghanistan, there's hope for tomorrow.
The call to prayer, a soothing sound,
In towns and villages, all around.
In mosques and shrines, devotion's pure,
In Afghanistan, faith's the ultimate cure.
The Hindukush's peaks, where eagles take flight,
In nature's beauty, there's pure delight.
The colors of sunset, a breathtaking view,
In Afghanistan, there's always something new.
So, let's celebrate this land so grand,
With hearts of silver and golden sand.
In Afghanistan, where history's unfurled,
A place of endless stories in a changing world.

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you**

**www.dawatmedia24.com**

# Afghanistan Affirms Timeless Wisdom: "No War Without Tea" – A Symbol of Hospitality

**By: Humayoon Babur**

Legend has it that on the morning the Russians captured Bukhara, the city's crier was still on his horse, announcing through the streets. Upon hearing this, some elders exclaimed, "We haven't even had our tea yet! There can be no war without tea." As they paused for tea, Russian soldiers halted at their doorstep, confiscating their food. May 21st marks International Tea Day, celebrating one of the world's most beloved beverages. However, for many—Afghans, tea has become a staple part of their —daily meals due to its affordability.

In Afghanistan, some impoverished families rely heavily on tea and dry bread to sustain themselves amid economic hardships. Ahmad Shah, 36, a resident of Kabul, shared his struggles, stating, "I'm currently unemployed and spend most of my time at home. My main sustenance is bread and tea. Having these simple comforts brings me happiness amidst my struggles. The situation is tough, with financial difficulties and challenges abound."

Social affairs expert Wazma Fitrat highlights the widespread economic challenges facing Afghan families, "where many cannot afford more nutritious meals." Additionally, some Afghans have developed a habit of consuming numerous cups of tea daily. At the same time, many believe drinking tea, especially at dawn time, can help prevent cancer. Rezwan Ullah, 24, in Kunar province, shared how his grandfather, who recently passed away due to cancer, used to drink tea every morning without adding anything. Despite its prevalence, the import of green and black tea into Afghanistan continues to rise. However, the exact impact of this importation remains unclear.

Tea holds a prominent status among Afghans, serving not only as a favored beverage for alleviating fatigue but also as a symbol of—hospitality and a means of coping with economic challenges.

"The economic condition of Afghan citizens is dire. Many households lack the financial means to afford varied food items, resorting to tea as a staple. Some cannot even afford tea or cold water, relying on dry food due to unemployment." Said Rezwan Ullah. As we observe International Tea Day, the United Nations recognizes tea's significance globally, particularly in supporting livelihoods in both developed and underdeveloped nations. Tea has a rich history dating back thousands of years, with its origins believed to trace back to regions in India, Myanmar, and China.

Tea is not only a beverage but also a symbol of hospitality, fatigue relief, and poverty alleviation in Afghan culture. Its consumption has become deeply embedded in daily life, from welcoming guests to alleviating boredom.

The Afghanistan Chamber of Commerce and Investment reports a significant increase in the import of green and black tea into Afghanistan. However, while the import numbers are high, the impact on local economies and consumption patterns remains unclear.

According to official records from the Chamber of Commerce of Afghanistan it brought in 74,000 tons of green and black tea from various countries last year. "Our imports include tea sourced from Malaysia, Indonesia, Vietnam, Singapore, Bangladesh, India, and China. In Afghanistan, black tea is more commonly consumed, although green tea is also popular." On International Tea Day, people around the world are encouraged to reflect on the cultural and economic significance of tea. As cups are raised in celebration, it's important to remember the millions of families worldwide whose livelihoods rely on this — humble beverage.




**LET AFGHANS DETERMINE THEIR OWN FUTURE IN THEIR OWN COUNTRY AFGHANISTAN**

societies. In such societies, heroic songs and poems are popular.

If we look at Afghan history, the most praised individuals in all tribes are those who destroyed the country the most and killed many people. There is little mention of those who did something for the country's reconstruction.

In civilized and advanced societies, the issue of alternatives is also raised, but there the alternative is created within the framework of the law. It depends on the people whether they create a good alternative or a bad one. If they create a good alternative, the system works well; if they create a bad alternative, the system works poorly.

Among Afghans, raising the issue of alternatives is fundamentally wrong. No one can be an alternative to anyone. We heard the issue of alternatives during the time of King Zahir Shah, during President Daoud's time, during the time of Taraki, Amin, Babrak Karmal, and Dr. Najib. We heard about alternatives during President Karzai's time, and we heard the same issue during Dr. Ashraf Ghani's time that they have no alternatives. We also heard about alternatives during Mullah Omar's time, and even after his death, it was said that he had no alternative, but an alternative was found for each one in its time. An alternative will definitely be found for the Taliban and Sheikh Haibatullah (if he is the same Sheikh Haibatullah from Kuchlak).

The phrase "no alternative" is fundamentally an insult to forty million Afghans, implying that among forty million Afghans, there is not a single person who can be an alternative to someone else. The main question is whether their alternative should be created based on the law of the jungle, where another predator emerges and eliminates them, or should all live, work, and engage in politics under the shadow of the law and create an alternative within the framework of the law? Discussing individuals and alternatives is fundamentally wrong because Afghanistan's past history has proven that under the law of the jungle, no one is a good alternative to another.

The right thing is to discuss systems and laws instead of individuals, to move away from the law of the jungle so that processes, systems, and laws can create alternatives. After having laws, it depends on the people what kind of alternatives they choose. Under the framework of the law, there should be no politics of exclusion and monopolization of power. Power always goes to the group that is organized. If the Taliban are organized, they will take power with the people's consent because the people will want such individuals, and if others are organized, they will take power and everyone will have the right to live, work, and engage in politics within the framework of the law.

For this reason, the Pro-Democratic Republic Movement of Afghanistan (PDMA) opposes all kinds of power sharing and inclusive government but supports inclusive processes within the framework of the constitution. In an inclusive government, a few people are prominent, and a few people occupy the nation's share. In an inclusive process, the nation is prominent, not individuals. The result of an inclusive process within the framework of the constitution can bring stability, protect the rights of all Afghans, prevent war and conflict, improve governance, and ultimately allow Afghans to breathe peacefully.

**Support Dawat Media Center**

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668

Account for international payments: NO15 0530 2294 668

Vipps: #557320

**www.dawatmedia24.com email: dawatmedia@gmail.com - dawatafghanmedia@gmail.com**

**Dawat Media Center: V/ M. Tariq Bazger, Voldgata. 37A, 2000 Lillestrøm NORWAY**

**LET AFGHANS DETERMINE THEIR OWN FUTURE IN THEIR OWN COUNTRY AFGHANISTAN**

# Do the Taliban have an alternative or not?



By: Shahmahmood Miakhel

Some people consciously or unconsciously raise the issue that the Taliban have no alternative and that this is a reality that must be accepted. We will analyze and examine these two issues of "alternative" and "accepting reality" to see if they are correct or not.

If the discussion is about accepting realities, then the monarchy of King Zahir Shah was also a reality. Why did President Daoud stage a coup? President Daoud's republic was also a reality, why did the PDPA (People's Democratic Party) stage a coup? The PDPA government was also a reality, why did the Mujahideen fight against it? The Mujahideen were also a reality, why did the Taliban fight against them? The republic was also a reality, why did the Taliban carry out suicide bombings and explosions against the republic and the people? This second round of Taliban rule is also a reality, why do millions of Afghans hate them and flee the country? The devil is also a reality, why do mullahs preach against him every day?

The issue here is not about accepting or rejecting realities. The issue is that the struggle, war, or whatever name you give it against all these realities was because a group or a person came to power. These individuals and groups created policies of exclusion and monopolization of power. To seize power, they would inevitably create narratives, garner support from their own and outsiders, create fear and hatred, justify unjust actions, and consider just actions unjust. They create a vicious circle to maintain power, enforcing the law of the jungle.

In the jungle, the lion is also a reality, but other animals either flee from it or fight against it. In the jungle, the strong prey on the weak, and when the jungle's lion weakens, another strong one emerges to replace or eliminate the previous one. This new lion rules until another strong one emerges and replaces it.

The situation in Afghanistan over the past centuries, especially in the past five decades, has been like this. The main issue is whether Afghans accept the law of the jungle or live together under a legal framework?

If the issue is about accepting realities, then the Taliban should also accept and consider the brief history of the past five decades, because that too is a reality. The Taliban themselves have experienced this bitter reality. Why were they removed from power, and what happened to them over the past two or three decades? Let's move away from the law of the jungle. Let all Afghans live, work, and engage in politics within a legal framework. The politics of exclusion and monopolization of power should end. Afghans should learn from bitter past experiences that the law of the jungle cannot continue and that another predatory lion will inevitably emerge to prey on its own people and eliminate the previous lion.

The second issue is the question of "alternatives". This too is a foreign narrative that has been whispered into the ears of Afghans in various ways for years. In this narrative, based on the law of the jungle, the qualities of a predatory animal are described, such as someone being a great commander, a brave warrior who killed many, and that there is no one like him. It is said that another son will not be born to take his place. A few days ago, I wrote in an article that Afghans have been bitten multiple times from the same hole, but they still haven't learned.

Here, some Afghans, out of fear, the pursuit of wealth, power, and positions, praise living predatory animals. They write poems, articles, and make propaganda in their praise. They speak on television and radio about past eras. Some foreigners and domestic actors lobby that Taliban brought country under one rule. Some of these realities are true, while some are their slanders and lies. These poems, writings, and praises are repeated in gatherings and places to create a false and fictional narrative of bravery and to accept the current reality. Such praises, heroic poems, and songs are characteristics of backward and primitive

LET AFGHANS DETERMINE THEIR OWN FUTURE IN THEIR OWN COUNTRY AFGHANISTAN

visuals served as a powerful tool to counteract the abstract and fear-based allegations with concrete evidence of multi-ethnic collaboration and prosperity.

4. Strategic Messaging: The Taliban's messaging emphasized themes of national unity and development. By framing the canal project as a national initiative designed to benefit all Afghans, regardless of ethnic background, the Taliban sought to transcend ethnic divisions and position themselves as the guardians of national interest and development.

Effectiveness of the PR Campaign

The Taliban's PR efforts were met with varying degrees of success. On one hand, their proactive engagement and use of local testimonials managed to garner support among some segments of the population, particularly those directly benefiting from the canal project. The visual and anecdotal evidence provided a compelling counter-narrative that was difficult to dismiss outright. However, the underlying ethnic tensions and historical mistrust among Afghanistan's diverse communities have always been susceptible to manipulation by opposition within and outside Afghanistan. While the PR campaign may have alleviated some immediate concerns, the long-term effectiveness in altering deeply entrenched perceptions remains uncertain.

**Broader Implications**

The Taliban's handling of the Qosh Tapa canal controversy highlights several key aspects of their governance and communication strategy:

1. Adaptability to Modern Media: The Taliban's adept use of social media and digital platforms indicates a significant evolution from their previous media strategies. They are increasingly aware of the importance of winning hearts and minds in the digital age.
2. Emphasis on Development Projects: By focusing on infrastructure and development projects, the Taliban aims to demonstrate their capability to govern and bring tangible benefits to the populace. This approach seeks to legitimize their rule domestically and internationally.
3. Challenges of Ethnic Integration: The persistent ethnic tensions underscore the complexities of governing a multi-ethnic nation. The Taliban's success in managing these tensions will be a crucial determinant of their long-term stability and legitimacy.

**Conclusion**

The Qosh Tapa canal case study illustrates the Taliban's nuanced approach to public relations in the face of opposition narratives. While their efforts to portray the project as a unifying and beneficial endeavor achieved some success, the underlying ethnic divisions pose ongoing challenges. The Taliban's ability to navigate these challenges will be crucial as they continue to consolidate power and seek broader acceptance both within Afghanistan and on the international stage.

**Support Dawat Media Center**

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.**

**Thank you**

**د دعوت رسنيز مرکز ملاتړي شئ!**

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي يا لويه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پياوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنيز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امريکايي ډالر يا يورو مرسته وکړئ - دا يوازې يوه دقيقه وخت نيسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره مياشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!

**به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!**

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر.

DAWAT

www.dawatmedia24.com

ISBN 978-82-691395-2-5

Vol. 252 April-June . 2024

DAWAT is independent publication. Established in 1988. DAWAT is not associated with any political organization. The views and ideas expressed in DAWAT are those of the writers and are not necessarily those of the editor. All letters and articles sent to the editor are welcomed but will not be returned.

Editor and Publisher: M. Tariq Bazger,

Dawat Media, V/ M. Tariq Bazger
Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm, NORWAY
Tel. +47.63844384 Mobil. +47-90856195,
dawatmedia@gmail.com
AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

# The Taliban's Public Relations Strategies: A Case Study of the Qosh Tapa Canal



**By: Ahmad Fawad Arsala**

In the intricate web of Afghan politics and social dynamics, the Taliban 2.0 public relations (PR) campaigns have become a focal point of their governance strategy. Analyzing the PR efforts surrounding the Qosh Tapa canal irrigation project offers a window into how the Taliban navigates and counters opposition narratives in the digital age.

The Controversy: Allegations of Ethnic Engineering

The Qosh Tapa canal, a major irrigation project aimed at channeling water from the Amu River to arid regions in northern Afghanistan, became a lightning rod for controversy. Critics and online opposition groups widely accused the Taliban of using the canal project as a covert means to relocate Pakistani Pashtuns into predominantly non-Pashtun areas, thereby altering the region's ethnic composition. This narrative played into deep-seated fears of ethnic marginalization and demographic manipulation, resonating particularly among Uzbek, Turkmen, and Tajik communities in the north.

The Taliban's Counter-Narrative

In response to these allegations, the Taliban launched a comprehensive PR campaign to refute the claims and reshape public perception. Their strategy was multifaceted, leveraging various media platforms to present a cohesive counter-narrative.

1. Local Farmer Testimonials: The Taliban produced and disseminated numerous reports featuring not only Uzbek and Turkmen farmers working around the canal but also dispatching Turkmen and Uzbek-speaking reporters. These reports highlighted the tangible benefits the project brought to local agriculture, including increased crop yields and improved livelihoods. By showcasing real-life beneficiaries from ethnic groups purportedly at risk of displacement, the Taliban aimed to dismantle the narrative of ethnic engineering.
2. Social Media Engagement: Recognizing the power of social media in shaping public opinion, the Taliban mobilized pro-government influencers and content creators on platforms like YouTube and Twitter. These influencers produced videos and posts documenting the positive impact of the canal on local communities, often featuring interviews with local residents who praised the project.
3. Visual Evidence: High-quality videos and photographs were circulated to visually affirm the presence and benefits for Uzbek and Turkmen farmers. These